


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقیده پوهنه

www.melitahrik.com
0777 400 116

قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل

۱۳۹۳ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب ځانګړنې :


د کتاب نوم: عقیده پوهنه

لیـــکوال : قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل

خپرندوی: د ملي تحریک فرهنګي څانګه

د خپرندوی پرله پسې نومره: (۱۳)

کمپوز: ظفر اقبال

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰

چاپ وار: لومړی

چاپکال: ۱۳۹۳ل


www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | د دین لومړی بنسټ | ۱ |
| ۲ | د دین دوهم بنسټ | ۳ |
| ۳ | د دین درېیم بنسټ | ۱۲ |
| ۴ | د دین څلورم بنسټ | ۱۸ |
| ۵ | د نړیوالو عقیدې | ۲۰ |
| ۶ | کافران | ۲۱ |
| ۷ | زندیقان | ۲۹ |
| ۸ | مسلمانان | ۳۱ |
| ۸ | مذاهب | ۳۴ |
| ۹ | په فروعو کې د صحابه وو او تابعینو د اختلاف اسباب | ۳۵ |
| ۱۰ | د فقهاوو د مذاهبو د اختلاف اسباب | ۳۹ |
| ۱۱ | د اصحاب الرای او اهل حدیث ترمنځ د اختلاف سببونه | ۴۴ |
| ۱۲ | د خاوند تعالی پېژندنه | ۵۲ |
| ۱۳ | د الله تعالی پېژندنې ته اړتیا | ۵۳ |
| ۱۴ | د الله تعالی پېژندنې فطري غریزه | ۵۶ |
| ۱۵ | په علم د خدای تعالی پېژندنه | ۶۰ |
| ۱۶ | خاوند تعالی پېژندنه په مادي فلسفه کې | ۶۵ |


www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | عقل | ۷۵ |
| ۱۸ | احتمالي خطر | ۷۸ |
| ۱۹ | حدیث هلیله | ۸۱ |
| ۲۰ | اضطراري منطق | ۸۵ |
| ۲۱ | میتافیزیکي منطق | ۹۱ |
| ۲۲ | خدای پېژندنه په دین او فلسفه کې | ۹۷ |
| ۲۳ | خدای پېژندنه د یونان فلسفه کې | ۹۹ |
| ۲۴ | سوفستایان | ۱۰۳ |
| ۲۵ | خدای پېژندنه د ابي کوریایانو او رواقیانو له نظره | ۱۱۲ |
| ۲۶ | خدای پېژندنه د نویو افلاطونیانو له نظره | ۱۱۷ |
| ۲۷ | خدای پېژندنه د مسلمانانو فلاسفه وو له نظره | ۱۲۰ |
| ۲۸ | خدای پېژندنه د غرب د معاصرو فلاسفه وو له نظره | ۱۲۸ |
| ۲۹ | د خدای پېژندنې عقیدې اثبات | ۱۴۲ |
| ۳۰ | د توحید عقیده | ۱۴۵ |
| ۳۱ | ماخذونه | ۱۵۰ |


www.melitahrik.com 0717 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریک یادښت

فرهنګي څانګه د افغانستان ملي تحریک له اساسي څانګو څخه یوه ده. د دې څانګې دنده داده چې هېوادوالو ته فرهنګي خدمات وړاندې او ګټور فرهنګي کارونه ترسره کړي. د تاریخي، ملي، کلتوري ورځو او تاریخي او ملي شخصیتونو نمانځل د دې څانګې نورې دندې دي.
د هېواد د لیکوالو د علمي، دیني، روزنیزو او معلوماتي اثارو چاپ هم د دې څانګې له اساسي دندو څخه ګڼل کېږي. له هغې ورځې راهیسې چې تحریک خپل عملي فعالیتونه پیل کړي دي، نو د دې څانګې هم ورسره سم خپل فعالیتونه چټک کړي دي. تاریخي ورځې یې نمانځلي، تاریخي واټونو ته یې لوحې جوړې کړي. علمي سیمینارونه او ورکشاپونه یې جوړ کړي دي.
د تحریک د دې څانګې د تحریک د عمومي هدفونو په رڼا کې وټبیله چې په یوځایي ډول (شل عنوانه) کتابونه چاپ کړي. په دې اثارو کې اکثره دیني او علمي اثار شامل دي چې درنو هېوادوالو ته یې وړاندې کوي.
دا اثر (عقیده پوهنه) چې ستاسو په لاس کې دی، ښاغلي (قاضي حفیظ الله ښاد جبارخېل) لیکلی او د همدغو شلو عنوانو اثارو له جملې څخه دی. هیله ده درانه لوستونکي ترې ښه ګټه پورته کړي. تحریک خپلو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې په راتلونکي کې به هم خپلو دې ډول هڅو ته دوام ورکړي.

د هېواد د فرهنګ د بډاینې په هیله
په درناوي
د افغانستان ملي تحریک
فرهنګي څانګه

www.meltahrik.com 0777400116

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د دین لومړی بنسټ

## نوې او پوره امنت بالله

اٰمَنْتُ بِاللّٰه بِوَجُوْدِه الْوَاجِبِ وَ اَسْمَائِه وَ صِفَاتِه وَ تَوْحِیْدِه بِلاَ شَرِیْکٍ وَ
قَضَائِه وَ قَدَرِه وَ اِسْتِوَائِه عَلَی الْعَرْشِ بِلاَ کَیْفٍ وَ غَیْرِ مُحْتَاجٍ اِلَیْه
کَسَائِرِ الْمُتَشَابِهَاتِ الْقُرْاٰنِ مَا هُوَ اَعْلَمُ بِمُرَادِه وَ بِرَبُوْبِیَتِه وَ تَنْزِیْهِه مِنَ
الشِّرْکِ وَ الْکُفْوِ وَ الْمِثْلِ وَالشَّبِیْهِ وَالْوَلَدِ وَالْوَالِدِ وَ النَّوْمِ وَالْاَکْلِ وَ
الشُّرْبِ وَ الزَّمَانِ وَ الْمَکَانِ وَ الْجِسْمِ وَ الْاِحْتِیَاجِ وَ کُلُّ مَا یُنَافِیْ
بِاُلُوْهِیَّتِه وَ بِمَلٰئِکَتِه وَ کُتُبِه وَ اَنْبِیَائِه وَ قَبِلْتُ جَمِیْعَ اَحْکَامِه وَ اَرْکَانِه وَ
بِخَبْرِ مِعْرَاجِ رَسُوْلِه وَ بِوُقُوْعِ عَلاَمَاتِ یَوْمِ الْقِیَامَةِ وَ اَسْئِلَةِ النَّکِیْرِ وَ
الْمُنْکَرِ وَ الضُّغْطَةِ وَ التَّنْعِیْمِ وَ التَّعْذِیْبِ فِی الْقَبْرِ وَ بِاِحْیَاءِ الْمَوْتٰی وَ
بِالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَ حِسَابِه وَمِیْزَانِه وَ بِحَوْضِ مُحَمَّدٍ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمْ وَ
شَفَاعَتِه وَ بِاِزَاعَةِ کُتُبِ الْاَعْمَالِ وَ قَدْرِ الْخَیْرِ وَ الشَّرِ مِنَ اللّٰه تَعَالٰی وَ
بِالصِّرَاطِ وَالْجَنَّةِ وَ الْجَحِیْمِ وَ بِرُؤْیَتِه فِی الْجَنَةِ وَ اِقْرَارٍ بِالّلِسَانِ وَ
تَصْدِیْقٍ بِالْقَلْبِ وَ بِجَمِیْعِ مؤمن بِه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژباړه

په الله ایمان لرم او د هغه په واجب وجود او په نومو، صفتو بلاشریکه توحید، قضا او قدر یې او په بلا کیف استوا کې په عرش باندې چې احتیاج ورته نه لري، لکه د قرآن نورو مشابهاتو باندې چې دی یې په مراد ښه پوهیږي او په ربوبیت یې او په تنزیه یې له شرک، سیال، مثل، شبیه، ولد او والد، خوب، خوراک، څښاک، زمان، مکان، جسم، احتیاج او په پرښتو یې، کتابو یې، انبیاوو یې او د ده ټول احکام مو منلي دي او په خبر د معراج د رسول یې او په راتلو د علامو د قیامت باندې او په پوښتنو د نکیر او منکر او کیښکلو، تنعیم او تعذیب په قبر کې او په ژوندي کولو د مړو او په ورځ د آخرت او په حساب یې، په میزان یې او د محمد صلی الله علیه وسلم په حوض او شفاعت کولو یې او په عملنامو او له الله تعالی د خیر او شر په اندازه کولو او په پل صراط او په جنت او دوزخ او په لیدلو د الله په جنت کې او اقرار په ژبه دی او تصدیق په زړه.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دین دوهم بنسټ

اسلام لـه پنځـو بنـاوو لـومړی بنـا د اسـلام مقـدس دیـن (ایمـان، اسـلام او شرایع) منل یعنې ایمـان راوړل او مسـلمانیدل او ټـول شـرایع منـل دي، چې سم له بلوغ سره شاهدي ووايي پر دې، چې:

((لا اله الا الله محمد رسول الله))[1] ینـې نشـته لایـق د عبـادت مگـر الله دی او محمد د الله رسول (اسـتازی) دی. او تصـدیق وربانـدې وکـړي او ایمـان لـرل دي پـر دې چې الله او د الله تعـالی پرښـتې، کتابونـه، رسـولان، د قیامـت ورځ، د خیر او شر اندازه له الله تعالی څنې ده. پس له مړینې ژوندي کیـدل، حساب، میزان، جنت، دوزخ، د الله تعالی نومونه، ذاتي او فعلي صفتونه، د انبیاوو معجزې، قبر کې د اولیاوو کرامات، شفاعت د انبیاوو، حوض د نبي صلی الله علیه وسلم، په قیامت کې قصاص او قبر کـې جسـم تـه د روح اعاده، د نکیـر او منکـر پوښـتنې، ضـغطه، تنعیم او عـذاب پـه قبر کـې، د معراج خبر، د قیامت له علامو د دجال، یاجوج ماجوج راوتل، لـه لویـدیز د لمـر راختـل، د عیسـی علیـه السـلام نـزول او نـورې علامـې چې صـحیحو احادیثو کې بیان شوي دي حق او ثابـت دي او عملنـامې نیکـانو تـه پـه ښـي لاس او بدانو ته په چپ لاس د قیامت په ورځ ورکول کیږي.

او ایمان لرل دي پر دې چې:

۱_ الله واحد دی شریک نه لري نه له حیث د عدد څکه چې عدد اصعاف او اجزا لري او الله تعالی له هغو منزه دی.

---

[1] . یو ځلی سم له بلوغ د کلمې ویل فرض دي او که چا وویل چې کلمه ووایه او یا په خپلـه چا په جهر کلمه ویله پر تا د هغې ویل واجبیږي او غیر له هغه به نورو حالاتو کې یې چې ثـومره وایي مسـتحب ده، کـه ثـوک کـافر شي بیـا د ذکـر شـوې کلمـې ویـل وربانـدې فرضـیږي. (د اسلام پنځه بناء د سرمحقق قاضي حفیظ الله ښاد جبارخیل تالیف)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲_ الله نه زيږيدلی دی، نه څه شی ترې زيږيدلی دی، نه سيال لري، نه مشابه او نه ده ته څه شی ورته دی.
۳_ الله او د الله تعالی نومونه، ذاتي او فعلي صفتونه قديمي او ابدي دي.
۴_ نوی نوم او صفت نه ورته پيدا کيږي، فاعل الله تعالی دی او مخلوق يې مفعول دی او د الله فعل مخلوق نه دی، د الله تعالی صفتونه ازلي دي نوي پيدا شوي نه دي. که څوک يې مخلوق يا نوی پيدا شوی وبولي هغه کافر کيږي.
۵_ قرآن مجيد د الله تعالی کلام دی. په مصاحفو کې ليکل شوي، په زړو کې حفظ شوی او په ژبو قرائت شوی او پر نبي صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی، زمونږ تلفظ او ليکل په قرآن باندې مخلوق دی. او الله تعالی چې په قرآن کې د موسی او نورو انبياوو عليهم الصلوة والسلام او د فرعون او ابليس خبرې ذکر کړې دي ټولې د الله تعالی خبرې دي چې د هغوی اخبار دی نو د الله تعالی کلام مخلوق نه دی او د موسی او نورو مخلوقاتو کلام مخلوق دی او قرآن د الله کلام دی، نه د هغوی کلام.
۶_ موسی عليه السلام د الله تعالی کلام اوريدلی دی هغه کلام چې د الله تعالی ازلي صفت دی او د الله تعالی ټول صفات په خلاف د مخلوقاتو له صفاتو دي. ځکه چې الله تعالی پوهيږي نه زمونږ د خبرو غوندې، اوري نه زمونږ د اوريدنې غوندې له دې امله چې مونږ په ژبه الاتو او حروفو خبرې کوو او الله تعالی بې له الاتو او حروفو خبرې کوي. حروف مخلوق دی، او د الله تعالی کلام غير مخلوق دی.
۷_ الله تعالی شی دی نه لکه نور اشيا يعنې الله تعالی شی دی په دې معنی چې الله تعالی ثابت دی جسم نه لري، جوهر او عرض نه دی، واجب الوجود دی، ضد او مثل نه لري.
۸_ الله تعالی يد، وجه او ___ لري، چې د ده بلاکيف صفات دي، له يد يې قدرت نه مراديږي ځکه چې قدرت يې جلا صفت دی نو که يد او قدرت يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څېز وګڼل شي بیا د یوه صفت بطلان منځته راځي نو ید یې جلا بلا کیف صفت دی. لکه غضب او رضا یې چې بلا کیف صفتونه دي.

۹ـ الله تعالی اشیاء له کوم شي نه دي پیدا کړي، الله تعالی د اشیاوو په پیدا کولو مخکې د هغو له پیدا کولو په هغو ازل کې علم درلود. الله تعالی هغه ذات دی چې د اشیاوو اندازه او فیصله یې کړې ده. نو په دنیا او اخرت کې هیڅ نه شته مګر په مشیت د ده کې دي او په علم د ده کې دي او په قضاء (حکم) او تقدیر د ده کې دي او په لوح محفوظ کې لیکلو د ده کې دي لیکن لیکل یې په وصف دي نه په حکم.

۱۰ـ قضاء، قدر او مشیت د الله تعالی ازلي بلا کیف صفتونه دي، نو معدوم باندې د هغه د عدم په حال کې علم لري چې معدوم دی او پوهیږي چې موجودول به یې څرنګه وي؟

او الله تعالی په موجود د هغه د وجود په حال علم لري، چې موجود دی، او وروباندې پوهیږي چې فنا به یې څرنګه وي، او الله تعالی په ولاړ د هغه د ولاړې په حال هغه باندې علم لري چې ولاړ دی او کله چې کښیني بیا یې په ناسته د هغه د ناستې په حال علم لري. بې له دې چې په علم کې یې تغییر راشي یا علم ورته پیدا شي ځکه چې تغییر او اختلاف د مخلوق په نزد منځ ته راځي.

۱۰ـ الله تعالی خلق له کفر او ایمان خالي پیدا کړل بیا یې مخاطب کړل بیا یې حکم ورته وکړ او منع یې کړل نو هغه څوک چې په خپل فعل خپل انکار او خپل جحود کافر شوی دی ویې نه منل ځکه چې الله تعالی هغوی وښویول او هغو چې په خپل فعل خپل اقرار او خپل تصدیق د الله تعالی په نصرت چې ورسره و ومنل او ایمان یې راووړ.

الله تعالی د ادم علیه السلام اولاد د هغه له شار اوویستل عاقلان یې کړل نو مخاطب یې کړل، امر یې ورته وکړ او منع یې کړل نو اقرار یې په ربوبیت ورته وکړ نو دا د دوی له خوا ایمان شو چې په همدغه فطري ایمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تولد کیږي نو څوک چې پس له هغه کافران کیږي هغوی فطري ایمان بدل او تغییر کړی وي او چا چې ایمان راووړ باور یې وکړ پر هغه فطري ایمان ثابت پاتې شو او دوام یې ورکړ، او هیڅوک یې له خلکو په کفر او ایمان مجبور کړی نه دی، بلکې اشخاص یې پیدا کړي دي. ایمان او کفر د بندګانو فعل دی. الله تعالی څوک چې د خپل کفر په حال کې کافر کیږي په کفر پېژني او که دغه ایمان راوړي د خپل ایمان په حال کې یې مؤمن پېژني او محبوب یې ګڼي بې له دې چې د علم یا بل صفت یې پرې تغییر شي.

۱۱_ د بندګانو ټول افعال: حرکت، سکون په حقیقت کې د دوی خپل کسب دی چې الله تعالی پیدا کړي او دا ټول یې د ده په مشیت د ده په علم او د ده په قضا او د ده په تقدیر سره دی.

۱۲_ طاعات چې څومره دي ټول واجب دي په حکم د الله تعالی او په محبت د ده او په رضا د ده او په مشیت د ده او په قضاء د ده او په تقدیر د ده او معاصي ټول د ده په علم د ده په قضاء او د ده په تقدیر او د ده په مشیت سره دي نه په محبت د ده سره او نه په رضا د ده او نه په امر د ده.

۱۳_ انبیاء علیهم الصلوة والسلام له صغیره او کبیره ګناهو، کفر او قبائحو منزه (پاک) دي، سهوې او ښویدنې ورځنې شوي دي او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه حبیب، بنده، رسول، نبي غوره کړی او پاک کړی شوی دی. د سترګو د رپ په اندازه یې د بت عبادت نه دی کړی او الله تعالی سره یې شرک نه دی نیولی صغیره او کبیره ګناه یې نه ده کړې.

۱۴_ وروسته له رسول الله صلی الله علیه وسلم له ټولو خلکو افضل ابوبکر الصدیق بیا عمر بن الخطاب، بیا عثمان ذو النورین، بیا علي بن ابي طالب رضوان الله تعالی علیهم اجمعین دي، په حقه عبادت کوونکي وو تل یې دوست ګڼو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول صحابه رضي الله عنهم په خیر سره یادوو.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۵ـ هيڅ يو مسلمان په ګناه کافر نه ګڼو که څه هم کبيره وي څو پورې يې چې حلال و نه ګڼي او د ايمان نوم نه ترې زايله کيږي. مومن يې بولو او دا درسته ده چې مومن په ګناه سره فاسق شي، نه کافر.

۱٦ـ مسح په موزو سنت ده.

۱۷ـ هر پاک او فاجر مؤمن پسې لمونځ کول جواز لري.

۱۸ـ نه وايو چې مؤمن ته ګناه ضرر نه لري او نه وايو چې دوزخ ته نه داخليږي. که فاسق له دنيا ايمان سره تللی وي نه وايو چې تل به په دوزخ کې وي.

۱۹ـ نه وايو چې زمونږ نيکۍ قبولې شوې دي او ګناهونه مو بخښل شوي دي (لکه مرجيه چې وايي) لکن وايو چې څوک نيک کار ټولو شرايطو سره سم وکړي له مفسدو او عيبو خالي وي او باطل شوی نه وي او له دنيا مؤمن تېر شوی وي نو الله تعالی يې نه ضايع کوي، بلکې قبولوي يې او ثواب يې ورکوي او کوم ګناهونه يې چې کړي وي غير له شرک او کفر څخه او توبه يې ترې نه وي ويستلې او مومن مړ شي دی د الله تعالی په مشيت کې وي که خوښه يې شي عذاب ورکوي او که خوښه يې شي بخښنه ورته کوي او ابدي يې دوزخ کې نه په عذابوي.

۲۰ـ ريا که په کوم عمل کې واقع شي ثواب يې باطليږي، تکبر هم همداسې دی.

۲۱ـ د انبياوو معجزې او د اولياوو کرامات حق دي او د الله د دښمنانو لکه ابليس، فرعون، دجال چې احاديثو کې يې بيان راغلی د هغوی خارق العاده کړنې نه معجزې دي او نه کرامات، بلکې د دوی د حاجتو پوره کيدل دي ځکه چې الله تعالی د خپلو دښمنانو حاجتونه هم پوره کوي، دوی مغروره کوي کفر او طغيان يې زياتوي، دا ټول کېدونکي او ممکن دي چې استدراج دې دوی ته عذاب پرې ورکول کيږي ځکه (استدراج) ورته وايي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی د مخلوق له پیدا کولو مخکې خالق دی او د روزۍ له ورکولو مخکې رازق دی. د الله تعالی رؤیت (لیدل) په اخرت کې حق دي. مؤمنان به یې په جنت کې د سر په سترګوویني. کوم شي ته به ورته نه وي، کیفیت به یې معلوم نه وي، د ده او د خلکو له مخه به یې فاصله نه وي.

۲۴_ ایمان: اقرار او تصدیق کول دي، ایمان د اسمان والاوو او د ځمکې والاوو نه زیاتیږي او نه کمیږي، ټول مؤمنان په ایمان او توحید کې سره برابر دي، په اعمالو کې یو پر بل زیاتوالی لري.

۲۵_ اسلام د الله تعالی اوامرو ته تسلیم او انقیاد (غاړه ایښودل) دي نو د لغت له پلوه د ایمان او اسلام ترمنځ توپیر دی او په شرع کې اسلام بې له ایمان نه وي او ایمان بې له اسلام نه وي نو دواړه لکه مخ او استر داسې دي.

۲۶_ دین: دین نوم دی د ایمان، اسلام او ټولو شرایطو.

۲۷_ الله تعالی پېژنو د ده په حقه پېژندنې سره هغسې چې ده په خپل کتاب کې خپل نفس بیان کړی دی په ټولو صفاتو سره.

۲۸_ هیڅوک نه توانیږي چې په حقه د خدای تعالی عبادت وکړي هغسې چې ده ته ښایي لکن عبادت یې کوي په امرد ده په کوم ډول یې چې حکم شوی دی.

۲۹_ ټول مؤمنان د الله تعالی په معرفت، یقین، توکل، محبت، رضا، خوف، رجا او ایمان کې سره برابر دي او غیر له ایمان نورو ځیزو کې متفاوت دي.

۳۰_ الله تعالی څښتن د فضل دی په خپلو بندګانو عادل دی کله څو چنده ثواب ورکوي هغه بنده ته چې لایق یې د فضل وي او کله خدای تعالی د خپل عدل له مخې خپل بنده ته په ګناه عذاب ورکوي او کله یې د خپل فضل له امله عفو کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۱ـ د انبیاؤ علیهم الصلوة والسلام شفاعت ثابت دی او د محمد صلی الله علیه وسلم د ګناه کارانو او د کبائرو ګناهو لرونکو لپاره چې مستوجب د عذاب وي شفاعت حق دی.

۳۲ـ د قیامت په ورځ په میزان کې د اعمالو وزن حق دی.

۳۳ـ د نبي صلی الله علیه وسلم حوض حق دی.

۳۴ـ د خصومو او مدعیانو ترمنځ د قیامت په ورځ قصاص اخستنه حق ده که څوک نیکي ونه لري نو د مدعي د ګناهونو اچول په دوی باندې حق دی.

۳۵ـ جنت او دوزخ جوړ دی هیڅکله نه فنا کیږي.

۳۶ـ حور عین هیڅکله نه مړې کیږي او د الله تعالی عقاب نه فنا کیږي او نه یې ثواب له منځه ځي.

۳۷ـ د الله تعالی چې چا ته خوښه شي په خپل فضل هدایت ورته کوي او که چا ته یې خوښه شي د خپل عدل له مخې په خپلو ګمراه کولو او خپلو خزلان کولو یې ګمراه کوي. د خزلان تفسیر داسې دی چې: خپل بنده ته په داسې څه توفیق نه ورکوي چې له ده پرې راضي شي او دا له الله تعالی عدل دی او همدارنګه د مخذول عقوبت د ده په معصیت باندې عدل دی.

۳۸ـ روا نه دي چې څوک ووایي: شیطان په زور او جبر له مؤمن بنده ایمان اخلي لکن ویل کیدلای شي چې بنده ایمان پریږدي دغه وخت کې یې شیطان ترې اخلي.

۳۹ـ په قبر کې د نکیر او منکر پوښتني، جسم ته د روح اعاده، ضغطه (کېښکل) د ټولو کفارو او مسلمانانو لپاره په عام ډول حق دي او عذاب ورکول کفارو او ځینې ګناه ګارو مؤمنانو ته په خاص ډول او همدارنګه نعمت ورکول صالحو مؤمنانو ته هم په خاص ډول حق دي.

۴۰ـ ټول هغه څه چې علماوو د الله تعالی له صفاتو په پښتو یا فارسي یا بلې ژبې ذکر کړي دي په هغه قول کول روا دي غیر له (ید، وجه) نو روا دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې څوک ووايي : بروى خدا عز و جل بې له تشبيه او كيفيت يا په پښتو (د خداى لپاره) بې د معنى، تشبيه او كيفيت په نظر كې نيولو سره.

۴۱_ د الله تعالى قرب او بعد له طريقه د طول او مسافې څني نه دى، بلكې په معنى د كرامت (عزت) او هوان (سپكوالى) دى نو مطيع ورته نږدې دى په بې لا كيف نږديوالي سره او عاصي تري لرې دى په بې لا كيف لريوالي سره، نږديوالى، لريوالى، مخامخ كيدل په مناجات كيږي او په جنت كې به همسايه گي سره او ودريده د خداى تعالى په مخكې بلا كيف دي.

۴۲_ قرآن په محمد صلى الله عليه وسلم نازل شوى دى. په مصاحفو كې ليكل شوي دي، د قرآن اياتونه د كلام په معنى ټول يو بل سره برابر دي. په فضيلت او عظمت كې مگر ځينې يې په ذكر كولو سره فضيلت لري لكه اية الكرسي چې د خداى تعالى لويي په كې بيان شوې ده او صفات يې په كې راغلي دي نو اية الكرسي كې دوې فضيلتونه دي يو د ذكر فضيلت او بل د مذكور فضيلت او ځينو ته يې يوازې د لفظ فضيلت دى لكه د كفارو قصې ځكه چې هغو كې يې مذكور فضيلت نه لري ځكه چې هغه كفار دي.

همدارنگه نومونه او صفتونه د الله تعالى ټول په فضيلت او عظمت كې سره برابر دي. په منځو كې يې تفاوت نشته.

۴۳_ د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پلار او د هغه تره ابو طالب د كفر او اسلام په برخه كې علماوو سكوت اختيار كړى دى. قاسم، ابراهيم يې زامن و. فاطمه، رقيه، زينب او ام كلثوم يې لورگانې وې.

۴۴_ كه د عقايدو په برخه كې چا ته مشكل پېښ شي سم له لاسه دې پوه عالم ته ورشي تاخير دې نه راولي او خپل شک دې وباسي او كه چا په كې توقف وكړ د كفر وېره يې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴۵**_ د قیامت له علامو د دجال، یاجوج او ماجوج راوتل، له مغرب د لمر راختل، د عیسی علیه السلام نزول له اسمان څخې او نورې چې صحیح احادیثو کې راغلي دي حقې او کیدونکې دي.

((والله یهدي من یشاء الی صراط المستقیم))

او د الله تعالی چې چا ته خوښه شي سمه لاره ورښیي.

(دا ټول له فقه اکبر څخې)

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دین درېیم بنسټ

## د امام اعظم ابي حنیفه رحمهٔ الله وصیت:

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د خپلې ناروغۍ په وخت کې خپلو اصحابو ته داسې وصیت وکړ:

زما ورونو او ملګرو الله تعالی دې توفیق درکړي! د اهل سنت او جماعت په مذهب کې دولس قسمه خصلتونه دي، ځوک چې دا خویونه ولري نه به مبتدع وي او نه به صاحب د هواء، نو تاسې دا خصلتونه ولرئ، چې د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم شفاعت مو د قیامت په ورځ په برخه شي او هغه دا دي:

۱ ـ ایمان: په ژبه اقرار او په زړه باور. یوازې اقرار ایمان نه دی ځکه که یوازې اقرار ایمان وی نو منافقان به ټول مؤمنان وای. همدارنګه یوازې معرفت هم ایمان نه دی ځکه که ایمان وي نو ټول کتابیان به مؤمنان وو.

الله تعالی د منافقانو په برخه کې فرمایلي دي: ((والله یشهد ان المنافقین لکاذبون)) یعنې او الله شاهدي وایي چې بېشکه منافقان خامخا دروغژن دي او د کتابیانو په برخه کې یې فرمایلي دي: ((یعرفونه کما یعرفون ابنائهم... الایه)) یعنې دوی پېژني دی لکه چې دوی خپل زامن پېژني.

ایمان زیاتی او کمی نه قبلوي ځکه چې د ایمان زیاتوالی نه متصور کیږي مګر په نقصان د کفر نو څنګه کېدلای شي چې یو شخص په یوه حال کې هم مؤمن وي او هم کافر. بل دا چې د مؤمن په ایمان کې شک نشته لکه چې د کافر په کفر کې شک نه وي. الله تعالی فرمایلي دي: ((اولئک هم المؤمنون حقاً و اولئک هم الکافرون حقاً)) یعنې دا کسان همدوی په حقه مؤمنان دي او دا کسان همدوی په حقه سره کافران دي، او د محمد صلی الله علیه وسلم د امت ګناه ګاران په حقه مؤمنان دي کافر نه دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲_ عمل غیر له ایمان او ایمان غیر له عمل دی ځکه چې ډېر ځلې عمل له مؤمن پورته شي نو روا نه ده چې وویل شي له ده ایمان پورته شوی دی. لکه حائضې نه چې لمونځ پورته کيږي او نه دي روا چې وویل شي : ایمان ترې پورته شوی دی او دې ته شریعت حکم کړی چې روژه پرېږده بیا یې قضایي ونیسه او روا نه ده چې ورته وویل شي ایمان پرېږده بیا یې قضایي راوړه. او دا روا ده چې مسکین ته وویل شي : په فقیر زکات نشته او دا روا نه ده چې ورته وویل شي چې په فقیر ایمان نشته، او که څوک ووایي : د خیر او شر اندازه له غیر د الله تعالی ځنې ده هرو مرو کافر کيږي او که توحید لري توحید یې باطليږي.

۳_ اقرار کوو چې اعمال درې قسمه دي: فرض، فضیلت او گناهونه نو فرض به امر د الله تعالی وي او په مشیت د ده او په محبت د ده او په رضا د ده او په قضا د ده او په تقدیر د ده او په ارادې د ده او په توفیق د ده او په تخلیق د ده او په حکم د ده او په علم د ده او په لوح محفوظ کې په لیکنه د ده. او فضیلت په امر د الله تعالی نه وي لکن په مشیت د ده وي او په محبت د ده او په رضا د ده او په تقدیر د ده او په توفیق د ده او په تخلیق د ده او په ارادې د ده او په حکم د ده او په علم د ده او په لوح محفوظ کې په لیکنه د ده.

او معصیت په امر د الله تعالی نه وي، بلکې په مشیت د ده وي او په محبت د ده او په قضا د ده، نه په رضا د ده، او په تقدیر د ده نه په توفیق د ده او په خذلان د ده او په دغه معصیت نیول کيږي ځکه چې د خدای تعالی په علم او لوح محفوظ په لیکنه کې وي.

۴_ اقرار کوو چې الله تعالی په عرش استوی کړې ده بې له دې چې حاجت ورته ولري او پر هغه قرار لري او دی د عرش او د غیر له عرش ساتونکی دی، که دی ورته محتاج وای د عالم په پیدا کولو او په تدبیر به یې قادر نه وو لکه مخلوق او که په عرش کښېناستلو او قرار ته محتاج وی نو مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عرش له پیدا کولو چېرته وو؟ نو الله تعالی له دې منزه دی په لوېې لوېی سره.

۵ـ اقرار کوو چې قرآن د الله تعالی کلام او د ده وحي نازل کړی شوی او صفت د ده دی نه عین او نه غیر د ده دی، بلکې په تحقیق هغه صفت د ده دی په مصاحفو کې لیکل شوی او په ژبو لوستل شوی او سینو کې ساتل شوی بې له دې چې څه شي کې حلول وکړي حروف رنګ، کاغذ او لیک یې ټول مخلوق دي ځکه چې د بندګانو افعال دي او د الله تعالی کلام مخلوق نه دی ځکه چې لیک، توري، ګړې او ایاتونه یې ټول د قرآن اسباب او الات دي چې بندګان ورته اړتیا لري او د الله تعالی کلام د ده په ذات قایم دی. د هغه معنی په دغو اشیاوو معلومېږي، که څوک ووایي چې د الله تعالی کلام مخلوق دی کافر کیږي. الله تعالی معبود دی همیشه دی لکه چې همیشه وو او کلام د ده لوستل کیږي، لیکل کیږي، یادول کیږي بې له دې چې له هغه ذایله شي.

۶ـ اقرار کوو چې د دې امت افضل شخص پس له نبي زمونږ محمد رسول الله علیه الصلوة والسلام ابوبکر دی، بیا عمر، بیا عثمان، بیا علي رضي الله تعالی عنهم اجمعین دي ځکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ((والسابقون السابقون اولئک المقربون فی جنت النعیم)) یعنې ړومبنی تلونکی ړومبنی ساتونکی دی. دا کسان له نزدیکانو د الله تعالی دی په جنتو د نعمتونو کې به وي هر هغه څوک چې ړومبی دی نو هغه غوره دی او هر پرهیزګار مؤمن باندې ګران دی او د هر شقي منافق بدا یسېږي.

۷ـ مونږ اقرار کوو چې بنده له خپلو اعمالو خپل اقرار او خپل معرفت سره مخلوق دی نو هر کله چې فاعل (کارکوونکی) له خپلو کارونو سره مخلوق دی نو په طریق اولی سره به مخلوق پیدا کړی شوی وی. دوی طاقت نه لري ځکه چې ضعیفان او عاجز دي، او الله تعالی خالق او رازق دی. لپاره د دې قول د الله تعالی چې فرمایلي یې دي: ((والله خلقکم ثم یمیتکم ثم

(c) ketabton.com: The Digital Library

یحییکم›› یعنې او الله پیدا کړئ تاسې، بیا تاسې مړه کوي بیا مو ژوندي کوي.
او په علم سره ګټه کول حلال دي او له حلالو جمع کول د مال حلال دي او جمع کول د حرام مال حرام دي.
خلق درې قسمه دي : په خپل ایمان کې مخلص مؤمن، په خپل کفر کې منکر کافر او په خپل نفاق کې مداهن منافق. نو الله تعالی په مؤمن باندې فرض کړی دی، په کافر یې ایمان راوړل فرض کړی دی او پر منافق یې اخلاص فرض کړی دی. په دلیل د دې قول د الله تعالی:
‹‹یاایها الناس اعبدواربکم›› یعنې ای مؤمنانو اطاعت کوئ درب خپل او ای کافرانو ایمان راوړئ او ای منافقانو اخلاص وکړئ.
۸ـ مونږ اقرار کوو چې قدرت او اطاعت له فعل سره دی، نه مخکې له فعل دی او نه وروسته له فعل دی؛ ځکه که له فعل مخکې وی نو بنده به د کار کولو په وخت کې له الله تعالی مستغني شي او دا د نص په خلاف دی لپاره د دې قول د الله تعالی : ‹‹الله تعالی غني دی او تاسې فقیران یې›› او که پس له فعل وای نو محال به و ځکه چې بې له فعل او بې له قدرته د یوه شي حصول امکان نه لري.
۹ـ اقرار کوو چې مسح پر موزو باندې جائزه ده د مقیم لپاره یوه ورځ او شپه او د مسافر لپاره درې شپې او ورځې ځکه چې حدیث شریف داسې وارد شوی دی. څوک چې ترې انکار وکړي د کفر وېره یې ده ځکه چې په متواتر حدیث شریف ثابت شوی دی او قصر او افطار رخصت دی په سفر کې د کتاب په نص چې الله تعالی فرمایلي دي ‹‹و اذا ضربتم فی الارض فلیس علیکم جناح علیکم ان تقصروا من الصلوة›› یعنې او هر کله چې سفر کوئ تاسې په ځمکه کې پر تاسې ګناه نشته چې په لمانځه کې قصر وکړئ›› او په افطار کې د دې قول د خدای تعالی په استناد چې فرمایلي یې دي : ‹‹فمن کان منکم مریضاً او علی سفر فعدة من ایام اخر›› یعنې نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک چې له تاسې څخه ناروغه وي یا مسافر وي نو هغه باندې په شمار سره دي د نورو ورځو (روژې نیول).

۱۰ ـ اقرار کوو چې الله تعالی قلم ته امر وکړ چې ولیکه: قلم وویل: څه ولیکم ای زما ربه؟ الله تعالی ورته وفرمایل: څه چې د قیامت تر ورځې پورې کیږي لپاره د دې فرمودې د الله تعالی ((و کل شیء فعلوه فی الزبر و کل صغیر و کبیر مستطر)) یعنې او هر شی چې دوی کوي په صحیفو کې او وړې او لویې لیکل شوي دي))

۱۱ ـ اقرار کوو چې د قبر عذاب کیدونکی دی او د نکیر او منکر پوښتنې ثابتې دي په دلیل د احادیثو چې په دې برخه کې وارد شوي دي.

جنت او دوزخ ثابت دي او دواړه پیدا شوي دي نه فنا کیږي په دلیل د دې قول د الله تعالی: ((اعدت للمتقین)) یعنې جنتونه د متقیانو لپاره تیار کړی شوي دي او د دوزخ په برخه کې یې فرمایلي دي: ((اعدت للکافرین)) یعنې تیار کړی شوی دی لپاره د کافرانو دواړه (جنت او دوزخ) الله تعالی د ثواب او عذاب لپاره پیدا کړی دی.

میزان حق دی په دلیل د دې فرمودې د الله تعالی ((والوزن یومئذن الحق)) یعنې او تول په دې ورځې حق دی.

او دا فرموده د خدای تعالی ((اقراء کتابک)) یعنې او ولوله کتاب (عمل نامه) خپله او ((و کفی بنفسک الیوم علیک حسیبا)) یعنې کافي دی نن ستا نفس پر تا باندې حساب کوونکی.

۱۲ ـ اقرار کوو چې الله تعالی دغه نفسونه پس له مړه کیدلو د قیامت په ورځې د سزا او ثواب او د حق ادا کولو لپاره راژوندی کوي په دلیل د دې فرمودې د الله تعالی ((و انالله یبعث من فی القبور)) یعنې او بېشکه چې الله تعالی به پورته کړي هغه ځوک چې په قبرونو کې دي)).

او د الله تعالی سره ملاقات د جنتیانو لپاره بلا کیف چې نه شبیه لري او نه جهت، حق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او شفاعت د محمد صلی الله علیه وسلم حق او ثابت دی هر هغه چا ته چې هغه جنتي وي که څه هم کبیره ګناه یې کړې وي.

او عائشه رضي الله عنها پس له حدیجة الکبری رضي الله عنها ځنې د ښځو افضله ده او دا د مؤمنانو مور، له تهمت نه پاکه ده.

او جنتیان به په جنت کې تل تر تله وي او دوزخیان به په دوزخ کې تل او همېشه وي په دلیل د دې فرمودې د الله تعالی په حق د مؤمنانو کې: «اولئک اصحب الجنة هم فیها خالدون» یعنې دغه کسان ملګري د جنت دي دوی به په هغه کې همېشه وي او په حق د کافرانو کې یې فرمایلي دي: «اولئک اصحاب النار هم فیها خالدون» یعنې چې دغه کسان ملګري د دوزخ دي دوی به په هغه کې همېشه وي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د دين څلورم بنسټ

## د عقيدې څلوېښت شمېرې:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي، چې:

۱_ په الله ایمان لره.
۲_ د اخرت په ورځ ایمان لره.
۳_ په پرښتو ایمان لره.
۴_ په کتابو ایمان لره.
۵_ په انبیاوو ایمان لره.
۶_ پس له مرگ نه په ژوندي کیدلو ایمان لره.
۷_ د الله تعالی له طرفه د خیر او شر په تقدیر ایمان لره.
۸_ شاهدي وایه چې: ان لااله الاالله و ان محمداً رسول الله.
۹_ په ښه کامل اودس لمونځ کوه.
۱۰_ زکوة ورکوه.
۱۱_ د رمضان روژه نیسه.
۱۲_ که مال لرې د کعبې شریفې حج وکړه.
۱۳_ په هره شپه او ورځ کې کم له کمه دوه دېرش رکعته لمونځ کوه.
۴+۱۰+۴+۵+۹ = ۳۲
۱۴_ په هره شپه کې وتر مه پرېږده.
۱۵_ الله تعالی سره هېڅ شی مه شریکوه.
۱۶_ د مور او پلار عاق نه ځان ساته.
۱۷_ په ظلم د یتیم مال مه خوره.
۱۸_ شراب مه څښه.
۱۹_ زنا مه کوه.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰_ په دروغو قسم مه خوره.
۲۱_ په ناحقه شاهدي مه وايه.
۲۲_ په خپل خواهش باندې عمل مه کوه.
۲۳_ د خپل مسلم ورور غیبت مه کوه.
۲۴_ محصنې ته قذف مه وایه.
۲۵_ مسلمان ورور مه غولوه.
۲۶_ لوبې مه کوه.
۲۷_ عبث کوونکو سره عبث کارونه مه کوه.
۲۸_ خنډ سړي ته د عیب په اراده خنډی مه وایه.
۲۹_ هیچا پورې تمسخر مه کوه.
۳۰_ د دوه ورونړو ترمنځ نمامي (چوغلي) مه کوه.
۳۱_ د خدای تعالی په نعمتو شکر باسه.
۳۲_ په بلا او مصیبت صبر کوه.
۳۳_ د الله له عذاب په امن مه اوسه.
۳۴_ له خپلوانو سره خپلوي مه قطع کوه.
۳۵_ خپلوانو سره خپلوي کوه.
۳۶_ د الله مخلوق کې هیچا باندې لعنت مه وایه.
۳۷_ تسبیح، تحمید تکبیر او تهلیل ډېر زیات وایه.
۳۸_ د جمعې او اخترو لمونځونه مه پرېږده.
۳۹_ پو شه چې هر هغه شیز چې تا ته رسیدونکی دی له تا به خطا نه شي او هر هغه خیز چې له تا خطا کیږي هغه به درونه رسیږي.
۴۰_ د قرآن قرائت مه پرېږده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نړیوالو عقیدې

www.melitahrik.com
0777 400 116


(c) ketabton.com: The Digital Library

# کافران

کفـر پـه لغـت کـې د انکـار، ناشـکرۍ او پټولـو معنـی لـري او د شـرع پـه اصطلاح کې کفر عبارت دی له مومن به شیزونو انکار کول یا یې سپکاوی که له یوه مؤمن به انکار وشي یا یې سپکاوی وشي بیا هم کفر بلل کیږي.

کافران هم په دوه ډوله دي: یو یې ملحدان (له خدای (ج) منکر) او بل یې د خدای (ج) منونکی او هر یو ډول یې څو ډولونه لري، چې د لاندې شکل سره سم یې هر ډول لنډ شرح کیږي.

د نړیوالو عقاید




## الحاد:

الحاد په لغت کې کږېدلو، مسخ، او لـه سمې لارې کـږې لارې تـه اوونښتلو ته وایي او پـه اصطلاح کـې هغـې عقیدې تـه وایـي، چې لـه مـادي شیزونـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته بل هیڅ نه مني. له مومن په شیونو بالکل منکر وي. کائنات د طبیعت او مادي تغیراتو مخلوق او پیدا ایښت بولي. صرف په ماده او مادیاتو ایمان او یقین لري، له مادي څیزونو اخوا څیزونو نه منکر وي، د دغې عقیدې څښتن ته ملحد او دغې عقیدې ته یې الحاد وايي.

**۱: ملحد :**

ملحد هغه څوک دی، چې له خدای (ج) او مادي شیانو اخوا څیزونو نه منکر او د پورته یاد شویو عقیدو لرونکی وي. دوی مختلفې ډلې لري چې ځینې یې دا دي :

۱_ دهریان (ماده پرستان) یا Matrealests ماتریالستان :

ماده پرستان غیر له مادي جهان نور هیڅ نه مني او کوم څه چې مني هغه هم د مادي تغیراتو نتیجه بولي، په دې عقیده روح او عقل د مادې تغیراتو نتیجه ګڼي، له خدای (ج) بالکل منکر دي، د کائناتو خالق طبیعت ګڼي، څه چې حس کېږي هغه مني او څه چې نه حس کیږي د هغو په موجودیت قانع نه دي.

۲_ کمونستان :

کمونستان ځانونه ماده پرستان بولي او د ماتریالیزم عقیده لري او د هغو په اصولو تګ کوي، د شخصي (فردي) مالکیت په خلاف او د ټولنیز مالکیت طرفداري کوي، فرد سره هیڅ نه پرېږدي ټول شیان حکومت ته سپاري. د خپل حکومت مشر لکه ستالین د ځان د روزۍ ورکوونکی ګڼي. هر څه چې کوي څوک یې مخه نه شي نیولی، زر، ځمکه حتی ښځه هم شریکه بولي، د دغې عقیدې لپاره په لکونو خلک وژني خو خدای پرستان یې مخه نیسي او وخت په وخت یې ټکوي. په اوسني وخت کې دا سې پټ دي، چې هیڅ ځان نه معرفي کوي.

۳_ سوسیالستان :

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوسیالستان هم د کمونستانو غونډې د ماتریالیزم (ماده پرستۍ) په اصولو ولاړ دي خو دوی فردي ملکیت ته یوه اندازه جواز ورکوي. صرف لوی صنایع او طبعي منابع دولتي ګڼي، د مارکس په نظر سوسیالیزم د کمونیزم لپاره یو پل دی، چې په هغه باندې ورته رسیږي.

**۴_ کاپیټالست:**

کاپیټالستان په ظاهره ځانونه د ماتریالیزمانو مخالف بولي خو په حقیقت کې دوی هم مادیون دي، ځکه چې د هغوی هر کار د مادي ګټو لپاره وي، دوی هاند کوي، چې په هره طریقه وي ګټه وکړي او مادي وسایل په لاس راولي، کاپیټالستان که څه هم مشخصه نظریه نه لري چې په فکري میتود وي، خو ټول کړه یې ماوراء طبیعت په وړاندې ماتریالستانو ته ورته دی، دوی په مذهب او روحاینت باندې عقیده نه لري.

**۲: خدای منونکي کافران:**

د کافرانو ځینې ډلې کتابیان او ځینې یې کتابه دي چې په لنډ ډول لاندې معرفي کیږي:

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ـ کتابیان (یهود او نصارا) :

کتابیـان خپـل پیغمبـران او د هغـوی کتابونـه منـي او لـه نـورو پیغمبرانـو انکار کوي. له دې کبله چې لـه محمـد (ص) منکـر دي لـه هغـه وروسـته دوی کافران ګڼل کیږي. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي :

((یا اهل الکتب لم تکفرون بایات الله والله شهید علی ماتعملون. (ال عمران ۹۸)

ترجمه : ای اهل کتابه (یهود او نصاراوو) ولې تاسې د خدای له ایاتو انکار کوئ او پرې کافران کیږئ. حال دا چې خدای (ج) ستاسې په ټولو کـارونو باندې ګواه او خبردار دی.

یهود :

یهـود د موسـی علیـه السـلام امـت دی. څـه مـوده وروسـته لـه اسـماني لارښوونو واوښتل پـه تـورات کې یې تغییرات او تحریفات راوستل، پـه بدو او حرام خوړلو یې پیل وکړ د مخورو او بدایانو لپاره یې د خدای (ج) احکـام تغییـر او تبـدیل کـړل بـالاخره خـدای تعـالی د دوی د هـدایت لپـاره عیسی (ع) راواستاوه له څو ټولګیو پرتـه نـورو ټولـو یهـودو یې مخالفت وکړ. بالاخره یې د دار تر ځایه ورساو.

نصارا:

نصارا یا عیسـایان هـم د یهـودو غونـدې د عیسـی (ع) او د هغـه د کتـاب لـه هدایاتو واوښتل، عیسی (ع) یې د خدای زوی وباله او د تثلیث عقیـده یـې منځ ته راوړه او په خپل کتاب کې یې تغییرات او تحریفات راوستل.

د تثلیث عقیـده : دوی درې تنـه خدایان ګڼـي العیـاذ بـالله (عیسـی، مـریم، خدای تعالی).

۲ـ بې کتابه کافران :

بې کتابـه کـافران هـم ډیرې ډلـې دي چې ځینـې یـې لانـدې پـه لنـډ ډول ذکـر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمر پرستان :

لمـر پرسـتان لمـر تـه سـجده كـوي او خـداى يـې ګڼـي لكـه چې الله تعـالى فرمايلي دي :

وجدتها و قومها يسجدون للشمس من دون الله .. (النمل ۲۴)

ترجمه : وې موندله دا ملكه او قوم د دې چې پرتـه لـه الله يـې لمـر تـه سـجده كوله.

اور پرستان:

دا ډله اور ته عبادت كوي او خداى يې بولي. دوى دا سلام د ظهور په وخت ايران كې ډېر وو او د كسرى سلطنت د همدوى ځاى وو.

جن پرستان:

داسې وګړي هم شته، چې د پيريـانو عبـادت كـوي او پـه خدايـۍ يـې نيـولي دي د دوى په برخه كې قرآن كريم كې راغلي دي :

بل كانوا يعبدون الجن اكثر هم بهم مؤمنون. (سبا ۳۱)

ترجمه : بلكې دوى د جنياتو عبادت كوي او زيات د دوى پـه جنيـاتو ايمـان لرونكي دي.

هندوان:

هندوان د (ويد) په كتابو عقيده لري تناسخ فى الارواح تـه تـرجيح وركـوي، رهبانيت تـه زيـات اهميت وركـوي، د قيامت لـه ورځې منكـردي،د خاصو بتانو عبادت كوي. لكه : برهما – وشنو – شيو.

غوا ته عبادت او احترام كوي له انسان يې افضله ګڼي حتـى لـه خپلې مـور يې پورته بولي.

ګاندي ويلي:

غوا له موره راته ګرانه او محترمه ده. د غـوا خوشـايي دارو دي، غوښـه يـې حرامه ده. په ذات پات كلك ولاړ دي.

ذات پات:

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذات پات په هندوانو کې څو طبقې جوړې کړي. يوه يې (برهمنان) بله يې (کشتريان) دريمه يې (شودر) ده.

برهمنان : برهمنانو به يوائې کتاب لوست او خلکو ته به يې د عبادت ورزده کول خپله دنده ګڼله او له هر قسم نعمتونو يې برخه اخيستله.

کشتريان : د دې خلکو دنده د مقدسو کتابو لوستل او حکومت کول و.

شودريان : دې ډله به هندوان انسانان هم نه بلل، له ځانه به يې لرې ساتل، د دوی کار د خلکو چاکري وه او بس د مقدس کتاب لوستل او اوريدل يې ورته ناروا ګڼل.

سکان:

سکان د ګرونانک او د هغه د کتاب (ګرنګ) پيروان دي، د ګرونانک تعليمات اسلامي تعليماتو ته نږدې دي او له اسلامي نظرياتو متاثر شوي دي.

بودايان:

بودايان د بودا پيروان دي. ګوتم بد هندو د هندوانو په مذهب کې تغيرات راوستل او د نجات لپاره يې ځانته لاره غوره کړه. دی د ذات پات سخت مخالف و. ګوتم بد د آخرت له ورځې منکر او صرف دنيا يې منله.

بودا :

د بودا په تعليماتو کې د آخرت د ورځې هيڅ يادونه نه ده شوې او نه يې د خدای (ج) په هکله څه ويلي دي. هغوی چې په کومو خدايانو عقيده لرله تر دريديرش زرو پورې رسيدلي وو نو ځکه په صحيح توګه سړی نه شي ويلای چې د هغوی تعليمات په خدايي تصور باندې ولاړ وو.

بودايي مذهب نسبت هندو مذهب ته نوی شکل لري او ځينې کارونه يې اصلاح کړي لکه ذات پات او د نجات لارې.

مشرکان:

www.melitahrik.com 0771 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرک : له خدای (ج) سره په ذات یا صفاتو کې بل څوک یا بل څیز برابر یا له هغه پورته ګڼلو ته شرک وایي. شرک نه بښونکې ګناه ده. الله سره هیڅوک شریک نشته او نه شریک نیولو ته اړه لري. ټول امور په خپله اداره کوي. په خپله اداره او نظم کې هیڅا ته د مداخلې حق نه ورکوي او دا نه مني چې څوک ورسره د شریکېدلو دعوی وکړي. الله تعالی فرمایلي دي : ان الله لا یغفر ان یشرک به و یغفر ما دون ذلک لمن یشاء (النساء ۱۱۶)

ترجمه : یقیناً الله (ج) نه بښي دا ګناه چې شریک ورسره ونیول شي او پرته له دې نه چې چا ته یې خوښه وشي ګناهونه یې بښي.

د مشرکینو ځینې ډولونه :

۱ـ مشرک بالطاغوت :

طاغوت : طاغوت له طغیان اخستل شوی د مبالغې صیغه ده. ډېر زیات سرکش ته وایي، چې د خدای (ج) حکم اوامر نه مني او خلک خپل امر او حکم منلو ته بولي، خلک له اسلامه کفر ته لېږدوي. نو طاغوت د سرکشه، باغي، بت او شیطان معنی لري.

الله تعالی فرمایلي دي :

فمن یکفر بالطاغوت و یؤمن بالله فقد استمسک بالعروة الوثقی (البقره ۲۵۶)

ترجمه : نو هغه څوک چې د طاغوت له اطاعت نه منکر شي په خدای باندې ایمان راوړي نو هغه په مضبوطې رسۍ باندې منګلې ولګولې، چې هغې ته بالکل پرېکړون نشته. الله تعالی د کافرانو په برخه کې فرمایلي دي :

یؤمنون بالجبت والطاغوت (النساء ۵۱)

ترجمه : دوی په خرافاتو (اوهامو) او طاغوت باندې ایمان راوړی.

۲ـ مشرک الاصنام :

دا ډله بتان له خدای تعالی سره شریک ګڼي وایي ځینې واړه کارونه یې دوی ته هم پرېښي دي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرتدان :

ارتداد :

ارتداد د اوښتلو معنی لري او د شریعت په اصطلاح کې له اسلام نه ګرځېدل او د بل دین اختیارولو ته وايي.

مرتد :

مرتد هغه شخص ته وايي، چې اول مسلمان وي بیا کافرشي.

## د مرتد حکم :

د مرتد مرګ روا دی، خو د امام اعظم رح په نزد د بیا اسلام راوړلو په خاطر دري ورځې مهلت ورکول کیږي، خو دا کوم لازمي شرط نه دینو د دغه شرط له پوره کېدلو مخکې یې هم مرګ روا دی. لکه چې د بخاري په یوه حدیث شریف کې راغلي دي :

من بدل دینه فاقتلوه (بخاري)

څوک چې خپل دین بدل کړي نو هغه ووژنئ.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زندیقان

زندیقیت :

زندیقیت دا سې تغیر ته وایي، چې ذات یې هماغه وي او د هغه په وصف کې تغییر صورت و مومي او د شریعت په اصطلاح کې زندیقیت عبارت دی له اسلام نه بیا بیا گرځېدل دا عمل تکرارول. دین پورې مسخرې کول. په محمد صلی الله علیه وسلم باندې بد او رد ویل او د هغه مبارک توهین کول. په ښکاره د اسلام او په پټه د دهریت او الحاد عقاید لرل (العیاذ بالله).

## منافقان

نفاق :

نفاق په لغت کې خطا دوه رنگی او دوه مخی ته وایي او د شریعت په اصطلاح کې په مؤمن به شیانو باندې پوره باور او یقین نه لرل او په هغې کې شک او تردید کول او یا یې په باطن کې بالکل نه منل عبارت له منافقت څخه دی.

مثال یې د مدینې لوی منافق عبدالله بن ابی سلول دی. د ده په برخه کې الله (ج) فرمایلي دي :

ان المنافقین یخدعون الله و هو خادعهم (النساء ۱۴۲)

ترجمه : منافقان له الله جل جلاله سره دوکې او چل کوي (په خوله یې یو څه او په زړه یې بل څه وي) مگر الله جل جلاله دوی ته د دغې دوکې او چل جزا ورکوونکی دی.

منافقان دوه رنگي لري له کافر سره کافر او مسلمان سره مسلمان وي، ایمان او یقین یې پوخ نه وي. په تزلزل او بې تصمیمۍ کې ژوند تېروي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کافرانو خوا ته په مکمل ډول ولاړ وي او نه د مسلمانانو خوا ته په مکمل ډول ولاړ وي. لکه چې الله تعالی فرمايلي دي :

مذبذبين بين ذلک لاالی هولاء و لا الی هولاء (النساء **۱۴۳**)

ترجمه : متردد د دواړو (کافرانو او مسلمانانو) ترمنځ نه د مسلمانانو څخه دياو نه د کافرانو څخه دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسلمانان

اسلام :

اسلام له تسلیم څخه اخستل شوی، چې د انقیاد او تابعدارۍ معنی لري او د شریعت په اصطلاح کې اسلام د خدای جل جلاله ټولو احکامو ته په پوره ډول تسلیمېدل او پر ځان یې عملي کولو ته وایي.

ایمان :

په ټولو مؤمن به څیزونو باندې په ژبه اقرار کول او په زړه باور او تائیدول عبارت له ایمان څخه دی یعنې ایمان له اقرار او تصدیق (باور) څخه عبارت دی.

د ایمان او اسلام اړیکی :

ایمان د زړي او اسلام د بوټي په څېر یو په بل تکیه دی. لکه، چې بې زړی بوټی منځ ته نه راځي همدا ډول کله چې ایمان نه وي هلته اسلام نه صحیح کیږي او کله چې اسلام نه وي. هلته ایمان نه ښکاره کیږي او نه خپلې نتیجې او ثمرې ته رسیږي. څکه چې دانه بې ونې او ونه بې دانې او بې مېوې اهمیت نه لري. الله تعالی فرمایلي دي :

قالت الاعراب امنا قل لم تؤمنوا ولکن قولوا اسلمان و ما یدخل الایمان فی قلوبکم (الحجرات ۱۴)

ترجمه : اعرابي وویل مونږ ایمان راوړی دی، دوی ته ووایه (ای محمده) چې تاسې حقیقتاً ایمان نه دی راوړی مگر ووایئ، چې مونږ منقاد شوي یو لا تراوسه ایمان ستاسې زړونو ته نه دی درننوتی.

تقوی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقوی په لغت کې پرهېز او ځان ساتنې ته وايي او په شرعي اصطلاح کې د خدای تعالی په اوامرو او احکامو باندې عمل کول او له نواهيو يې ځان ساتل او په دې برخه کې هر وخت له خدای (ج) وېره او ډار لرل دي.
وېره د دې لپاره پکار ده، چې په احکامو کې ترې سستي ونه شي يا په کومه ګناه اخته نه شي. الله تعالی فرمايلي دي:
يا ايها الذين امنوا اتقوا الله حق تقاته (العمران ۱۰۴)
ترجمه: ای مؤمنانو له خدای (ج) څخه وېره وساتئ په حقه وېره سره.

احسان:

احسان نيکي کولو ته وايي او د شريعت په اصطلاح کې د خدای (ج) داسې عبادت کول دي، چې د عبادت کولو په وخت د خدای (ج) د ليدلو احساس کوي. که د دې مقام استعداد ونه لري نو دا خو ضرور احساس کړي، چې پاک خدای (ج) دېويني. بل دا چې خپل ځان د حق په پرتله وروسته کول او بل مسلمان له ځان نه وړاندې کول هم عبارت له احسان څخه دي. د بندګۍ آخري پړاو احسان او د اسلام ښکلا او ښايست پرې پيدا کېږي.
په حديث شريف کې راغلي دي:
"الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک" (مشکوة حديث جبرائيل)
يعنی احسان دې ته وايي، چې ته خپل خدای (ج) ته داسې عبادت وکړې لکه چې ته يې مخامخ ګورې، که ته نه شی کولای چې هغه وګورې نو هغه خو تا حتماً ګوري.

توبه:

توبه په لغت کې رجوع او پښېمانۍ ته وايي او د شريعت په اصطلاح کې ګناه باندې پښېماني ښکارولو ته توبه وايي.
توبه درې شرطونه لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱_ له مخکنیو گناهو پښېماني د هغو عفو غوښتل که مالي یا بدني عوض ولري د هغو ادا کول.
۲_ بیا هیڅکله د هغو گناهو قصدنه کول.
۳_ د اینده لپاره اصلاح کولو ته د ځان تیارول.

**عبادت** :

عبادت په لغت کې د تضرع، بې قید او شرط د ځان تسلیمول او ځان ټیټ گڼل، اطاعت کول، امر منل، بې له فکر کولو د امر منل او عملي کول، پرستش او بندگي کول، سجده ایښودل او داسې نورې معانې لري.
او د شریعت په اصطلاح کې د خدای تعالی د اوامرو منل او عمل کول په تضرع او عقیدې سره عبادت دی.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مذاهب

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په فروعو کې د صحابه وو او تابعینو د اختلاف اسباب

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې فقه تدوین شوې نه وه او دومره اختلافونه هم په کې نه وو ځکه چې صحابه وو کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس، لمونځ، حج او نور احکام لیدل هماغسې به دوی هم ادا کول نو پوښتنې ته حاجت نه و.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې د ابن عباس په روایت صرف دیارلس پوښتنې شوې، کومې چې د دوی په ګټه وې، چې هغه ټولې په قرآن کې راغلې دي. لکه د سپوږمۍ، د اشهرالحرام میاشتو کې جګړه کول، په حیض کې جماع او داسې نورې.

نو صحابه وو به د هغه څه پوښتنه نه کوله کومه به چې لا پېښه شوې نه وه، خو سره له دې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه به چې ځینې پېښو کې فتوی غوښتل کېدله ده مبارک به په ټولنو کې فتوی ورکوله، چې په کولو او یا نه کولو به یې ورته لارښوونه فرمایله.

همدارنګه ابوبکر صدیق او حضرت عمر فاروق رضي الله تعالی عنهما به چې په کومه مسئله علم نه درلود له خلکو به یې پوښتنه کوله، چې په هغې موضوع کې چا له رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث اوریدلی؟ لکه چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه چې د ماسپښین لمانځه پسې د نیا د میراث په برخه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث پوښتنه وکړه. مغیرة

(c) ketabton.com: The Digital Library

بن شعبة وويل : رسول الله صلی الله علیه وسلم شپږمه ورکړې. بیا ابوبکر رضي الله عنه وویل چې آیا بل څوک په دې مسئله علم لري؟ محمد بن مسلمة وویل : د مغیره بن شعبة خبره رښتیا ده؛ نو ابوبکر رضي الله عنه شپږمه ورکړه. همدارنګه په احادیثو کې د حضرت عمر رضي الله عنه پوښتنې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث پیدا کوونې ډېرې راغلې دي، خو کله چې اسلام خپور شو او صحابه کرام نورو وطنو کې خواره او هر یو د ځانګړې ناحیې مقتدا شو واقعې زیاتې شوې نو په مسئلو کې له دوی فتوی ګانې غوښتل کیدلې. دوی هر یوه د خپل علم او حافظې په تناسب داسې فتوی ګانې ورکولې، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکم سره یې سم په نصوصو کې دوران درلود نو که په نص کې به صراحت نه و هر یوه به د خپل اجتهاد له مخې فتوی ورکوله. هاند به یې کاوه، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اغراضو سره یې فتوی سمون ولري. په دې ډول د دوی ترمنځ اختلاف واقع شو لکه چې نسایي او نورو نه روایت دی، چې ابن مسعود رضي الله عنه څخه د کونډې په برخه کې د دې د مړه مېړه له مال نه پوښتنه وشوه. ده وویل په دې حصه کې مې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه څه نه دي لیدلي یوه میاشت پرې تېره شوه اخر یې په خپل اجتهاد وویل : دې ته مهر او میراث شته او عدت هم ورباندې لازم دی نو معقل بن یسار ودرید او ویې ویل : شاهدي وایم، چې نبي صلی الله علیه وسلم یوې ښځې ته همداسې حکم فرمایلی دی. نو ابن مسعود رضي الله عنه ډېر خوشحاله شو، چې په اسلام کې بله داسې خوشحالي نه وه ورته پېښه شوې. بل مثال د ابو هریره رضي الله عنه مذهب و، چې څوک به جنب وه روژه یې نه کیدله خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پاکو بیبیانو یې چې واوریدل د جنب روزه صحیح کیږي. پس له هغه خپل مذهب نه وګرځید او په حدیث یې عمل وکړ او عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته فاطمه بنت قیس شاهدي ورکړه، چې دا په درې طلاقو

(c) ketabton.com: The Digital Library

طلاقه شوه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نفقه ورته مقرره کړه او نه یې هستوګنځی ورته وټاکه خو حضرت عمر رضي الله عنه د دې شهادت رد کړ ویې ویل د یوې ښځې په وینا د خدای قول نه شم پرېښودلی زه نه پوهیږم چې دا رښتیا وایي که دروغ؟ نو په درې طلاقو طلاقې شوې ته یې نفقه او سکنی ورمقرره کړه او د هغې شهادت یې رد کړ، عائشې رضي الله عنها ورته وویل : ای فاطمې ته په دې خپل شهادت له خدایه نه وېرېږې چې وایي ثلاثه مطلقې ته سکنی او نفقه نشته؟ نو د صحابه وو کرامو مذاهب هغه څه و چې په هغه کې به اساني وه ځینې قولو ته به یې په ځینې نورو ترجیح ورکوله. که څه هم له لویو صحابه وو به روایت شوی و.

همدارنګه د تابعینو علماوو په وخت کې هرې منطقې کې د مذهب امام و لکه په مدینه کې چې سعید بن مسیب او سالم بن عبدالله بن عمر وو او په مکه کې عطاء ابن ابی رباح وو او په کوفه کې ابراهیم النخعي او الشعبي وو او په بصره کې الحسن البصري وو، او په یمن کې طاوس بن کیسان وو، او په شام کې مکحول وو، الله تعالی دوی ستر عالمان پیدا کړي وو. له دوی به حدیثونه او د صحابه وو رضوان الله علیهم فتوی ګاني اخیستل کیدلې، د دوی مذاهب او تحقیقاتو نه له خپلو ځانو وو، دوی ته به قضیې ورتلې او فتواګانې به ترې اخیستل کېدلې.له دوی نه سعید بن المسیب او ابراهیم النخعی او داسې نورو د فقه بابونه ټول کړل. په هر باب کې یې د خپلو پېشوایانو اصول وو، نو د سعید او د هغو د ملګرو تګ لاره د عمر او عثمان رضوان الله علیهما له قضایاوو او فتاواوو نه وه، دوی په فقه کې د حرمینو اهل له ټولو خلکو ثابت ګڼل، او د عبدالله بن عمر او عائشه او ابن عباس رضي الله عنه فتوی ګانې او د مدینې د قضاتو قضایاوې یې راټولې کړې. هغه څه یې ترې راجمع کړل چې اسان، قوي او ارجحي وي، ددوی تخریج له ایت او حدیث وو او که په دې دواړو کې به نه وو، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې ځواب به يې له هغې اشارې او اقتضاء راوېستله چې دوی نه به څرگنده شوه. په دې ډول هر باب کې زياتې مسئلې ورته څرگندې شوې.
ابراهيم او ملگرو يې نظر درلود ، چې عبدالله بن مسعود او د هغه ملگري په فقه کې ډېر ثابت دي. لکه، چې علقمه ويلي دي "تر عبدالله بل څوک ثابت نشته" او ابو حنيفه رح اوزاعي ته ويلي دي چې ابراهيم له سالم ډېر فقيه دی. که عبدالله د اصحابي والی درجه نه لرلې نو ما به ويلي و چې علقمه تر عبدالله بن عمر ډېر فقيه دی. د ده د مذهب اصل د عبدالله بن مسعود له فتاوو او د علي رضي الله عنه له فتواگانو او قضاياوو او د شريح او د کوفې د نورو قضاتو له قضاياوو او فتوی گانو وو، نو دايې راټول کړل او د فقه مسئلې يې په خلص ډول هر باب کې برابرې کړې.
سعيد بن المسيب د مدينې د فقهاوو ژبه و، د عمر رضي الله عنه په قضاياوو او د ابوهريره رضي الله عنه په حديثو ښه پوه او د هغو حافظ و. همدارنگه ابراهيم د کوفې دفقهاوو ژبه و، دوی دواړو پخوانيو پېشوايانو ته صريحاً يا اشارة اکثره مسئلې منسوبې کړي، نو د دوی د ښارو فقهاوو په دوی دواړو اتفاق کړی، د دوی له عقل او پوهې يې فقه اخيستې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فقهاوو د مذاهبو د اختلاف اسباب

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فرمودې مطابق "یحمل هذا العلم من کل خلف عدوله" له تابعینو څخه د اوداسه، غسل، لمانځه، نکاح، بیوع او داسې نورو ډېرو پېښوونکو مسئلو سنتونه په مختصر ډول وروستنیو تبع تابعینو ته پاتې شول. دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث روایت کول د قضاتو فیصلې او د مفتیانو فتواګانې یې اورېدلې، د مسئلو پوښتنې یې کولې او په دې ټولو کې یې جهد او کوشش کاوه، څو چې د قوم مشران او د خپلو استاذانو غوندې بریالي شول، دوی په اثارو او اقتضاءاتو پسې نه ګرځېدل، بلکې دوی په مسند او مرسل ټولو احادیثو تمسک او د صحابه وو او تابعینو په اقوالو استدلال کاوه او له نصوصو یې استنباط او اجتهاد په ښه طریقه کاوه او کومو موضوع ګانو کې به چې اختلاف و او مختلف حدیث به په کې راغلي وو نو د صحابه وو اقوالو ته یې رجوع کوله که هغوی به د ځینو په نسخ قول کړی و او یا به یې په ترک اتفاق کړی و. [۲] په دې ټولو کې به یې د هغوی متابعت کاوه او چې د صحابه وو او د تابعینو په مذهبو کې به اختلاف وو دوی به د خپل ښار د استاذانو لاره غوره کوله ځکه چې هغوی په صحیح باندې ښه علم درلود نو په مدینې کې د عمر، عثمان، عائشه، ابن عمر، ابن عباس زید بن ثابت او د هغوی د اصحابو لکه سعید بن المسیب مذهب او د ابوهریره، عروه، سالم، عکرمه، عطاء، عبید الله بن عبدالله او د دوی په شان د نورو احادیثو تر نورو ډېر مستحق ګڼل کیدل لکه چې نبي صلی الله علیه وسلم د

---

[۲]. لکه په ولوغ الکلب کې د مالک قول چې ویلي یې دي دا حدیث راغلی خو په حقیقت یې نه پوهېږم او فقهاوو نه دی عملي کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدينې په فضيلت کې احاديث فرمايلي دي او هغه تل د فقهاوو ځای او د علماوو مجمع وه. له دې امله مالک د مدينې داهاليو په اجماع تمسک کاوه او کوفه کې د عبدالله بن مسعود او د هغه د ملګرو مذهب، د شريح او شعبې قضايا او د ابراهيم فتاوی ګانې تر نورو ډېرې مستحقې ګڼلې کيدلې.

نو مالک او محمد بن عبدالرحمن بن ابي ذنب په مدينه کې او ابن جريج او ابن عبينه په مکه کې او ثوري په کوفه کې او الربيع بن صبيح په بصره کې کتابونه تدوين او تاليف کړل او ټولو په دې لاره تګ کاوه. کله چې منصور حج وکړ مالک ته يې وويل زه غواړم ستا کتابونه تکثير کړم او هر ښار ته يې ولېږم او امر ورته وکړم چې په هغو عمل کوي، ده ورته وويل: ای اميرالمؤمنين داسې مه کوه ځکه چې خلکو ته قولونه رسېدلي روايتونه او احاديث يې اوريدلي دي هر قوم په هغه څه عمل کوي، چې ورته رسېدلی وي نو خلک پرېږده، چې د هر ځای خلکو کوم څه ځانو ته غوره کړی وي په هماغه عمل وکړي، همدا قضيه يې چې هارون الرشيد سره تېره شوې وه هغه يې هم ورته حکايت کړه. هارون الرشيد له مالک سره مشوره کړې وه چې موطابه په کعبه وځړول شي څو خلک له هغه نه هغه څه واخلي، چې په دې کتاب کې دي نو ده ورته وويل: داسې مه کوه ځکه چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم اصحابو (رض) په فروعو کې اختلاف لري او په هر ځای کې متفرق شوي دي. هر حديث چې ورته رسيدلی په هغه يې عمل ته دوام ورکړی دی، ده ورته وويل: الله دې موفق لره.

نو يارانو يې روايتونه او خوښې کړې مسئلې وليکلې او مختصرې يې کړې او شرح يې پرې وکړې. په اصولو او دلايلو يې پرې وغږېدل او لويديز ته يې خواره کړل، چې خدای تعالی د ډېرو خلکو لپاره ګټور وګرځول که څوک دغه معلوماتونه غواړي د الموطا کتاب دې ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه د امام ابو حنيفه رح د مذهب نه که څوک ځان خبروي د ده د يارانو کتابونه دې ولولي، چې د الاثار کتاب د محمد رح دی او د جامع کتاب د عبدالرزاق دی او د ابي بکر بن شيبة تاليفات دي.

د امام ابو حنيفه رح مشهور ملګری ابو يوسف رح دی، چې د هارون الرشيد په وخت کې قاضي القضات و، چې د دغه مذهب د ظهور او په هغه د حکم کولو سبب شو او په عراق، خراسان او ماوراء النهر کې خپور شو.

په دې مذهب کې ښه تصنيفونه د محمد بن الحسن دي، چې د امام ابو حنيفه رح او ابويوسف رح شخه فقهي شو، بيا مديني ته ولاړ موطاء يې له مالک رح ولوستله بيا بېرته خپل وطن ته راغی خپل مذهب يې له الموطاء سره مسئله په مسئله تطبيق کړنو محمد رح د مرجحو موضوعاتو تصنيف وکړ، چې د ډېرو خلکو د ګټې وړ شو، په خراسان او ماوراء النهر کې خپور شو، د دغه مذهب په المبسوط او الجامع الکبير کتابو کې کتلای شئ.

د امام شافعي رح مذهب د ذکر شويو دوه مذهبو په اوايلو کې ظهور وکړ. د ده د مذهب مهم کتاب (الام) نوميږي، په دې کتاب کې په مرسل او منقطع احاديثو هم تکيه شوې ده، چې خلل يې وارد کړی نو اصول يې ورته کېښودل، چې دا د اصول فقه لومړی کتاب و. وايي، چې امام شافعي رح محمد بن الحسن کره راغی ورته ويې ويل : ته ثابت کړه، چې په واحد خبر باندې زياتوالی نشي کيدلی؟ (دا ځکه، چې محمد بن الحسن ويلي : د امام شافعي په مذهب کې په احد خبر باندې زياتوالی راغلی) محمد بن الحسن ورته وويل : ما ته ثابته ده، چې واحد خبر باندې په کتاب الله زياتوالی نه راځي مثال يې ورته راووړ: ته وايې چې وارث ته وصيت جائز نه دی دليل راوړی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي. "لا وصية للوارث" او الله تعالی فرمايلي : "کتب عليکم اذا حضر احدکم الموت ... الايه" داسې يې نور مثالونه هم ورته راوړل. په دې ډول د محمد بن الحسن خبرې بشپړ شوې. بل دا چې ځينې صحيح حديثونه د تابعينو

(c) ketabton.com: The Digital Library

علماوو ته نه وو رسېدلي، ځو يې د هغو له مخې فتواګانې ورکړې وای نو اجتهاد يې کړی او د خپلو اراو له مخې يې فتوی ګانې ورکړې، خو وروسته چې په دريمه طبقه کې څرګندونې وشوې په هغو يې عمل ونه کړ، ځکه چې د خپلو ځايو د کړنو او لارو خلاف ورته ښکارېدل. يا خو ځينې په دريمه پېړۍ کې هم څرګند نه شول، بلکې وروسته له هغه چې محدثينو د حديثو په راټولولو پسې سفرونه وکړل او په علومو کې يې څېړنې وکړې معلومه شوه، چې ځينې احاديث له صحابه وو رض څخه يوه يا دوه تنو روايت کړی نو فقهاوو نه پټ پاتې شوي وو، چې د احاديثو د حفاظو په وخت کې څرګند شول نو امام شافعي رح ته ښکاره شوه، چې ده د صحابه وو او د تابعينو علماوو په حديث عمل کاو خو چې حديث به يې په کومه موضوع کې ونه مونده بيا يې په نورو دلايلو استناد کاوه. بيا به چې په دغې موضوع کې حديث ورته پيدا شو له خپل اجتهاد به وګرځېدل په هغه پيدا شوي حديث به يې عمل کاوه. [۳]

د امام شافعي رح په وخت کې د اصحابو اقوال راجمع کړای شول ښکاره شول، چې زيات يې له صحيح احاديثو مخالف وو ځکه چې دوی ته دغه احاديث نه وو ورسېدلي نو په هغو اقوالو يې عمل پرېښود او ويې ويل "هم رجال و نحن رجال" يعنې دوی سړي وو او مونږ هم سړي يو.

د ځينې قومو فقهاوو له قياس سره خپل داسې فکرونه ګډ کړي وو، چې شرعي اساس به يې نه وو. کله به يې استحسان ته هڅه کوله کله به يې خپل فکر او کله ګومان او کله به يې مصلحت د حکم علت ګاڼه او قياس خو داسې وي، چې علت له منصوصي حکم راباسي او به هغه حکم دوران پيدا کوي، نو کله چې داسې کړنې وليدل شوې فقه له سره ونيول شوه. اصول ورته وضع شول او فروع ورباندې فرع شول کتابونه تصنيف شول. فقها،

---

۳. دې برخه کې ډېر مثالونه شته که يې ګورئ (کتاب الانصاف) ته مراجعه وکړې، چې د ترکيې د استنبول چاپ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې راټول شول تصرفونه يې په کې وکړل کوتاوالی او اوږدوالی يې په کې راوستل، دليلونه يې پرې راوړل او په وطنو کې يې خورا کړل.

دا ډول و د امام شافعي رح مذهب.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اصحاب الرای او اهل حدیث ترمنځ د اختلاف سببونه

د سعید بن المسیب او د ابراهیم او الزهري د زماني علماوو او د مالک او سفیان په زمانه کې او پس له هغوی خلکو په رای او خپل تعمق عمل بدګانه مګر چې داسې ضرورت به پېښ شو چې هېڅ چاره به ترې نه وه او لوی مقصد یې دا و چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د روایت شویو احادیثو نه کار واخلي.

له عبدالله بن مسعود نه د یوه څیز پوښتنه وشوه. ده وویل : دا بده ده، چې الله تعالی حرام کړی وي زه هغه درته حلال کړم او چې حلال کړی یې وي زه هغه درته حرام کړم.

همدارنګه معاذ بن جبل به ویل : له نزول د مخه په بلاء (   ) بېړه مه کوئ ځکه چې مسلمانان وپوښتېدل شي بندیږي.

په همدې ډول له عمر، علي، ابن مسعود او ابن عباس نه په هغه څه کې، چې څه نه وي نازل شوي خبرې کول بدې ګڼل کېدې.

ابن عمر، جابر بن زید ته ویلي، چې د بصرې فقهې یې نو بې له هغه څه چې قرآن پرې ناطق وي یا حدیث پرې قضاوت کړی وي فتوی مه ورکوه، که بې له دې بل ډول وکړې خپله به تباه شې او نور خلک به هم هلاک کړې.

شعبي ویلي دي علماوو، چې څه له رسول الله روایت کړي دي په هغو عمل وکړئ او کوم څه یې چې له خپله فکره ویلي دي هغه ایسته وغورځوئ. دغه اثار دارومي راویستلي دي.

له دې کبله په اسلامي هېوادو کې د احادیثو تدوین پیل شو، هر څوک به چې د رای څښتن و د احادیثو یو کتاب به یې درلود چې د خپل ستر ضرورت لپاره به یې تدوین یا نقل کړی و، نو د دې زماني سترو پوهانو

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

حجاز، شام، عراق، مصر، یمن او خراسان ته سفرونه وکړل د احادیثو کتابونه يې راټول کړل او رانقل يې کړل، غریب او نوادر اثار يې معلوم کړل د هر حدیث د استعمال ځای ورته څرګند شو، ډېر صحیح احادیث يې وموندل کوم چې د مخه د فتوی خاوندانو ته معلوم نه وو. په دې ډول د ټولو هېوادو د فقهاوو د صحابه وو او تابعینو آثار ورسره جمع شول، چې د مخه تر هغه به يې د خپل ښار یا کلي له جمع کړ شویو احادیثو کار اخیست بل معلومات ورسره نه وو. دوی له پخوا نه د روایاتو د عدالت په مراتبو اعتماد کاوه نو د دې زمانې علماوو دغه فن هم مستقل تدوین کړ. په دغه تحقیق او تدوین سره د خفي، متصل او منقطع حالات ورته څرګند شول، په دې لاره کې سفیان، وکیع او امثالو يې بې انتها هاند کړی دی. د دې طبقې علماوو نږدې څلوېښت زره احادیث ټول کړي وو چې ابوداؤد يې د مرفوع متصل احادیثو شمېر له زرو کم ښودلی او بخاري له شپږ سوو احادیثو او ابي داؤد له پنځه سوه زرو احادیثو خپل تالیفات مختصر کړي او احمد خپل مسند د احادیثو پېژندلو میزان معرفي کړی دی. د دې زمانې د علماوو مشران او سران دغه کسان وو : عبدالرحمن بن مهدي، یحیی القطان، یزید بن هارون، عبدالرزاق، ابوبکر بن شیبة، مسدد ، هناد ، احمد بن حنبل، اسحق بن راهویه، الفضل بن دکین، علی المدیني ا و همزولو يې. دا ډله د محدثینو د طبقې لومړنۍ ډله وه. نو څېړونکو پس له دغه د روایت او د احادیثو د مراتبو د پېژندلو له فنونو فقهې ته رجوع وکړه، د دوی رای دا نه وه، چې د هغه چا تقلید وکړي، چې له دوی مخکې تېر شوي وو ځکه چې له دوی سره د دغو مذاهبو د هر مذهب د مناقضو احادیثو روایتونه وو نو دوی د نبي علیه السلام د احادیثو او د صحابه وو او تابعینو د آثارو پېروي په داسې قواعدو کوله چې لاندې په اسانه ډول بیانیږي :

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی به چې په مسئله کې د قرآن آیت ونه موند نو له هغه یې بل شي ته تحول جائز نه ګاڼه او که د قرآن ایت به د څو وجوهو احتمال درلود نو د حدیث په توګه یې پرې قضاوت کاوه او که د کومې مسئلې لپاره به یې په قرآن کې څه پیدا نه کړل بیا به یې په حدیث عمل کاوه. دا حدیث به که ټولو ته معلوم و یا یوه ښار یا یوه کلي ته یو برابر و صحابه وو او فقهاوو به عمل ورباندې کړی و او که نه، او کله به چې په یوه مسئله کې حدیث و په خلاف د هغه اثر یا د مجتهدینو په اجتهاد یې عمل نه کاوه او که په کومه مسئله کې به یې له ډېره کوشش سره حدیث پیدا نکړ بیا یې د صحابه وو او تابعینو په اقوالو عمل کاوو دغو اقوالو به کوم قوم یا ځای پورې اختصاص نه درلود، دا هغه اقوال وو چې له دوی نه مخکې پخوانیو خلفاوو او فقهاوو به پرې اتفاق کړی وو. په هغه یې عمل کاوه او که اختلاف یې په کې درلود بیا یې د هغه عالم په حدیث عمل کاو، چې تر ټولو ستر عالم ډېر متقي، پرهیزګار او مشهور به روایت کړی و او که داسې مسئله به پېښه شوه چې دوه قوله به په کې برابر وو بیا به یې د قرآن، احادیثو اشارو او مقتضیاتو کې فکر کاوه د دې په څېر کومې مسئلې ته به چې ځواب ویل شوی و چې هغه به ورته نژدې وه په هغې به یې حملو له او په دې کې به یې قواعدو او اصولو باندې اعتماد نه کاوه، بلکې په هغه څه یې عمل کاوه چې معقول او زړه به مانه لکه چې د تواتر لپاره د رواتو د شمېر او حال اندازه معلومه نه وي لکن د زړه یقین ورباندې راځي. دا بیان د صحابه وو حالاتو کې مفصل راغلی دی.

دغو علماوو چې دا ډول کوم اصول راویستلي دي د اوائلو تصریحاتو نه یې نشئت کړی دی. لکه چې میمون بن مهران ویلي دي، چې کله به ابوبکر ته خصوم راغلل په کتاب الله کې به یې وکتل. په هغه کې به یې که داسې څه وموندل چې د دوی ترمنځ قضاوت پرې کیدلای شوای نو په هغه به یې قضاوت کاوه او که کتاب الله کې به یې څه ونه موندل نو په احادیثو به یې قضاوت کاوه او که په حدیثو کې به یې هم څه ونه موندل بیا به یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانانو پوښتنه کوله، چې څوک په داسې مسئله کې قضاوت رانه غواړي ایا تاسې په دې باره کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څه اوریدلي دي؟ کله به څو تنو په داسې مسئله کې راټول شول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قضاوت بیان به یې ورته کاوه نو ابوبکر رضی الله عنه به ویل : "الحمد لله الذی جعل فینا من یحفظ علینا علم نبینا" یعنی د خدای حمد وایم، چې مونږ کې داسې څوک شته دی، چې نبي صلی الله علیه وسلم علم یې په یاد دی او که په دې ډول به یې هم د نبي علیه السلام لاره نه موندله نو مشران او غوره خلک به یې راټول کړل مشوره به یې ترې وغوښته په کومه خبره به یې چې اجماع او اتفاق وکړ په هغې به یې قضاوت وکړ. شریح نه روایت دی، چې عمر بن الخطاب ده ته ولیکل، چې که په کتاب الله کې څه ومومې په هغه حکم کوه، څوک دې ترې وانه ړوي او که داسې موضوع درته راغلې وه، چې په کتاب الله کې یې حکم نه و، حدیثو کې یې حکم گوره او په هغه قضاوت وکړه او که داسې موضوع درته راغله، چې حکم یې نه په کتاب الله او نه په حدیث رسول الله کې و نو په هغه څه حکم وکړه، چې په هغه اجماع شوی وي او که داسې موضوع درته راغلې وه، چې د هغې په برخه کې نه کتاب الله کې او نه حدیثو کې مونده کېده او نه پخوا چا خبره ورباندې کړې وه. بیا دوه لارو نه یوه غوره کړه. یا په خپله رایې اجتهاد وکړه او قضاوت پرې وکړه یا یې وځنډوه څو په ځنډولو کې دې خیر دی.

له عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنهما روایت دی، چې پس له دې که چا ته دقضاوت موضوع ورشي په کتاب الله دې حکم ورباندې کوي او که داسې موضوع وه، چې کتاب الله کې ورته څه نه و، بیا دې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په قضاوت حکم ورباندې وکړي او که نه کتاب الله او نه حدیثو کې څه ورته پیدا شول نو د صالحینو په قضاوت دې حکم پرې وکړي. داسې دې نه وایي، چې زه وېرېږم ځکه چې حلال او حرام څرگند دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ يې مشتبهات دي نو د «دع مايريبک الی مالا يريبک» قاعدې له مخې شکمن څيز پرېږده. هغه څه واخله، چې شک درته په کې نه وي. ابن عباس رضي الله عنه نه به چې چا د کومې مسئلې پوښتنه وکړه که قرآن کې به يې ځواب وموند هغه خبر به يې ورکاو او که قرآن کې به نه و له رسول الله صلی الله عليه وسلم به يې چې روايت راغلی و د هغه خبر به يې ورکاوه او که له هغه صلی الله عليه وسلم نه به يې هم خبر ونه مونده نو دابي بکر او عمر رضي الله تعالی عنهما له روايت به يې خبر ورکاوه که نه له خپلې رايې به يې خبراو.

له اوزاعي روايت دی چې عمر بن عبدالعزيز وليکل: هيڅوک په کتاب الله او حديث کې د رای حق نه لري. له رای هغه وخت کار اخيستل کيږي، چې په کتاب الله او حديث کې سابقه ونه لري، دغه آثار دارمي راويستلي دي نو کله يې چې فقه په دغو قواعدو تياره کړه هيڅ يوه مسئله نه وه مگر چې د مخه به خبره په کې تېره شوې وه يا به په ايت يا په مرفوع متصل حديث يا په مرسل يا موقوف صحيح حديث يا د اعتبار وړ حسن حديث يا د شيخينو په آثارو يا د خلفاوو، قضاتو او فقهاوو په استنباط يا د عمومو په اشارې او اقتضا به متکي وه، د دوی په راس کې د سترې رای او فهم څېښتن فقهي احمد بن محمد بن حلبل و، وروسې اسحق بن راهويه و. نو د دوی د فقه ترتيب په دې ډول و چې د ډېرو احاديثو په راجمع کېدلو او اثارو يې عمل کاوه.

له احمد نه چا پوښتنه وکړه، چې د فقه لپاره سل زره حديثونه بس دي؟ ده وويل: نه! حتی پنځه سوه زره حديثونه يې ورته ياد کړل. وې ويل: فتوی بايد په دغه اصل وي.

بيا بله پېړۍ راغله چې علما يې د احاديثو له راټولولو او د فقه له مقدمې بېغمه وو ځکه يې نورو فنونو ته اقدام وکړ لکه د جمع کړ شويو احاديثو د صحيحو بېلول د لويانو محدثينو له مجموعو څخه لکه زين بن هارون يحيی بن سعيدالقطان، احمد، اسحق او احزاب يې او لکه د فقه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

احاديثو جمع کول کوم چې د ښارو فقهاوو هغه د فقه اساس او د خپلو مذاهبو اصول گرځولي وو او لکه حکم په هر هغه حديث چې د حکم مستحق وي او لکه شاذ احاديث چې روايتونه يې نه وو شوي يا يې هغه لارې او طريقې يې له اولو بهتر نه وې راوښتل شوې. کومې، چې په هغو کې اتصال يا د سند لوړتيا يا له فقهې د فقه يا له حفظ د حافظ يا په مثل د دې د علمي مطالبو روايت وي. دا کسان البخاري، مسلم، ابو داؤد، عبد بن حميد، د ارامېو ابن ماجه، ابويعلي، ترمذي، نسايي، دارقطني، حاکم، بيهقي، خطيب، ديلمي، ابن عبدالبر او د دوی په شان نور وو، له دوی څخه ځلور تنه په خپل وخت کې يو بل ته نږدې وو. لومړی يې عبدالله البخاري و د ده غرض دا و، چې صحيح حديث له نورو جلا کړي. فقه، سيرت او تفسير ترې راوباسي نو جامع الصحيح يې تصنيف کړ. د ده د کتاب په فضيلت کې راغلي دي، چې يوه نيک سړي رسول الله صلی الله عليه وسلم په خوب کې وليد ورته ويې فرمايل : ولې د محمد بن ادريس په فقه مشغول يې او زما کتاب دې پرېښی دی؟ ده ورته وويل : ای رسول الله ستا کتاب کوم دی؟ ورته وې فرمايل : صحيح بخاري چې د صحت او قبول درجې ته رسيدلی. دوهم يې مسلم النيساپوري دی. ده خپل کتاب ډېر ښه ترتيب کړی د ټولو احاديثو لارې يې په يوه ځای کې جمع کړې دي. څو د امتونو اختلاف او د سندونو تشعب تصريح شي، د مختلفاتو ترمنځ يې هم جمع کړي، چې چا ته له سنتو د غاړې غړولو عذر پاتې نه شي.

دريم يې ابو داؤد السجستاني دی. ده هغه احاديث راټول کړي، چې د ښارونو د علماوو او د فقهيانو دلايل به په هغو بنا و نو خپل کتاب يې تصنيف کړ. په هغه کې يې صحح، حسن او هغه چې د عمل کولو وړ وې راوړی دی. ابوداؤد ويلي دي : ما په خپل کتاب کې داسې حديث نه دی راوړی، چې په هغه د ترکولو اجماع شوې وي او داسې ضعيف هم په کې نشته چې په ضعف يې صراحت شوی وي، داسې حديث هم په کې نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په کومه وجه معلول ګڼل شوی وي، بلکې داسې احادیث په کې دي، چې په هغو تګ شوی او عالم استنباط ورڅخه کړی وي. له دې کبله غزالي ویلي دي، چې دا کتاب د مجتهد لپاره کفایت کوي.
څلورم يې ابو عیسی الترمذي دی. ده په خپل کتاب کې د شیخینو او ابوداؤد دواړه طریقې جمع کړي او د صحابه وو تابعینو او د ښارونو د فقهیانو مذاهب يې پرې علاوه کړي دي. د احادیثو طریقې يې په لطیف ډول په کې مختصر کړي. داسې چې یو حدیث يې ذکر کړی او هغې موضوع کې يې نورو احادیثو ته صرف اشاره کړې ده او هر هغه حدیث يې ښودلی دی، چې صحیح دی یا حسن یا ضعیف دی یا منکر او د ضعف وجه يې هم راوړې ده څو د اعتبار وړ حدیث پېژاندل اسان وي، د علماوو، فقهیانو او صحابه وو مذاهب يې چې ذکر کړي د هغوی تسمیه حتی کنیه يې هم ذکر کړې ده. ځکه ویل کیږي، چې دا کتاب د مجتهد له پاره بس او کافي دی او مقلدینو ته غني ورپه برخه کوي. د دې په برابرۍ د مالک، سفیان په زمانه کې او له هغوی وروسه پوښتنې او فتوی ورکول بد نه ګڼل کیدل دوی به ویل: د دین بناء په فقه ده. فقه باید ضرور خپره شي. نو د احادیثو او فقه تدوین منځته راغی. دغو علماوو په خپلو ځانو د لوړې تحقیقاتي درجې عقیده درلوده لکه چې علقمه ویلي او یا له دوی کوم یو شته چې عبدالله نه يې ثبوت وکړي او ابو حنیفه رح ویلي: ابراهیم له سالم نه ډېر فقیه دی که د صحابي والي فضیلت يې نه وی علقمه له ابن عمر ډېرفقیه دی. دوی سره زیرکي، د ذهن د انتقال سرعت او د مسئلو د ځواب په راوېستلو کې (د صحابه وو له اقوالو او هر څه به چې ورته موجود وو) قوي قدرت و نو د تخریج په قواعدو فقه تیاره شوه او د هر هغه چا مذهب زیات خپور شو چې کورنیو کې يې چا د قضا او افتا دندې درلودې او تصانیف يې خلکو کې خواره شول او درسونه يې په کې ورکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابو سلیمان الخطابي په خپل کتاب معالم السنن کې لیکلي دي چې زمونږ په زمانه کې علماء دوه ډلې شوي دی. یوه اهل حدیث او بله یې فقهیان دي، چې یوه له بلې جلا کېدلاینه شي ځکه چې احادیث اساس او فقه په هغه لکه فرع په اصل بنا ده. څرنګه چې اصل او فرع یو له بل سره لازم او ملزوم دي نو یو بل ته اړتیا لري چې یو د بل مرستندویې وي نه مخالفت کوونکي خو د اکثرو محدثینو د طبقې هاند یې چې د احادیثو په راټولو کې شوی. غریب، شاذ او مقلوب احادیث یې هم په کې راوستي دي. نو دوی فقهیان ګرموي چې په دغو احادیثو ولې عمل نه کوي؟ مګر فقهیان د خپل علم له مخې صحیح، احادیث له سقیمو بېل کړي په صحیحو عمل کوي د هر چا روایت یې چې خپل مذهب سره وي په هغو استناد کوي. د امام مالک مذهب د ابن القاسم، اشهب او داسې نورو کسانو روایتونه دلیل نیسي که د عبدالله بن عبدالحکم یا د هغه په څېر د بل چا روایت ورته راشي هغه ته نه ګوري. همدارنګه د ابو حنیفه رح مذهب کې د ابو یوسف، محمد بن الحسن او د هغه د ملګرو روایتونه معتبر ګڼي که د الحسن بن زیاد الولئ او داسې نورو روایت ورته راشي چې د دوی د مذهب په خلاف وي نه یې قبلوي او باور نه پرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاوند تعالی پېژندنه

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاوند تعالی پېژندنه

## سریزه

الله ستا حمد وایم او په نازولي پېغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم درود وایم. بیا هیله کوم، چې ستا د رضا لپاره د ثقلینو توجه ستا د خدایۍ منلو لوري ته مخ اړولو لپاره ځینې معلومات وړاندې کړم نو داسې توفیق راکړه، چې دا یو بې ساری کتاب او په دې هدف کې خورا مؤثر او مفیدوي. دا کتاب (عقیده پوهنه) په یوه وقایه کې شپږ کتابونه لري :

۱ـ لومړی کتاب : خدای پېژندنه چې د پوهنتونو په یوه سمستر کې مقرر کتاب دی چې د اریانا پوهنتون یې رسماً د جلا لیک په توګه د ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز ځنې د چاپولو هیله کړې ده.

۲ـ دوهم کتاب : د نړۍ والو عقیدې ممد درسي کتاب دی.

۳ـ دریم کتاب : مذاهب، دا هم یو ممد درسي کتاب دی.

۴ـ څلورم کتاب : اسلامي فرقې، دا هم یو ممد درسي کتاب دی.

۵ـ پنځم کتاب : د دین بنسټ، دا هم یو ممد درسي کتاب دی.

۶ـ شپږم کتاب : شرک پېژندنه، دا هم یو ممد درسي کتاب دی.

چې هر یو یې جلا جلا د موضوعاتو فهرستونه لري او په آخر کې یې ماخذونه راغلي دي. الله تعالی دې مفید او ګټور کړي.

ښاد جبارخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الله تعالی پېژندنې ته اړتیا

کله چې انسان ته کوم سخت مشکل پېښ شي او یا سخت ناروغه شي د ټولو هڅو له ناکامۍ او نا امیدۍ په صورت کې چې سر په سرو بړدي ولګوي اوښکې یې له سترګو راتویږي شي ا و له ژوند او هر نجات وړکوونکي یې تمه وشکیږي. د زړه له اخلاصه خپل پیدا کوونکي، مړ کوونکي او نجات ورکوونکي خدای تعالی ته یې رجوع او توجه شي په قوي عزم، اراده او اعتماد د مقتدر څښتن په فکر کې شي، له دې امله ویلای شو، چې: خدای تعالی ته مخ اړول د ټولو ناخوالو لپاره د مقاومت وسیله ده نو په خدای جل جلاله ایمان لرل د بشریت ضرورت او اړتیا ده ځکه چې په خدای تعالی ایمان لرل انسان تقویه او هیله من کوي او له هغه داسې موجود جوړوي، چې پرښتې ورته احترام کوي.[۴]

ایمان د ټولو فضایلو بنسټ او د ټولو بدیو مخه نیوونکی دی، ایمان د قناعت او رضائیت بنیاد دی، ایمان د مزاجونو او ضمائرو استقامت او اعتدال دی، ایمان له مصائبو سره مخامخ کېدلو کې په صبر، ملهم دی، ایمان په سینه کې د امید او هیلو نور دی، نو د ایمان نشتوالي صورت کې به انسان له بد ترینو بوده و او ضعیفو خزنده و او څیروونکو ځناورو نه به هم ډېر ناتوان او بېچاره وي، او له ټولو ژویو به بدتر وي.

ایمان ته د رسیدلو لار خدایي هدایات دي، چې د انبیاوو په وسیله رارسیدلي دي. ایمان ته د رسیدلو بله لاره فکر کول دي، د مخه تر هغه چې انسان د خدای تعالی بندګۍ باندې قایل شي د خپل فکر غلام وي، نو

---

[۴]. مقدمۀ کتاب سرگذشت ایمان در فلسفه علم و قرآن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان په حقیقي ډول د خدای بندګۍ باندې نه شي قانع کیدلای څو چې فکر ونه کړي، د فکر په وسیله انسان د نفس، عقل او فکر لرلو له کبله په ځمکه کې خلیفه شو، له پرښتو یې رتبه لوړه شوه، نو که څوک خپل نفس تزکیه او اصلاح کړي بریالیتوب به یې په برخه شي او څوک چې اغوا، طاغي او سرکشه شي ناکامۍ او نا امیدۍ سره به لاس او ګرېوان وي. لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:

((قد افلح من ذکاها و قد خاب من دساها))[٥] ژباړه: هرو مرو بریالی دی هغه څوک چې پاک وساتي نفس خپل او هرو مرو پاتې ناکام دی هغه څوک چې د خپل نفس پاکي پایمال کړي.[٦]

www.melitahrik.com 0777 400 116

---

[٥]. الشمس/ ٩ / ١٠.

[٦]. سرګذشت ایمان/ ٥٢١-٥٢٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الله تعالی پېژندنې فطري غریزه

د خدای پېژندنې غریزه د تغذي، جنسي او داسې نورو غریزو په څېر فطرةً په انسان کې د هغه له پیدا کېدو سره سمه ورسره پیدا کیږي.
غریزه ښوونې او ښوونکي ته اړتیا نه لري په خپله بې تکلفه پرې پوهیږي.
وګورئ ماشوم چې پیدا شي د تغذیې د غریزې په قوه د مور سینې ته ځان رسوي غواړي چې له شودو یې استفاده وکړي. همدارنګه د بوده و بچې چې پیدا شي بې له دې چې څوک یې د مور تی وروښیي په خپله یې غولانځې ته ورځي او شودې ترې روي.
همدارنګه چې انسان پیدا شي د خدای جل جلاله پېژندنې غریزه لري بې له دې چې وروښودل شي د خدای پېژندنې په لټه کې وي، دغه غریزې په ځینو کې قوي او په ځینو کې ضعیفې وي چا کې چې قوي وي سمې پرمخ ځي او په چا کې چې ضعیفې وي انحراف په کې راځي. لکه ماشوم چې د تغذي غریزې په قوه خوړو ته ځان رسوي والدین یې صحي خواړه ورپه مخ کوي او له مضرو خوراکو یې ژغوري او که پاملرنه ورته ونه شي د خاورو یا سکرو یا داسې د بل څیز په خوړلو خوي اخلي منحرف کیږي چې بیا په ډېرو وسایلو هغه بېرته له انحراف سمې لارې ته نه راواوړي.
همدارنګه د خدای پېژندنې د غریزې په قوه چې طفولیت کې د ماشوم مراقبت وشي په سمه لار صحیح عقیدې مخ په وړاندې ځي او که نااهلو سره مل شي په داسې حال کې چې دغه غریزه یې ضعیفه وي همغو نااهلو سره منحرف او په کږه لاره سم شي، چې بیا یې سمې لارې ته رااړول ستر تکلیف غواړي. له دې کبله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:
"الولد یولد علی فطرة الاسلام فابواه یهودانه او ینصرانه او یمجسانه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کما قـال النبی صـلی الله علیـه وسلم" [۷] نـو د ضـعیفې غریـزې څېښـتنانو باندې چې محیطي اثر پرېوځي او مخه یې ونه نیول شي انحراف مومي. لـه دې کبله مور او پلار مسوولیت لري، چې خپل ماشومان پـه فطري ایمـان د خدای پېژندنې غریزې په قوه سم پرمخ یوسي او له منحرف کېدلو یې مخه ونیسي.

د خدای پېژنـدنې فطري غریـزې پـه توګـه هـر څـوک پـوهیږي، چـې خدای تعـالی موجـود او واجب الوجـود دی خو د ذات لـه کیفیـت یـې هیڅوک نـه پـوهیږي، نـو هـر انسـان تـه پـه کـار دي، چـې د خدای پېژنـدنې غریـزه تـرې منحرفه نه شي، سمه یې وروزي، یعنې هر څوک دې د خدای پېژندنې پـه لټون کې اوسي ځکه چې په دغې لټه کې هرو مرو د خدای پېژندنې هدف ته رسیږي او که چا سره د خدای پېژندنې د لټون فکر نه وي هغه بـه محـروم پاتې شي، دوی باید وهڅول شي او ورته وویل شي چې : کـه څوک لـه کـور نـه د بانـدې چـا تـه ووايـي، چـې "کـور دې اور اخسـتی" کـه دغـه مخبـر دروغجن هم وي اورید ونکي ته کم له کمه یو شک پیدا کیږي له دې کبلـه د خپل کور د خبر اخستلو لپاره کور ته ځي، څو چې د موضوع لـه حقیقـت نـه ځـان خبر کړي. کـه دا ذکـر شـوی خبـر رښـتیا وي د اور پـه مړ کـولـو بـه لاس پوري کړي او که دروغ وي د خدای تعـالی شـکر بـه ادا کـړي، نـو پـه همـدې ډول چې ۱۲۴۰۰۰ کم یا زیاتو پېغمبرانو علیـهم السـلام مـونږ تـه د خدای تعالی واجب الوجودیت خبر راکړی نـو کـه د منحرفـو کسـانو یقـین پـرې نـه راځي کم له کمه خودې شکي کېدلو لپاره د خدای پېژندلو پـه لټـه کـې شـي، د لټون په هاند او هڅه کې به هرو مرو د خدای تعالی موجودیت درک کـړي لکه چې عرب وایي "من جد وجد" یعنې څـوک چـې د یـو څیـز پـه لټـون کـې شي هغه مومي.

---

[۷]. ژباړه : ماشوم د اسلام په فطرة پیدا کیږي نو مور او پلار یې یهودي کړي یا یې نصراني کړي او یا یې مجوسي کړي او یا په دې معنی نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورئ چې د الوتکو له اختراع د مخه د فلزاتو لېږدول په هوا ناممکن ښکارېدل خو چې دې لاره کې هاند وشو دغه ناممکن بریښېدونکی کار څرګند شو چې ممکن و.

همدارنګه وسپنه په اوبو کې د غرقېدو خاصیت لري د اوبو په سر یې درول یا لېږدول ناممکن و خو پوهانو دغه ناممکن کار ته ملا وتړله وسپنې نه یې کښتۍ جوړه کړه او د اوبو په مخ یې روانه کړه. په دې توګه یې ناممکن بریښېدونکي کار ته د ممکن صورت ورکړ.

همدا ډول د خدای تعالی منکران که د خدای تعالی د پېژندلو په لاره کې سعي وکړي ضرور به د خدای پېژندلو حقیقت درک کړي او پوه به شي چې خدای تعالی موجود او واجب الوجود دی. نو هغه څه چې انسان خدای پېژندنې ته هڅوي هغه د خدای پېژندنې غریزه ده. [8]

که د خدای پېژندنې غریزه په شعور [9] قوي وي داسې فکر [10] ته لومړنی دیني فکر وایي او که فکر او شعور غریزې سره خلط شي او شعور د غریزې په لار کې په لوړه پیمانه په کار واچول شي او فکر له غریزې سره او عقل له عاطفې سره مزج شي نو کوم څیز چې له هغه منځ ته راځي عقل [11]

---

۸. غریزه: هغه قوه ده چې ژوی د هغه په توګه بې د فکر هدایت او تجربې له احتیاج نه هغه څه چې د فرد د حفاظت او د نوع د تسلسل لپاره ضروري دی طوعاً عمل کوي. عریزه ده، غریزه چې په هر ډول وجود ته راغلې وي د ارث په ډول راتلونکي نسل ته نقل کیږي، ځینې انساني غرایزو بریمن کړی لکه د غذا پېژندنې او خدای پېژندنې غریزه.

۹. شعور: شعور بې دلیله ادراک او احساس ته وایي او علماء د انفس د شعور اطلاق په علم کوي چې په نفس کې وي او عقل پرې شامل وي، چې هغه له ادراکاتو، وجدانیاتو او نزعاتو وي له دې امله ویل کیږي شعور درې مظاهر لري: ادراک، وجدان، نزوع (خروج).

۱۰. فکر: د عقل اعمال او په کار اچول دي د مشکل په برخه کې چې حل ته یې ورسیږي.

۱۱. عقل: ما یکون به التفکیر و الاستدلال و ترکیب التصورات و التصدیقات و ما یتمیز به الحسن من القبیح، والخیر من الشر و الحق من الباطل والقلب، والدیت و الحصن والملجاء و جمعها عقول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او آسماني دين [۱۲] نوميږي، خداى تعالى فكر د الې او مقياس په توګه پيدا كړي څو د ارادې او غريزې په لاره كې خدمت وكړي.
غريزه فكر د خپلو اهدافو په لاره كې استخداموي، غريزه له انسان سره جوخته پيدا شوې خو د فاميل، چاپېريال، ټولنې، تعليم او تربيې امتزاج پرې اثر كوي د هغې تېزوالى سستوي خو بيخي له منځه نه ځي، نو خداى پېژندنه يوه فطري او انساني غريزه ده كه په لومړني خالص شكل پاتې شي، چې هاند او هڅې يې پخوانى ديني شكل خوښ كړي. عقل او فكر سره مزج شي د عقل او ارادې په اتفاق يې فكر او عاطفي ديني شكل نيولى وي په زړونو كالو د بشر د امن او راحت موجب څه چې د خداى منني عقيدې لرلو له امله په سمه لاره تدين ته برابريږي. [۱۳] ابراهيم خليل الله په دې برخه كې يې څرنګه څېړنه وكړه او څرنګه حقيقت باندې يې ځان پوه كړ چې وروسته به يې تفصيل راشي.

www.melitahrik.com 0777 400 116

---

يعنې عقل هغه دى، چې فكر او استدلال وربانديې كيږي، د تصوراتو او تصديقاتو تركيب كوي، ښه او بد پرې جلا كيږي، خير او شر، حق او باطل پرې معلوميږي، د زړه، ديت، قلعه او هستوګنځي معناګانې لري جمع يې عقول دى.

۱۲. دين: الديانه، اسم لجميع ما يعبد يعنې دين ديانت ته وايي او نوم دې د ټولو هغو څيزونو چې عبادت كول كيږي.

۱۳. تجلى خدا در افاق وانفس / ۵۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په علم د خدای تعالی پېژندنه

بشري پوهه که هر څومره پرمخ لاړه شي بيا هم د هر څه مسخر کېدلو غرور وربانديې نه دی په کار ځکه که د انسان او د هغه د توان په نسبت د بشر علم ستر عظمت لري. بيا پر ټول عالم د کامل علم په پرتله کوچنی او محدود دی لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:

"و ما اوتيتم من العلم الا قليلاً" [۱۴] (او نه مو دی درکړی تاسې ته له علم مګر لږ) نو بشر د خپلې کم علمۍ له کبله څرنګه له داسې وجود انکار کولای شي، چې د کائناتو نظام او د هغه پراختيا او ستروالی د ستايل شوي وجود د قدرت او عظمت د مظاهرو يو جزء دی د سالم عقل لرونکي يې په خپل قضاوت مني بالمقابل د څو محدودو معلوماتو لرونکي مغرور بوالهوسانه ځانته حق ورکوي، چې بې د خپل جهل په نظر کې نيولو او بې له دې فکر کولو چې د نړۍ پر مخ بې شمېره مجهولات وجود لري، چې په دې ضعيفو وسايلو د عالم حقيقي څېره څرګند بدلای نه شي او بې له دې چې د ټول عالم د پيدا کوونکي د وجود په برخه کې لټون، څېړنې، هاند او هڅه وشي له هغه انکار وکړي حال دا چې پوهېږو چې د عالم ماده پر دغې کرې باندې چې انسان ژوند وربانديې کوي خلاصه شوې نه ده، بلکې په زرونو اسرار د کائناتو د اعماقو په تل کې او د اسمانو لارو او ستورو کې

[۱۴]. د نويو علومو له مخې د (ژوند) مسئله لا ينحله پاتې ده. دې برخه کې د زياتو معلوماتو لپاره د (زنده خواری و مرده خواری) تحقيقي کتاب ته مراجعه وکړئ، چې د استاد داکتر احمد صبور اردوبادي تاليف دی او دوه ټوکو کې چاپ شوی دی. د دې کتاب ۲۰ مخ وګورئ (اصول و مبانی خداشناسی استدلال د محمد علي سادات تاليف دی او په ۱۳۶۱ ايران کې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، چې تراوسه انسان له هغو يو کوچنی معلومات هم نه لري او زمونږ دغه ځمکه له ټولو رموزو او ګردو اسرارو سره د هغه په څېر د یوه غبار حکم لري نو څرنګه، چې مونږ د خپلې کرې له ټولو اسرارو معلومات نه لرو نو د کائناتو د ټولې دستګاه په پرتله خو د بشر علم که صفر کې نه وي صفر ته خو نژدې دی خو بیا هم هغه څرنګه ځانته اجازه ورکوي، چې دعوه وکړي چې د هستۍ د ستر جهان په وجود علم لري، دعوا آسانه ده نه خرڅ لري نه زحمت هر څوک هر ډول دعوه کولای شي خو ادعا چې علمي او منطقي مبنا ولري، د علمي تفکر ملاتړ ورسره وي تر هغې دعوی چې په جهل او ناپوهۍ ولاړه وي تو پیر لري پر دې چې جاهل جراح، خدای تعالی د جراحۍ له چړې لاندې لټوي او هغه غافل چې له خپل میکرسکوپ لاندې خدای تعالی غواړي خو چې نه یې مومي انکار ترې کوي، نه پوهیږي، چې د جراحۍ چاړه او مېکروسکوپ خپل ازمایش کې کولای شي چې هر څه له تجربې لاندې ازمېښت کې معلوم کړي؟

ځواب څرګند دی، چې د ازموینې دغه وسایل له خپل تکامل سره سره تراوسه نه دي توانیدلي چې په دې پراخه نه پېژندونکي تیاره عالم کې خپل د ازموینې عناصر وپېژني مثلاً نه دي توانیدلي چې (د ژوند حقیقت) یا د (مادي حقیقت) [١٥] نه پرده پورته کړي نو د خدای تعالی وجود به په څه

---

[١٥]. برتر اندراسل د مادې د اصلي ماهیت پېژندلو په برخه کې له ناچارۍ په خپلې ناپوهۍ او مطلق جهل اعتراف کړی دی. (اوترفورد) او (بوهر) له نظره چې اتم له يو شمېر الکترونو او پروتونو جوړ شوی او د الکترونو حرکت د ذرو غوندې و څو ځلې به پراخېدل بیا به څنبېدل، له دې پراخېدلو سره پس له څنبېدلو هم الکترون د هغه الکترون په نوم چې مخکې څنبېدلی و د تشخیص قابلیت یې درلود، خو متاسفانه چې اوس اتومونه له اتومي تجربو لاندې راغلي بنایي له تحولاتو یې ـ انرژي تشعشع پیدا کړي زمونږ حواس متاثر کړي نو هغه څه چې منځته راشي هغه به په لاس راغلي شواهد وي مګر اوس نه پوهیږو چې په اتوم کې څه تیریږي. همدا ډول زمونږ پوهه د مادې بالخاصه د بشر د مغزو په برخه کې محدوده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته معلوم شي؟ بلکې خپله ازمېښت کوونکي هم د ده مخلوق دی، اما څرنګه چې هغه تل دی او یو ځای هم د ده د هستۍ له رڼا خالي نه دی او د هر شي ظهور د ده د وجود په نور کیږي له دې کبله دی مشهود نه دی، که تاریکي نه وای د دې نور او رڼا له درک او فهم به هم (چې ښکاره او ښکاره کوونکې ده) عاجز وو.

حسي علومو او کلاسکي (                    ) پوهي که صریح او مستقیم خبر له خالق نه دی ورکړی یا یې د وجود په اثبات کې مستقیم توفیق نه دی حاصل کړی، دا د همدې علومو ضعف او ناتواني ده، چې غیر له ظواهرو خبر ورکولای نه شي او له داسې علومو باید داسې انتظار ونه لرل شي؛ ځکه چې دغه علوم د خپلو څېړنو په ساحه کې د کامل حقیقت له درک عاجز دی او نه دی توانېدلی، چې بې شمېره ناکشف شویو اسرارو باندې پوه شي نو له هغه ستر حقیقت به په خپل محصور او محدود روش څرنګه مستقیماً خبر شي؛ نو د بشري پوهې د ضعف له کبله د مادي نړۍ د اسرارو کشف او د طبیعت د عالم کامله پېژندنه نه ده شوې، خو دا چې د هستۍ نړۍ یوازې د مادې په عالم کې منحصره نه ده، بلکې د مادې طبیعت تر شا نور عالمونه وجود لري، چې مادي علوم هغو ته هیڅ لار نه لري او نه له هغو کوم خبر لري، او داسې دلیل هم نشته چې د دې مادي عالم تر شا نور عالمونه نه وي، بلکې برعکس دېر عقلي، فلسفي او تجربوي محکم دلایل شته دی، چې داسې پراخه عالم، چې د پراختیا له مخې یې قیاس په مادي عالم نه شي کیدلای، وجود لري.

د مادي طبیعت تر شا عالمونو د منکرینو او همدا رنګه له خدای تعالی نه د منکرینو دلایل د حس او ازمېښت له لارې وړاندې کوي. څرنګه، چې په حسي تجربې د مادې طبیعت تر شا عالمونو اثبات نه شي کیدلای نو عقیده نه ورباندې لري حال دا ، چې له مادي جهان د باندې عالمو د اثبات لپاره (نظري عقل) او (عملي عقل) صلاحیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکــه چــې المــاني فیلســوف کانــت (۱۷۲۴-۱۸۰۴م) چــې د غــرب ســتر فیلسـوف دی، دغـه نظـر څرګنـد کـړی دی او د ده پـه څېـر د اوومـې هجـري پېړۍ اسلامي فیلسوف جلال الدین محمد بلخي چې په (مولـوي) شـهرت لري، هم د مادي طبیعت تر شا عـالمونو د اثبات لپاره غیر لـه حواسو پـه عقلاني قواوو او روحي استعدادو تمسک کړی دی. که داسې ونـه شي او یوازې ظاهري عالم باندې اکتفا وشي د ظواهرو زندان کې به بند پاتې یو، نو د دې لپاره چې د هستۍ د نړۍ له ژورو جریـانونو څخه خبر شو بایـد لـه نورو حواسو څخه چې غیر له دې ظاهري حواسو دي استفاده وکړو.

پورته ذکر شوي مولوي یوه کیسه کړې، چې: (کوم ځای کې چې چا فیـل نـه و لیدلی فیل راووست او تیاره کوټه کې یې واچاو نو خلک یې راوبلل. یـو یوبه یې کوټې ته ورننویسته چې فیـل وپېژني نـو چې لـه کـوټې بـه راووت پوښتنه به یې ترې وکړه چې فیل څرنګه څېر و؟ هغه چا به چې په خلتم لاس لګیدلی و هغه به ویل: فیل د ناوې غوندې دی او د هغـه چا لاس بـه چې د فیل په پښه لګیدلی و هغه به ویـل: فیـل د ستنې غوندې دی او د چا لاس به چې پـر شـا د فیـل لګیـدلی و هغـه بـه ویـل: فیـل د تخت غونـدې دی، دا ځکه چې دوی به د لاس په حس حکم کاوه حال دا چې حقیقت په بل ډول و.

هو! دطبعي حواسو تنګ زندان کې د بشـري معرفـت بنـدي کیـدل تـر دې بـل لوړ زیری له ځانسره نه لري نو لکه د مخه مو چې وویل: د مادي طبیعـت تـر شا عالمونو د پېژندلو لپاره نورو قواوو ته اړتیا ده لکه عقـل، چې لـه هغـې جملې د خدای تعالی پېژندنه ورباندې کیږي.

د علم له مخې اشیادوه جزء لـري: مـادي او عقلـي خـو دا چې الله تعـالی لـه مادي او عقلي اجزاؤ منزه دی. لـه دې کبلـه نـه شـو کـولای چـې الله تعـالی د علم له لارې ومومو. اما د علم له لارې یې پـه وجـود، وجـوب او لویـو نېکـو صفاتو پوهېدلای شو مګر د الله تعالی د ذات کنه او حقیقت له دې لارې نـه شـو پیـژنـدلی. دلتـه بایـد متوجـه شـو، چـې معرفـت (پېـژنـدګلوي) لـه علـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پوهېدلو) توپير لري. د مثال په توګه که څوک يو څيز د نښو يا صفتو يا علامو له لارې وپېژني هغه ته معرفت (پېژندګلوي) وايي نه علم (پوهېدل).
مونږ خدای تعالی غير د ماهيت له اجزاو (ماده او قوت، هيولا او صورت) چې خدای تعالی ترې منزه او مبرا دی په زړونو، نورو څيزونو پېژنو. الله تعالی په صفاتو، صنع او د ده د تجلی په آينو کې، په نيکو څيزو کې، ښايسته او ګټورو څيزو کې، په لوړو مبادي، او عالي مثالو کې او په انساني پاکو عواطفو کې لکه محبت، رحمت، شفقت او په سلونو او زرونو نورو په مثل د هغو په زړه او ضمير کې پېژنو او د ابوبکر صديق رضي الله عنه د وينا له مخې د مخلوقاتو د نفسونو د شمېر په اندازه هغه ته لاره لرو.
لنډه دا چې: علم د خدای تعالی د ذات د کنه درک نه شي کولای، خو د خدای تعالی د وجود په موجوديت علم جلا څيز دی او علم يو له سترو لارښوونکو دی چې مونږ د خدای تعالی وجود ته په لاره وربرابروي (رهنمايي کوي) او علم ډېر ستر شاهد دی په وجود د خدای تعالی. له همدې امله هر څوک پوهېږي، چې الله تعالی موجود دی او وجود يې واجب دی خو د ذات کنه يې هيچا ته معلومه نه ده[۱۲].

---

[۱۲]. تجلی خدا در افاق و انفس ۴۹-۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاوند تعالی پېژندنه په مادي فلسفه کې

د عقیدې له مخې له طبیعت ماوراء عالم په برخه کې درې فلسفي مکتبونه وجود لري، چې لاندې بیانیږي:

الف ـ هغه فلسفه، چې له طبیعت ماوراء وجود مني او هغه ثابتوي، چې (د متافزیک فلسفه) ورته وايي.

ب ـ هغه فلسفه، چې له طبیعت ماوراء مطلب اظهار نه کوي او ځان د هغه له نفي او اثبات عاجز ګڼي دې ته (لاادریه) وايي.

ج ـ هغه مکتب، چې په کامل یقین او جزم سره له مادې عالم د باندې هر ډول ځانګړی موجودیت نه انکار کوي او یوازې اصیل واقعیت ماده معرفي کوي، چې (مادي فلسفه یا فلسفي ماتریالیزم) یې بولي. د مادي فلسفې له نظره د (مادې د اصالت) د اصل مطابق اصلي او اولی واقعیت غیر له مادې بل څه نه دي او هر څه، چې له فکر، تصور، ادراک او نورو مشاهده کیږي هغه د مادې آثار او انعکاسات دي او ټولې ثانوي پدیدې (څیزونه) دي، د دې ماتریالیزم فلسفې له نظره ماده په خپل موجودیت او بقا کې له خپل ځان د باندې کوم علت ته اړتیا نه لري، بلکې یو موجودیت دی، چې له هره لحاظه په خپل ځان پوره ده.

مادیون د حسیونو غوندې داسې عقیده لري، چې: د علم د حصول لپاره غیر له حس او تجربې بله وسیله نشته. له دې لامله د دې نظر پیروان (د حس اصالت) مکتب پیروان او تابعداران بلل کیږي. دې برخه کې د توجه وړ خبره دا ده، چې: که څه هم حسیون د علم د حصول وسیله یوازې حس او ازمېښت معرفي کړي، لیکن د دې مکتب د مؤسسینو په اظهاراتو کې لیدل کیږي، چې د دوی په نظر محسوسات او حاصله معلومات د حواسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لارې يقيني ارزښت نه لري. لکه، چې : ژان لاک – انګليسي فيلسوف د حسي مکتب مؤسس حسي معلومات د ګمانو په څېر ګڼي، چې يوازې عملي ارزښت لري، اما په ورځني ژوند کې له باندېني عالم سره تماس نيولو نه بايد کار واخيستل شي. يعنې حسي مکتب که څه هم د علم د حصول لپاره بې له حس او ازمايش بله وسيله نه پېژني خو هيڅکله حس او محسوسات د حقيقت مقياس هم نه معرفي کوي، په دې نظر د حسي مکتب موضوع له طبيعت ماوراء برخه کې (لا ادري) ده. لکه (اګوست کنت) د حسي فلسفې سرکښ او د تحقيقي مکتب مؤسس چې ويلي : څرنګه چې د موجوداتو له پېل او پای نه بې خبره يو نو د سابقه يا لاحقه موجود وجود اثبات چې نشو کولای هم داسې انکار هم نه شو ترې کولای. لنډه دا چې حسي فلسفه د مطلق جهل په توګه دې برخه کې نظر څرګندولو نه ډډه کوي، همدارنګه فرعي علوم، چې د حسي فلسفې بنسټونه دي بايد د موجوداتو پېل او پای په باره کې له قضاوت څان وژغوري يعنې د خدای تعالی له علم او حکمت او وجود نه انکار نه کوو، د نفي او اثبات ترمنځ يې بې طرفي وساتو.

"ماترياليزم دياليکتيک" فلسفه چې د حسينو د (حسي اصالت) د اصل او د متافزيک د فلسفې د "تجزم يا دګمانيزم" له اصل د (مادي اصالت) په نوم معجون يې ترې جوړ کړی دی په قطع او کامل يقين يې په محسوساتو کې د (هستی) په انحصار حکم کړی دی او څرنګه چې هر محسوس کار مادي وي له دې کبله يې يوازې (ماده) معتبر واقعيت ګڼلی دی او (دمادې د اصالت فرضيه) يا (له مادې د باندې کې د عدم حکومت) د خپل مکتب د اصولو اصل جوړ کړی دی، او دا فلسفه چې : (که د فلسفې نوم ورته کېښودل شي) په دې اساس يې بناشوې ده خو دا چې په څرګند ډول روښانه ده، چې دا (فرضيه) د اثبات قابليت نه لري، او تراوسه د مادي فلسفې رهبرانو نه هيڅا هغه نه ده ثابته کړې. له دې کبله بايد هغه له (موضوعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصولو) د ماتریالیزم فلسفي ځنې وشمېرو. چې هر ماتریالیستي باید هغه تعبداً ومني ترڅو چې وتوانیږي د (علمي فلسفې) عالم کې قدم کیږدي، اما دا چې آیا واقعاً له حسي او تجربې د باندې کې غیر له محض نیستۍ بل څه وجود نه لري؟

د علومو تاریخ راښیي، چې په تېرو اوږدو پېړیو کې په ملیونو کسان د دې خاورینې کرې په مخ اوسیدلي او تېر شوي دي. بې له دې، چې یوه شي دغه ظاهره، ساکنه او آرامه کره د څو ډوله تېزو حرکتو لرونکې ده، چې یوه شیبه هم نه دریږي. یا دغه لمر، چې د یوه قرص غوندې آسمان کې ښکاري محیر العقول حرکتونه لري ا و تـل پـه چورلېدلو کې دی! همدارنګه دې وروستیو وختو کې د فزیک علم ثابته کړې ده، چې مونږ د شدت او ضعف مختلفو اصواتو ترمنځ یوازې د هغه شمېر صوتونو پـه اورېدو توان لرو، چې د هغه (فرکاش) یا تناوبي دوره په ټاکلې فاصله کې وي یعنې چې د هغو د (نوسات) شمېر یوه ثانیه کې ۱۲ او ۲۰۰۰۰ وي او که چېرته کوم آواز د فاصلې له دې ذکر شوې حد له (فرکانس) د باندې وي عادي اوازونه د اورېدنې وړ نه وي، له دې کبله به د هغه له وجود بې خبره یو حال دا، چې یوه برخه ژوی د هغو په اوریدلو قدرت لري، چې په دې باره کې ډېرې تجربې سرته رسیدلي او موجودې دي. همدارنګه په باندیني عالم کې مختلف رنګونه پېژنو چې د مختلفو موجو په اوږدو کې ارتعاشونه دي حال دا چې په خارج عالم کې هیڅ رنګ وجود نه لري او هغه څه چې د رنګ په عنوان یې وینو هغه په مخصوص ډول د انسان د بینایۍ حس د جوړښت له کبله د نور د مختلفو موجو په طول کې د مختلفو رنګو په عنوان احساسیږي او دیو شمېر ساکښو د لیدنې جوړښت کې دغه خارجي واقعیت په یوه ډول ښکاري (لکه پشۍ او غویه چې په اشیاوو کې د رنګونو له درک عاجز دي) یعنې هغه څه چې په حواسو حس کیږي د حواسو په خاص جوړښت او توانایۍ پورې محدود دي، له دې کبله د چا د باصرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حس چې د ځينې ناروغيو له کبله لکه (د التونيزم) ناروغي (د التون د يوه انګليسي شيمې پوه او فزيک پوه نوم دی) چې خپله په دې ناروغۍ مبتلا و داسې ناروغ يوه برخه رنګونه يا ټول رنګونه نه ويني دا ځکه چې د باصرې حس يې ځينې عصبي اليافات ( ) نه لري.

په تېرو زمانو کې چې له وروستيو پرمختګونو په مختلفو څانګو کې هيڅ خبر نه وو، انسان چې خارج جهان، د مستقيمو حسي تاثراتو له لارې پېژنده له هغه څه چې نننی پوه انسان يې پېژني کاملاً تفاوت درلود ځکه چې د هغه څه ادراک چې د حواسو له لارې په مستقيم ډول کيږي هغه د خارج عالم انعکاس دی، چې د بني آدم د حسي ادراک په دستګاو کې دی، په حقيقت کې د حواسو اينه کې د جهان تصوير دی، اوس ګورو چې دغه تصوير له خارجي واقعيت سره څومره سر خوري؟

ځواب يې د مربوطه علومو په صلاحيت کې دی، د هغو له جملې هغه څه چې نوی فزيک يې رازده کوي دا دی: چې دا ډول تصويرونه يوازې دا چې د باندينې واقعيتونو ماهيت نه بيانوي، بلکې له هغو سره اساسي اختلاف لري. مثلاً هغه څه چې له خارج عالم نه يې حسي تاثراتو سره مستقيماً مومو، صلب، ثابت او ساکن څيزونه دي او د نوي فزيک د راښودنې له مخې دغه اشيا په اصل کې نه صلب او سخت دي نه ساکن او آرام دي او نه ثابت او پايدار دي، بلکې د دغه هر يو څيز ظاهري اختلافات د هغه په اصل کې نشته يعنې دغه ټول سخت او صلب څيزونه په نهايي تحليل کې د ذراتو يوه مجموعه ده، چې په خلاف د خپلې ظاهري بڼې نه د غلظت او صلابت وصف په کې شته او نه د ارامش او سکون او نه د ثبات او پايه دارۍ، بلکې ټول حرکت، تغيير او تحول دی، په بل عبارت زمونږ حسي دستګاه د حرکت، نقل سير او چورلښت مجموعه د ثابت او ساکن مجموعې په څېر ښکاري نو په اصل کې يې دغه سکون او ثبات نشته، اوس چې تازه د نوي فزيک په مرسته پېژنو چې تراوسه د خارجي واقعيت

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

کامل تصویر نه وو او کوم تصویر یې چې و هغه تصویر یې (ناقص) او نیمګړې و، نه کامل او تمام ځکه چې دبشر د ادراکي دستګاوو په توانایۍ پورې محدود دي، ځکه چې د خارج عالم تصویر خامخا د ادراکي دستګاوو له مجرا تېرېږي له دې کبله په داسې کامل او واقعیت سره مطابق تصویر باندې لاس بری له وسې وتلی کار دی، نو اوس چې د نویو علومو په مرسته د خارجي جهان له حقایقو څه پېژنو هغه د حواسو د مستقیم درک محصول نه دی، بلکې د دلیل او استنباط محصول دی، یعنې هغه څه چې وینو او لمس کوو یې همدغه ظاهري شیزونه دي چې له حقیقت نه زیاته فاصله لري اما هغه څه چې دلیل او استنباط له مخې مومو د اشیاوو له داخلي ماهیت سره نږدېوالی لري، په بل عبارت: انسان د خپلو طبعي حواسو له لارې ظواهر درک کوي، چې د خپلو حسي دستګاوو په مرسته له محسوس عالم اخوا پرې قدم نه شي کښېښودلای او هغه معلومات، چې د اشیاوو د داخلي ماهیت په باره کې د علومو له لارې په لاس راځي نه د حس له لارې بلکې د قوانینو له مخې چې د هستۍ په جریاناتو کې له تعقل کار ترې اخستل کېږي او د هغو په مرسه داسې حقایقو باندې لاس بری موندلکیږي، نو که بشري معلومات د مادیونو په وینا په محسوساتو پورې محدود کړو په دې صورت کې به له علم او پوهې څه شی پاتې نه شي مګر صرف همدغه مستقیم حسي تاثرات، چې هیڅکله به علم ترې تحصیل نه شي، له دې کبله افراطي حسیون چې مادیون دي په خپلو محسوساتو متکي معلوماتونو نه دي توانیدلي، چې غیر محسوس معلوماتو نه ترلاسه کړي، ځکه چې دا واقعیت په محسوساتو کې محدود معرفي کوي او له هر غیر مادي امر منکر دي.

نو په پورته ډول چې علمي مسایل د حواسو او د ورځنیو مسایلو په برخه کې راوړل شوي له هغو دا نتیجه په لاس راځي، چې د حسي او تجربې په ډګر کې حواس په تنهایۍ سره د حقیقت لاره نه شي وهلای، چې یقیني علم

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پوهې ته پرې سړی ورسیږي. له دې کبله هیڅکله نه لیدل او نه اورېدل او نه حس کول د یو څیز په نشتوالي نه شي دلیل کیدلای، په تېره بیا یو عاقل څه چې څوک اقلاً شعور لري نه شي کولای د ژوند په عملي او ورځني مسایلو کې یوازې په نه لیدلو، نه اورېدلو او نه احساس کولو اکتفاوکړي. د یو څیز د نشتوالي دلیل یې وبولي او دغه روش د مادي عالم په واقعیتونو کې جاري دی، له طبیعت ماوراء حقایقو شته والی نه په حس، تجربې او ازمایش لاندې راتلای شي او نه اصولاً حس د هغه توان لري،چې د هغه څیز په نفي کې کوم مطلب څرګند کړي. (دا مضمون یو له فلسفې مسلمو اصولو دی، چې په (منفي) د حس دلالت ردوي) نو څرګنده ده، چې: له لیدلو، اورېدلو او محسوساتو انکار دومره له منطق او له عقلي متعارفو اصولو لرې دی، چې د هغه د بطلان د اثبات لپاره د علمي یا فلسفي دلایلو وړاندې کولو ته اړتیا نه پاتې کیږي، که څه هم داسې څوک نه دي لیدل شوي، چې داسې واضح البطلاني دعوه وکړي یا په هغه ټینګار وکړي او خپله ناپوهي څرګنده کړي مګر تعجب په دې کې دی، چې: داسې اصل یې یوه مکتب لاندې تشکیل کړی او د فلسفې اساس یې ګرځولی دی او تر دې لا د تعجب ټکی دا دی، چې: په اصطلاح د داسې فلسفې پېروانو د تکفیر لکړه په هغه چا پورته کړې چې د دوی فلسفه نه مني او یا د دلیل او منطق مطالبه کوي، نو څرګنده ده، چې د مادي فلسفې پېروان چې له محسوس لوړ جهان واقعیت نه منکر دي، چې نه په دغه انکار دلیل لري او نه له مادې پورته قدم ږدي او نه عملاً دوی ته له مادي جهان نه د باندې کوم خبر شته دی، نو بالفرض که له طبیعت ماوراء د خدای تعالی په وجود دلیل هم نه وي بیا هم انکار ته لاره نه لري. په داسې صورت کې باید له (لاادریونو) سره هم اواز شي او د (نه پوهېږم) جواب هر نفي او انکار ته ترجیح ورکړي. یعنې که د خدای تعالی د وجود مدعیان د خپلې ادعا په اثبات کې کوم دلیل وړاندې نه کړي بیا هم د ماتریالیستانو

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محسوساتو ماوراء باندې د عدم حکومت کولو اعتقاد غیر له (ظن) او گمان بل څه نه دی او تنها د خپل یوه علمي ضد ذوق انتخاب یې دی او داسې انتخاب د مادیونو له شخصي سلیقې پرته بله هیڅ مبنا نه لري او د داسې سلیقې محصول دی، چې کاملاً ازاده ده یعنې له هر منطقي حتی د حسي او تجربوي منطق له قید آزاده ده، چا چې له دوی د مذهبي تعصب لرلو سره سره نه دي غوښتي چې په کاملاً غیر علمي له منطق لرې مطلب باندې اظهار وکړي او یا له خپل فلسفي او علمي اعتبار کمښت ومني، د خدای د پوښتنې په ځواب کې یې د (نه پوهېږم) ځواب ته له هرې نفي او انکار ترجیح ورکړې ده او د مادي او الهي فلسفې ترمنځ یې خپله بې طرفي حفظ او ساتلې ده.

د مثال په ډول:

(برتراند راسل) د (فردریک کاپلستون) ایټالیایي فیلسوف د پوښتنې په ځواب کې چې په خدای تعالی د عقیدې په برخه کې یې ترې کړې وه او هغه یې ځواب د مناظرې په ډول ویلی دی چې له بي بي سي هم خپور شوی دی. په لاندې ډول ده.

پوښتونکی – فردریک کاپلستون: وفرمایه چې ستا موضوع (لا ادري) ده یا انکار؟ یعنې آیا ته وایې چې د خدای تعالی د وجود عدم د اثبات قابلیت لري؟

ځواب ویونکی – برتراند راسل: صریحاً ځواب اظهاروي، چې: "نه" زه داسې څه نه وایم، زما موضوع (لا ادري) ده.

همدا ځواب یې د (وایت) پوښتنې ته هم ویلي دي، چې پوښتنه یې کړې وه: آیا فکر کوې چې په قاطع ډول د خدای په عنوان څه شی وجود نه لري؟ یا په دې اندازه چې: کاملاً ثابت شوی نه دی؟

راسل: په ځواب کې ورته ویلي دي: "زه فکر نه کوم، چې په قاطع ډول څه شی د خدای په عنوان وجود نه لري البته نه"

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ماديونو تراوسه نه دي ويلي، چې ولې دوی په کامل قاطعيت داسې دعوه کړې ده او داسې ګمان يې د علم او پوهې په ځای ترويج کړی دی. ايا دا به ټيک وي، چې: د دوی په خپله اصطلاح به (علمي) وي چې يو مکتب په وهم، ظن او ګمان بنا کړي بيا له دې ګمان او خيال قطعي نتايج واخلي او د خدای تعالی د وجود، روح، معادو او نورو انکار (د علمي تفکر د طرز) مقتضا وګڼي او په هغه ټينګار کوي؟

دا يوازې زمونږ د زمانې ماديون نه دی، چې د حق او حقيقت مقابل کې يې داسې لاره غوره کړې ده. بې له دې چې ځان د خپلو افکارو، معتقداتو او اعمالو مسؤل وګڼي حاضر شوي دي، په داسې مهمې او حياتي او داسې زيربنايي مسئله کې ظن، حدس او ګمان د قطعي علم په ځای ونيسي، بلکې په تېرو زمانو کې هم يو شمېر خلک موجود وو، چې په آسانۍ حاضرېدل چې: خپل ګمان د حقيقت په ځای ودروي او تاسف په دې دی، چې د خپل داسې حدس وهم او ګمان په اتکا له حق او اهل حق سره په مبارزه راپاڅېدلي د دېوال په څېر د حقيقت د لارې په سر ولاړ دي، د حقايقو د نشر مانع کېږي، تر هغه پورې چې د انبياوو او آسماني شخصيتونو هر يوه زمانه کې چې د خلکو د ارشاداو حق او حقيقت ته يې د هدايت کولو دنده لرله او د بشري پوهې او عقل د کمښتونو د تکميلولو وظيفه په غاړه لرله، داسې خلکو چې د تعصباتو او نفساني تمايلاتو او د ډول ډول روحي او اخلاقي الودګيو محرک او مشوق و له حق او حقيقت سره يې د مبارزې په قصد د سفسطې، عوام فريبۍ او نورو جنجالو له لارې قيام وکړ او غوښتل يې چې: انبياء له خپل قطعي علم او په پوهې متکي قاطعو دلايلو لاس واخلي او دهغوی د (ظن او ګمان) پيرو شي.

په قرآن کريم کې څو مبارک آياتونه دي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم يې د مشرکينو له متابعت منع کړی دی او د تعليم په ډول يې رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلی الله علیه وسلم ته چې په واقع کې ټولو ته تعلیم دی د مشرکینو او مادیونو احوال داسې بیان کړي دي :

"ان یتبعون الا الظن و انهم الا یخرصون" [۱۷] ژباړه : متابعت نه کوي مگر د ظن او گمان او نه دی دوی مگر په (گمان) حکم کوي او دروغ جوړوي، او بل ځای یې فرمایلي دي :

"ان یتبعون الا الظن و ما تهوی الانفس و لقد جاء هم من ربهم الهدی" [۱۸] ژباړه : پیروي نه کوي مگر د گمان او د هغه څه چې د دوی د نفسو غوښتنه ده او هرو مرو په تحقیق سره دوی ته د دوی له پروردگاره هدایت راغلی دی.

یعنې چا چې په قصد د انکار لاره غوره کړې ده او ځان یې بې لارۍ ته کش کړی دی کله چې داسې دلیل سره مخ شي چې د دوی گمان باطل کړي او د اهل ایمان سند شي د دوی نفساني تمایلات او خصوصي منافع یا گروه یا مکتب یا مسلک یې د داسې حجت او دلیل له قبول مانع شي او په دې ترتیب د دوی د نفسي هوا او حقیقت ترمنځ حایل شي او دوی له حقیقت سره د اشنا کېدلو له نعمت محروم کړي او په نتیجه کې له ظاهر تجاوز ونه کړي، له باطن وجود بې خبره پاتې شي، دغه ډول خلک په حسي او ظاهري څیزونو کې متوقف پاتې دي او د هستۍ له ژورو جریانونو چې باطن کې دي بې خبره دي. قرآن کریم د تحقیر په ضمن کې د هغوی د علم د مراتبو په برخه کې فرمایلي دي :

"یعلمون ظاهراً من الحیوة الدنیا و هم عن الآخرة هم غافلون" [۱۹]

ژباړه : (ظاهري) انسان د دنیا له ژوندانه پوهېږي او له آخرت په غفلت کې دي، یعنې دوی یوازې د پدیدو (   ) د ظاهر صورتونو په مشاهده

---

[۱۷]. سورة انعام / ۱۷.

[۱۸]. سورة نجم / ۲۲.

[۱۹]. سورة روم / ۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکتفا کړې غیر له محسوساتو او مادیاتو بل څه نه پېژني او د علم او معرفت د دغه محدودیت په علت د ابدیت له جهان او د پس له مرگه عالم (چې د ټولو مرجع هماغه عالم دی) په غفلت او جهالت کې دي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقل

له تېرو بحثو څرګنده شوه، چې له خدای تعالی د انکار دعوه په وهم متکي ده نو که فرضاً د خدایتعالی د وجود د اثبات لپاره هیڅ دلیل موږ سره نه وي، دې صورت کې باید وکتل شي، چې د مادي او الهي مکتب ترمنځ کوم مکتب احتیاط او عقل ته نږدې دی او کوم یو د هغه بل په پرتله د انسان د خیر او صلاح لپاره دی.

د احتمالي حساب په اساس: که لس دانې مری له یوې تر لسمې یوې کڅوړې کې واچوو او ښې یې سره وښوروو او بیا په ترتیب سره هغه مری له کڅوړې راوباسو او د ورپسې مری له راویستلو مخکې دغه مری دوباره کڅوړې کې ورواچوو په دې ترتیب احتمال لري، چې له یوې تر لسمې شمېر مری په مرتب صورت له کڅوړې راووځي. دا یو رقم دی، چې یو تقسیم پر لس ملیاردو ته رسیږي او که د یوه سلول پیدا ایښت وګورو نو د هغې محاسبې له مخې چې (شارل اوژن ګوی) سویسي زیښت پیژندونکي کړې ده یو عدد دی په حدود دې یو تقسیم پر لسو یعنې که خلقت د جهان په دومره کوچني ځیز کې چې په تجسم یې ذهن قادر نه وي لکه یو سلولي موجود چې د ډېر عاقل انسان عقل ورته حیرانیږي احتمال لري، چې د هغه د پیدا ایښت لپاره د لازمو موادو او شرایطو منځ ته راوستل ظاهراً د ډېر کوچني والي له کبله چې د درک او تصور قابلیت نه لري د هغه په وجودحاکم نظم او انتظام د تصادف له مخې وي، اما د عالم په اجزاوو کې چې پیدا کېدل شته دي نو د باشعوره مبداء منل په ملیاردو کرته عقل او منطق ته نږدې دي نه د تصادف حکومت کولو ته او ګورو چې د خلقت عالم یوازې په دغه یوه ناچیزه او حقیر موجود کې خلاصه شوی نه دی او د اجزاوو هر جز د کمال او شعور د څرګندونې اینه ده او د حال په ژبه د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان په پیدا ایښت کې د حکمت او قدرت د نفوذ حکایت کوي، په دې صورت کې هر انسان مکلف دی، چې د عقل او منطق په مقتضی عمل وکړي. له دې کبله دنړۍ اکثرو بې غرضو پوهانو فلاسفه وو او متفکرینو تر نن ورځې پورې د خدای پېژندونکو په حلقه کې دی، د غرب د فلسفي مفاهیمو نارسایۍ له یوې خوا او موهوماتو او خرافاتو ته په مذهبي رهبرۍ کې د دین او مذهب رنګ ورکول له بلې خوا سبب شوی دی، چې یو شمېر متفکرین یې له دین او مذهب ترولي دي او د مذهب په اصالت کې متردد شوي دي خو سره له دې نه دي توانیدلي، چې له خدای پرستۍ ځنګ وکړي یا له حقیقت لرې موهومه عقیده ولري او کوم مورد کې چې درائجې الهي فلسفې د ضعف له کبله ځینو پوښتنو سره مخامخ شوي دي او نه دي توانیدلي چې مذهبي رهبرانو نه یې ځواب واوري بیا یې هم د انکارلاره نه ده خوښه کړې. که هرڅو یې د زړه په اعماقو کې تردید حس کړی خو انکارورته معقول او منطقي نه دی ښکاره شوی او نه یې د داسې بې ادبۍ اجازه ځانو ته ورکړې ده، دې برخه کې د شواهدو وړاندې کول ځانګړی بحث غواړي او دلته مونږ د درنو لوستونکو او ګرانو شاګردانو توجه دې ته راګرځوو چې: نویو مادیونو په خپلو فکري او فلسفي مبارزو کې خپل لاسونه خالي ولیدل د دې لپاره چې هغو ته علمي بڼه ورکړي د ېرو خدای منونکو پوهانو او متفکرینو باندې یې په دروغو د خدای نه منني مخالفین وګڼول او د بشري علم او پوهې نړۍ سره یې خیانت وکړ. په خپل خیال یې هغوی په خپله نفع استخدام کړل مګر د دغو پوهانو اراوو ته که په محققانه او منصفانه نظر وکتل شي څرګندیږي، چې: د دوی په باب داسې ادعاګانې تهمت او افتراګانې دي خو سره له دې بیا هم که یو شمېر مخالفین تعصبات ولري د ستر جمعیت په مقابل کې نادر د معدوم په څېر دي لکه چې وایي (النادر کالمعدوم) نادر د معدومو حکم لري ځکه چې سلیم عقل نه شي منلی چې د دې جهان بنا دې په علم او شعور نه وي شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا امکان هم شته چې یوه سطحي فلسفه بشري ذهن د الحاد په طرف واړوي خو عميقه فلسفه هغه ده چې انسان دين ته متوجه کوي ځکه چې که څوک نږدې علتونه په نظر کې ونيسي او وړاندې لاړ نه شي ممکن خدای تعالی ته قايل نه شي خو که د عللونو او معلولونو ټولې لړۍ او سلسلې نظر لاندې راوستل شي بالاخره به په ازلي مشيت او واحد خدای ايمان راوړي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# احتمالي خطر

انسان چې خپل ورځني ژوند کې چېرې احتمالي خطر احساس کړي هغه احتمال ته د يقين په سترګه ګوري او د خپلو ټولو امکاناتو په توګه له هغه احتمالي خطر ا و خسارې ځان ژغوري او د دفع کولو لپاره يې هر ډول مقدماتي چارو نه کار اخلي، په داسې مواردو کې دې ته نه ګوري، چې دا احتمالي خطر د چا له خوا ابلاغ شوی دی، پوه دی که نا پوه، په سد دی که ليونی؟ رښتونی دی که دروغژن؟ لوی دی که کوچنی؟ د ناپوه، دروغژن، ليوني او ماشوم خبرې ته هم د احتمالي خسارو له ويرې د عاقلانو، صادقانو، روغو او پوهانو د قول حکم ورکوي څو چې له احتمالي خطر نجات ومومي ا و زيان ورته ونه رسيږي، همدا ډول که ليونی يا ماشوم يا ډېر دروغژن (چې په معمولي شرايطو کې يې وينا د انسان لپاره دليل نه شي کېدلای) د خطر د موجودوالي خبر ته يې چې د کوم خطر په برخه کې يې د لارې په سر هم ورکړي) د بې اعتنايۍ په سترګه نه ورته ګوري، بلکې په دې استناد چې د دروغژن، ليوني، ماشوم قول دی او وثوق نه لري. بيا هم احتياطاً اعتبار ورکوي، له هېڅ ډول بې توجهۍ نه کار نه اخلي، دا ډول روش د عملي دستور العملو له مصداقونو يو عملي مصداق دی چې د محتمل ضرر دفع کولو لپاره عقلاً واجب ګڼل کيږي.

نو څرنګه چې په داسې مواردو کې له احتمالي خطر بچ کېدلو لپاره هر ډول پيش بيني ګانې په ځای کوي او کامله پاملرنه او مراقبت يې کوي د داسې سترو مسئلو لکه د هستۍ د عالم پای بيا راژوندي کېدل، اخروي سرنوشت او داسې نورو په برخه کې ولې غفلت کوو؛ په داسې حال کې چې په زرونو عاقلانو، صالحانو، صادقانو له داسې واقعيتونو خبر راکړی او

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند د مسؤلیت له درونددوالي یې مطلع کړي یو، ولې هېروو، سوچ او غور نه ورباندې کوو؟

د پېغمبرانو د فریاد په مقابل کې چې د خپل وخت خورا صادقین او نامي شخصیتونه دي او د (افحسبتم انما خلقنکم عبثاً) اواز یې د نړۍ والو اعماقو ته رسولی دی ولې د تخیلاتو او غفلت په خوب کې ویده پاتې کیږي؛ ولې داسې نه ګڼي، چې خدای به وي (او حتماً شته دی) نو له داسې حقیقت سره د اړیکو نه لرلو په صورت کې هر سعادت شقاوت دی، او د بشري ژوند هره برخه کې هره ترقي او پرمخ تګ عین تنزل او نقصان دی؛ نو ولې ځینې انسانان د خپل جهالت له لامله په ځان داسې ظلم کوي، جهولي او ظلومي بار په غاړه اخلي؟

د پورتنۍ موضوع طرح د دې نکتې لپاره ده چې: د خدای تعالی منکرین په دې برخه کې عقلاني اصول له پښو لاندې کوي نه دا چې خدای تعالی په وجود دلایل نه شته او یوازې عقیدې ته ترجیح ورکول کیږي، بلکې برعکس د خدای تعالی د وجود د اثبات لپاره تنها په اسلامي فلسفه کې نژدې شل ډوله محکم پولادي فلسفي دلایل شته دي، چې مونږ یې په یوه دلیل اکتفا کوو چې په سلګونو فرضیو (چې په غلطه یې د فلسفې نوم ورپاندې ایښی) د بطلان مهر ایږدي ځکه چې په الهي استدلالي فلسفه ولاړ برهان او دلیل سل په سلو کې یقیني د بطلان له احتمال پاک ارزښت لري او په دې محکمو فلسفي دلایلو سربېره د نورو علمي شواهدو او دلایلو د خدای پېژندونکو پوهانو له خوا وړاندې شوی دی، چې په مربوطه کتابونو کې اطلاع پرې ترلاسه کېدلای شي.

له پورتني تفصیل پوهیږو چې د مادي او الهي مکتبو اختلاف چې یو یې په خپله بې دلیله مدعي دی او بل یې له یوه افق شل ډوله دلیلونه د خپلې مدعي د ثبوت لپاره لري. یو مکتب په تعصب ولاړ دی او د بل منبع په دلیل، منطق، فکر او ځان خبروني په اساس دی. د فکري آزادۍ له مخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغو دوو مکتبو څنې د یوه انتخاب لپاره قرآن کریم پوره آزادي اعلان کړې فرمایلي يې دي:

(لا اکراه فی الدین قد تبین الرشد من الغی) په دین منلو کې زور نشته هرو مرو سمه لار له ناسمې څرګنده شوې ده.

دا آزادي د دې لپاره اعلان شوې ده، چې حق او **باطل** روښانه **معلوم** دی. نه ظاهري اجبار (لکه زور او سختي راوستلو) ته او نه باطني اجبار (**جهل** او **تعصب**) ته اړتيا شته ده. نو هر څوک **معقوله** لاره غوره کولای شي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حدیث هلیله

(حدیث هلیله) د یوې مناظرې نوم دی، چې د حضرت جعفر صادق او د یوه هندي طبیب له منځه شوې ده د هغې ذکر داسې راغلی دی چې:
یوه ورځ هندي طبیب هلیله ټکوله او خپلې پخوانۍ خبرې یې داسې تکرارولې:
دنیا به تل وي، ونه شنه کیږي او وچیږي، ماشوم پیدا کیږي او بني آدم مړ کیږي، خیال کوه چې جعفر صادق خدای پېژندنه ځان پورې تړلې، بې دلیله د خدای پېژندنې دعوی کوي او تصور یې کاوه چې د خدای پېژندنې مفکوره اولادو له پلرو او کشرانو له مشرانو د تقلید په ډول کور کورانه اخستې ده او فکر یې کاوه چې متخالف او موافق، ظاهري او باطني څیزونه یوازې په ظاهري حواسو درک کیږي او بس په همدې اصل یې خبرو ته دوام ورکړ ویې ویل:
څرنګه چې د محسوساتو ترمنځ هیڅ شی ما نه دی حس کړی چې خدای ورته ووایم ځکه بې له خدای انکار ښکاراوه او زیاتوله یې چې: دالوهیت توصیف نه شي کېدلای مګر په ظاهري حواسو.
جعفر صادق ورته وویل:
د خدای تعالی د وجود ادراک په عقل او دلیل کیږي.
هندي طبیب وویل: کوم دلیل؟ ایا خدای دې لیدلی دی؟ یا دې د هغه غږ اوریدلی دی؟ یادې استشمام کړی دی؟ یا دې څکلی دی؟ یا دې په لاس لمس کړی دی؟
جعفر صادق ورته وویل: تا چې په کوم ظاهري حس خدای درک کړی نه دی انکار دې ورنه کړی دی او ما یې په وجود اعتراف او تصدیق کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا غیر له دې بله چاره شته ده چې یو له ما او تا رښتونی او بل دروغژن وي؟

وویل: نه.

صادق وویل: که ستا ادعا رښتیا وي ایا ما ته د عقاب وېره شته ده؟

طبیب: نه.

صادق: که زما خبره رښتیا وي (او رښتیا ده) ایا ما له عذاب نجات نه دی موندلی؟ او ته به هلاکت کې نه یې ولوېدلای؟

طبیب: ولې؟

صادق: نو له ما او تا کوم یو د احتیاط او نجات لارې ته نږدې یو؟

طبیب: ته- مګر دا چې ته په محض شبه او ادعا د خدای تعالی په وجود قایل شوی یې او زه یې په نفي او انکار یقین لرم؟ ځکه چې یوه حس مې هم نه دی درک کړی او زما حواس چې هغه درک نه کړي ما ته وجود نه لري.

صادق: ته د خپلې ناتوانۍ له کبله د خدای تعالی له وجود منکر شوی یې او زه له همدې جهته خدای منم.

طبیب: آیا داسې څیز ممکن دی؟

صادق: هر څیز کې چې د ترکیب اثر وي جسم وي، او څه شی چې سترګې وینې رنګ وي؟ نو هر شی چې سترګې یا بل حس درک کړي هغه غیر له خدای بل څیز وي، ځکه چې خدای له مخلوقاتو سره شباهت نه لري او مخلوقات هم خدای سره شبیه نه دي، دغه مخلوقات تغییر او زوال مني او هر شی تغیر او زوال قبلوي مخلوق دی او مخلوق د خدای غوندې نه وي او پیدا شوی د پیدا کوونکي په څېر نه وي.

طبیب: دا ستا خبره ده او زه چې په کوم حس څه شی درک نه کړم ترې منکر یم.

صادق: دومره چې په خپل اصل ټینګار کوې خپل جهالت او نادانۍ دلیل نیسې، ولې له هغه څه چې تښتې په کې ولېږې؟ او هغه څه چې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړي د هغه مرتکب کېږي؟ نو ته نه وایی چې هر شی په خپلو حواسو درک نه کړم په هغه ایمان نه لرم؟

طبیب: هو!

صادق: ته چې ما په غیر محسوس ایمان لرلو باندې ملامتوې، ولې ته په هغه څه چې احاطه نه لرې، او په نفي یې دلیل نه لرې انکار کوې؟ ووایه ایا په ټولو خواو یې تا احاطه کړې ده؟ او د هغه منتها ته رسیدلی یې؟ آیا دغه آسمان ته چې وینی یې تللی یې؟ آیا د ځمکې تل ته رسیدلی یې؟ او د ځمکې ټولې برخې دې لیدلي دي؟ آیا د بحرونو په امواجو کې دې لامبو وهلې ده؟ آیا په آسمانونو دپاسه او له ځمکې لاندې دې لټون کړی او لیدلی دی، چې دا ټول له یوه مدبر دانا او بینا حکیم خالي دي؟ پس له هغه دې له خدای انکار کړی دی؟

طبیب: نه!

صادق: نو له څه پوهیږی چې خدای نه شته؟ شاید له هغه څه چې انکار کوي په یو د دغو ځیزونو کې چې تا په خپلو حواسو نه دي درک کړي هغه موجود وي؟

طبیب: نه پوهېږم ښایي په یو د دغو ځیزونو کې چې تا وویل یو مدبر موجود وي او ښایي چې نه وي.

صادق: اوس چې د انکار له مرتبې د شک مرتبې ته رسیدلی یې هیله لرم د شک له مرتبې د علم او ایمان مرتبې ته ورسیږې.

طبیب: زه شکي شولم ځکه چې تا له داسې ځیزونو پوښتنه وکړه چې زه په هغو علم نه لرم خو بیا هم څرنګه په هغه څه یقین وکړم چې زما حواسو نه وي درک کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

صادق : لـه دغـې هليلـې چـې سـتا پـه لاس کـې ده. بيـا يـې د هليلـې پـه ساختمان کې په تدبير او صنعت سره د خدای تعالی اثبات ورته وکړ چې پوښتنه به يې ورنه کوله او جواب به يې ترې اخست ځو چې له اوږدې مناظرې وروسته طبيب ايمان راووړا و شکر يې ادا کړ (مفصله قصه د بحارالانوار دوم جلد کې په عربي راغلې چې د مرحوم مجلسي (حديث اهللجه) تاليف دی هغه کې شته هله دې مراجعه وشي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اضطراري منطق

کله چې له یوې خوا مادیون د خپلې ادعا (له خدای د انکار) د اثبات له براهینو راوړلو نا امیده شول او د خدای تعالی د وجود د اثبات د دلایلو ابطال یې په عملي او فلسفي دلایلو ونه شوای کړلی او له بلې خوا د خپل مکتب د مقتضا او خپلو مسلکي مصالحو لپاره له خدای تعالی د انکار په خاطر مغالطو او سفسطو ته کار اخیستلو ته داخل شول. د خپل ضعیف علمي او فلسفي تعقل له نظره یې عوام الناس چې د درک د استعداد او د حقیقت د تشخیص له لحاظه فقیر وو قانع یا اغفال کړي نو اضطراراً یې لاس په ابداع او اختراع په اصطلاح جامعه شناسۍ باندې پورې کړ، په خپلو ظنیاتو او فرضیاتو د ټینګو فلسفي دلایلو د بطلان په فکر کې شول او په داسې نظر پردازیو د دا ډول مکتبو سرکښان شول.

نو منکرینو په دې ځرګند واقعیت علم لرلو سره سره په ناثابت شویو فرضیاتو پیل وکړ؛ ځکه چې فلسفي دلایلو سره د مقابلې توان یې په ځانو کې نه لیده نو په مادي سرګردانه فلسفه (که دفلسفې په نوم وبلل شي) د الهي فلسفې له معارضې عاجزه او د خپلو ادعاوو د اثبات دلایلو له وړاندې کولو پاتې راغلل بله لاره یې ونه موندله غیر له دې، چې : په ناثابت شویو فرضیاتو ته یې لاس ورته کړ څو د خپل مشکل حل له دغې لارې وغواړي او څرنګه چې اجتماعي علوم له بل هر علم لکه علمي قاطع منطق او ریاضي لرې دي او له بلې هرې علمي رشتې غیر یقیني دي. او له هر علمي مبحث ډېر مناقشه قبلوونکي دي. او د جدل او مغالطې لاره په کې خلاصه ده نو هغه لاره یې د دفاعي سنګر په نوم ځانو ته غوره کړې ده، په الهي او فلسفي اصیل معارف یې حمله او د خپلو رنګارنګ فرضیاتو دفاع یې پیل کړې ده او هر چېرته چې په تنګ شوي په بیړه یې دیوې بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرضيې په ابداع پيل کړی دی که څه هم نوې فرضيې يې د مخکينۍ فرضيې منافي وي.

د مادي فلسفې مدافعانو هاند کړی دی، چې د کمونيزم د مکتب اساسي دستور العمل عملي مصداق وګرځوي او ووايي: هدف وسيله مشروع ګرځوي! يعنې داسې مکتب چې د هر څه وسيله وي درسته وي که نادرسته عادلانه وي که ظالمانه، انساني وي که غير انساني خو چې مفروض هدف ته ترې د رسيدلو لپاره ګټه ترلاسه کيږي درسته، عادلانه او حکيمانه بولي او ښايي د داسې مکتب چلوونکي د راتلونکې ورځې په فکر مخکې له مخکې (د حقيقت نشتوالی) خپلو پيروانو ته تعليم کړی وي، چې: د لزوم په وخت د مصلحت له ايجاباتو سره وتوانيږي هر مجاز د حقيقت په نوم او هر حق دباطل په نوم معرفي کړي، چې د حق او باطل د مبادلې له لارې په جنجال خپل هدف ته ورسيږي.

نو د خدای او مذهب مخالفينو له خدای پېژندنې سره د مبارزې په خاطر ظاهراً علمي بڼه کې له خپل ځان نه فرضيې او تيورۍ ګانې جوړې کړې او په عوامو کې يې خورې کړې، ځينې يې داسې فرض کړې دي چې:

۱ـ خدای تعالی ته د توجه منشه ټولو نژادو، ملتو او قبايلو کې بالاخره ټولو فرهنګو او تمدونو کې په ټولو پيړيو او زمانو کې له طبيعت او دبني آدم د ژوند تهديدوونکو عواملو له وېرې ګڼلې ده.

۲ـ بلې ډلې بيا (خدای ته د توجه) عامل (د طبيعت د وېرې) په ونج (د جهل او بې علمي) عامل ګڼلی دی.

۳ـ ځينې نور (وېره) او (جهل) دواړه ابلهانه بولي په اندک تعمق پوهيدلي دي، چې: که په پخوانيو ټولو انسانانو کې د خدای پرستۍ عقيده د وېرې او جهل له مخې خوره شوې وای نو د علم او فلسفې په عالم کې چې د نړۍ په سطح غوره اشخاص لري څرنګه دغه علتونه هغوی ته توجيه کېدالی شي؟ يعنې اوس چې د خدای پېژندنې په مسئاله د علم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلسفي تاريخ شاهدي ورکوي، د نړۍ د لويانو په مفکوره کې ثبت ده. ايا هغه هم داسې توجيه کولای شو، چې د وېرې او جهالت محصول ده؟ اوس خورا ستر پوهان حتی په اکثريت سره د علم او پوهې سرکښان د خدای پېژندنې په حلقې کې دي او مذهبي افراد په متافزيکي موازينو معتقد دي. لکه (اينشټين، نيوټن، پاستور، پاسکال، ماکس، پلانګ، دکارت او داسې نور چې ماديونو په غلطه هغوی مادي معرفي کړي دي) نو څرنګه يې چې نه شوای کولای دا ډول پوهان جاهل معرفي کړي (ځکه چې د دوی پوهه يې ځانو ته افتخار ګڼله) نو له هغو فرضيو تېر شول. بله فرضيه يې جوړه کړه او تر ننه په نظريو او تيوريو جوړولو اخته دي او احتمال لري راتلونکي کې هم (د فرضيه جوړولو کارخانه) يې خپل دغه کار ته دوام ورکړي. له دې کبله يې يو شمېر په خدای باندې عقيده (د حاکمې طبقې اختراع په محکومې طبقې د استثمار لپاره ګڼلې)

۴_ يو بل شمېر (هغه د ضعفاو اختراع له اقوياوو سره د مقابلې لپاره شمېرلې ده).

۵_ او بلې ډلې (هغه د فقيرې او محرومې طبقې اختراع د خپلو الامو د تسکين لپاره بللې ده).

۶_ ځينو هغه د جنسي تمايلاتو شا ته غورځولو لپاره يوه طرح محسوب کړې ده.

۷_ بالاخره يو شمېر د خدای پېژندنې عقيده د (سلطان) او پادشاه د مفهوم پيدا کېدلو نتيجه ګڼلې ده.

۸_ يوه بله ډله هغه انساني کمالات او د قدرتونو تجسم معرفي کړې دی.

خو هغه نکته چې دلته د ذکر کولو وړ ده هغه دا ده چې :

که د دا ډول اشخاصو په وينا کې دقت وشي او د داډول فرضياتو او نظرياتو د پيدا ايښت علت ته توجه وشي، د ذکر شويو تېوريو بطلان به له

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوې خوا او خدای تعالی ته د انسان د توجه راز به له بلې خوا معلوم شي ځکه هغه څه چې د داسې فرضياتو سبب شوي دي دا دي چې:

د داسې نظرياتو څښتنان نه دي توانيدلي (خدای پېژندنه) په خلکو بې له کوم علت وګڼي او هغه سبب نه لرونکي معرفي کړي. نو هغه حس او منطق چې دوی يې د خدای پرستې سبب او علت پيدا کولو ته اړ کړي دي (د عليت عمومي قانون باندې اعتقاد) دی، چې انسان خدای پرستۍ ته راکاږي، او خپل حال ته يې متوجه کړي دي، ځکه چې د خپل عقل د فطرت په اقتضايي موردکې هم د نورو مواردو په څېر نه دي توانيدلي چې د عالم په وجود بې له علت معتقد شي او عالم چې د معلوليت او مخلوقيت آثار ترې څرګند دي بې له علت مؤثر وګڼي، که څه هم د دې علت په لټه کې کله د خپل فکر د سطح د محدوديت په نتيجه کې د بت پرستۍ په دام کې لويدلي او بت يې له خدای سره تشبيه کړی دی اما په هر صورت د خپل سليم فطرت په مرسته نه دي توانيدلي چې عالم بدون له علت وګڼي.

نو خدای پرستۍ نه د جهل منشاء لرې او نه يې خوف او وېره د پيدا ښت دليل ده او نه فقر او اجتماعي محروميتونه او نه داسې نور عوامل، بلکې خدای تعالی ته د توجه اصلي عامل کاملاً عقلاني او منطقي ريشه لري او د خدای پرستۍ لپاره به د بل هر علت تصور د دې څرګند اصل د ناليدلي په منزله وي، د فطري او نهايي قدرتمن له انګيزې به تېر شو چې هر انسان له سالم فطرت سره د خالق لوري ته کشوي او خدای تعالی ته د قلبي توجه ضامن دی (او وروستنيو څېړنو چې په نويو روان شناسيو کې د انسان د باطني شعور د پېژندلو په زمينه کې منځ ته راغلي دي په خپله پر دغې مدعی روښانه شاهد دي) او هغه ځوک چې د مخه تر دې بحث د خدای تعالی د وجود په اثبات کې خدای پېژندنه يې د بشري ټولنې په حال د مضراتو متضمنه ګڼلې ده، او له خپله ځانه يې په هغه زيانونه مرتب کړي دي ورپسې يې د داسې خپلو مرتب کړو مفروضو زياتونو په استناد خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندنې باندې حمله کړې او په دې طریقه د خدای تعالی له وجود منکر شوي دي، او نه دي توانیدلي چې دې دواړو جدا جدا مسایلو (یوه د خدای تعالی د وجود اثبات او بله په خدای تعالی د ایمان لرلو حاصله اجتماعي او اخلاقي اثرات) ترمنځ توپیر ته قایل شي او هغه دواړه یوه له بله تفکیک کړي، هغه چې فلسفه کې بحث لاندې نیول کیږي دا موضوع ده چې ایا خدای تعالی وجود لري که نه؟

که ثابت شي چې خدای تعالی په خپله حقیقي معنا چې د جهان، انسان او هر څیز پیداکوونکی دی وجود لري، بلکې وجود یې حق دی. دا اعتقاد له حقیقت خبرتیا ده، بلکې (مطلق حقیقت دی) نه انسان ته د زیان او ضرر منشاء، نو ځوک چې له عقل او فکر کار واخلي پوهیږي چې د ضرر، شقاوت او بدبختۍ منشاء جهل او بې علمۍ کېدلای شي نه په حقیقت او واقعیت پوهېدل. له دې کبله ځوک چې د خپل جهالت له کبله عقل او تعقل بې ارزښته او خدای پېژندنه د ضرر او خسارې منشاء وګڼي غیر له دې چې د عقلاوو په مخکې ځان باندې ریشخند وهي بل څه نه کوي، نو د مبداء په وجود اعتقاد هیڅ ډول ضرر او فساد منشاء نه شي کېدلای، بلکې د عقل له مخې او د ډېرو شواهدو په استناد د بني آدم حقیقي سعادت په ایمان کې دی او په خدای تعالی ایمان لرلو نه مقصد یوازې تصوري او واهي عقیده نه ده، چې د ذهنیت په مرتبه کې باقي پاتې شي او د بني آدم د شخصیت د اعتلا او کمال په لوري کې دې د هیڅ ډول تحول او خلاقیت منشاء نه وي، بلکې برعکس (په خدای ایمان) لرل هر چا کې د هغه د آثارو له مخې ټول بدن کې روښانتیا معلومیږي، ځکه چې علماوو د ایمان تعریف کې ویلي دي: ایمان په ژبه اقرار، په زړه اعتقاد او په اعضاوو عمل دی، نو د ایمان د تسلط حوزه یوازې د بني آدم د وجود یوه برخه نه ده، بلکې د انساني وجود یو کونج هم د ایمان له حوزې وتلی نه دی او د تاریخ په شاهدۍ د هرې زمانې هر امت هر شخص په زړه کې ربښتونی ایمان

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای نیولی او د خدای تعالی د معرفت په نور روښانه شوی دی. واقعي نجات، کمال او سعادت هم هغلته دی او له هغه سره دی.

نو له خدای منکرینو له هغې جملې مادیونو چې خپل مکتب (له خالق د انکار) په مبنا بنا کړی او په خپلې ادعا د اثبات لپاره هیڅ ډول دلیل نه لري او دا ډول انکار صرف د ماده پرستی د فلسفې د رهبرانو علمي ضد شخصي سلیقې محصول دی او هغه چا چې د خدای تعالی د وجود انکار د نویو علومو د کشفیاتو له مخې ګڼلی، غلط شوي دي او د جهان د پوهې په نسبت په مرکب جهل کې واقع شوي دي یا د حقایقو د مسخ له لارې د تبلیغاتو قصد لري چې عوام خطا باسي عمومي افکار په تېره بې خبره ساده ګان اغفال کې اچوي او بس. [۲۰]

www.melitahrik.com 0777 400 116

---

[۲۰]. محمد علي سادات (اصول و مبانی خداشناسی استدلالی) چاپ سال ۱۳۶۱ انتشارات هدی ایران.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میتافیزیکي منطق

## ۱ـ د روش اختلاف :

په هرې علمي څانګه کې څېړنه ځانګړې لاره لري، چې د هماغې څانګې د موضوع په اړوند پرمخ بیول کیږي او حقیقت ته رسیږي نو د یوې علمي څانګې د څېړنې په طریقه دبلې علمي څانګې څېړنه نه شي کېدلای او نه دا چې د یوې علمي څانګې موضوع یو څیز وي او څېړنه له هغې موضوع د باندې بل څه کې کیږي؛ نو د علمي څانګو د څېړنو او مطالعې ځانګړو لارو پېژندلو ته چې رواج لري (مندولوژي) یا (روش پېژندنه) وایي. د مثال په توګه د (جامعه پېژندنې) د علم د څېړنې له طریقې، روش او لارې نه د (زیست پېژندنې) د علم څېړنه نشي کېدلای، بلکې هر علم د خپلې موضوع په اړوند ځانګړی (روش) لري، چې د خپلې څانګې په موضوع او اړونده مسئلو له څېړنو او مطالعې رښتینې نتیجه په لاس راځي نو د یوې موضوع په څېړنه کې د هغې له دائرې وتل او تجاوز په کار نه دي.

له دې امله لومړی د څېړنې لپاره باید موضوع (ماهیت) وپېژندل شي بیا د هغې د څېړنې (روش) وپېژندل شي. پس له هغه دغه (خاصه موضوع) په (خاص روش) وڅېړل شي، یو انګلیسي فیلسوف (ادینګتن) تجربوي پوه وایي: ماهیګیر، چې جال اوبو ته اچوي یوازې د اوبو حیوانات نیسي هغه هم دومره، چې په جال کې ځاییږي او د هغه له سوریو، نه تېرېږي. نه دا چې له هغه د زرکو، هوسۍ، سویانو او د وچې د ژویو د ښکار احمقانه هیله ولري.

www.meltahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمتافزیکي او د ماوراء الطبیعه واقعیتونو د حقایقو اشکال هم په دې کې دي، چې څوک د ماوراء الطبیعت جهان ته په نادیده د ا نکار په سترګو ګوري د هغه ښکاري په څېر دی، چې له ماهیانو ډک سیند ته جال اچوي او ارزو د زرکو، هوسیو د ښکار کولو لري، خو چې جال راوباسي ماهیان په کې ګوري او زرکې په کې نه وي، نو د (زرکو) له وجود منکر شي او له دې غافل وي، چې زرکې په سیند کې نه وي هغه په صحرا او ډاګو کې وي. هغه د ماهیانو په جال نه نیول کیږي د هغو د ښکار لپاره، دام او جلا وسایل پکار دي، نو څوک چې په تجربوي وسایلو د ماوراء الطبیعت د حقایقو درک کولو لپاره د څېړنې او حقیقت ته د رسیدلو هڅه کوي داسې دي لکه چې د جراحۍ په چړې د الکتروماتیتیک د څېړنې په فکر کې لویدلې وي.

د ماوراء الطبیعت واقعیات کوم مادي او طبیعي کار نه دی، چې صرف د ازمایش په مرسته یې حقایق کشف شي، بلکې د ماوراء الطبیعت د واقعیاتو د حقایقو د کشفولو او څېړلو لپاره باید د دې خاصې موضوع د پېژندلو او څېړنې لپاره له (خاص) روش استفاده وشي؛ ځکه چې حس او تجربه له دې حده تجاوز نه شي کولای او د ماوراء الطبیعت له سرحد نه شي تېرېدلای همدارنګه د هغه علم حقایقو ته هم نه شي رسیدلای، بلکې انسان تصور او تفکر د عقل او استدلال په مرسته د ماوراء طبیعت له سرحد اخوا د استدلال او استنتاج په توګه د هغه عالم د حقایقو ادراک کولای شي. له دې لارې د تجربوي علومو زیاتو متخصصینو پوهانو خالق پېژندلی دی او د خپل تجربوي منطق په مرسته له داسې حقیقت پرده پورته کړې ده، خو بیا هم چې انسان هر څومره د علمي معرفت په لاره کې پرمختګ وکړي. د هغه ماشوم په څېر دی، چې تر و تازه حیرت ناکو تعجباتو انتظار ته آماده او تیار وي، نو بې غرضه زړونه شک نه لري، چې د دې منظم او حساب شویو حدوداتو ماوراء یو داسې قدرت دی، چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهایـت حکمـت علـم، شـعور او مشـیت کـې دی، امـا هغـه څـوک چـې حیرتوونکی شعور د بې شعوره او ړندې مادې محصول معرفي کړي بايد پوه شي، چې شعور له فاقد شعور حاصلیږي نو په دې صورت کې په علم له جهل رڼايي له تاريکي او بالاخره وجود لـه عدم هم حاصل شي، خدای پاک فرمایلي دي:

"قـل هـل یسـتوی الاعمـی و البصـیر ام تسـتوی الظلمـات و النـور (رعـد ۱۲۱) یعنـې ووایـه: ایـا بینـا او نابینـا برابـر دي، ایـا تـاریکي او روشـنې برابرې او یو شانته دي؟ دا انکاري استفهام دی یعنې نه! هیڅکله بینا او نابینا، تیاره او روښنې سره برابر نه دي.

نو دماوراء الطبیعت د عالم د حقایقو څېړنې په حس او مادي وسایلو نه شي کېدلای، بلکې د عقل او استدلال جلا وسایل او روشونه لري.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲_ متافزیک منطق :

اوس گورو، چې متافزیک حقایقو کې د څېړنې او مطالعې روش څه دی؟

آیا داسې روش اصولاً شته دی، چې د بني آدم سوچ له محسوساتو د فوق عالم پورې رهنمایي کړي؟ او د ماوراء الطبیعت حقایقو په درک او پېژندنه موفق شي؟ یا داسې روش او وسیله په مطلق ډول د انسان په اختیار کې شته؟

د تجربې منطق طرفداران وایي : انسان د پېژندلو لپاره غیر له تجربې او ازمېښت بل هیڅ ډول مقیاس په اختیار کې نه لري.

او د متافزیک منطق طرفداران وایي : د (عقل قوه) د متافزیکي حقایقو په مطالعه او پېژندلو کې هغسې نقش لري، چې (تجربه او ازمېښت) یې په حسي علومو کې لري. یعنې که (تجربې روش) مادي شیزونو کې د څېړنې او مطالعې روش مشخص کړی دی، په مابعد الطبیعه فلسفه کې هم (تعقلي روش) د حقایقو د کشف وسیله ده حتی په انسان کې د دې پټې قوې په توګه نه یوازې متافزیکي پېژندنې کیدلای شي، بلکې تجربې پېژندنې هم وربانديې کیږي؛ نو کله چې په تجربي علومو کې د داسې عامل حکم او قضاوت دقبول او اعتماد وړ دی ولې په څه علت په نورو موردو کې دهغه له احکامو استفاده ونه شي او ولې اعتماد وربانديې ونه شي؟

دلته دوه ډوله ادراکات یو (تصور) او بل (تصدیق) په نظر کې دي، چې (تصور) هغه ادراک ته وایي، چې هیڅ ډول حکم د نفي یا اثبات ورسره نه وي لکه له (اور) د هر چا خبرتیا یا (کاغذ) او نور، اما (تصدیق) هغه علم او ادراک دی، چې اقلاً د دوه نسبتي تصورو په منځ کې موجود شي او حکم، تصدیق یا قضاوت وربانديې وشي لکه (اورسوځونکی دی) چې دا تصدیق د دوه نسبتي تصورو د اور او د سوزیدونکي ترمنځ برقرار شوی دی یا (دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاغذ سپین دی) چې دا عبارت حکمي او تصدیقي مفهوم لري چې د کاغذ او سپین ترمنځ واقع شوی دی نو هغه څه چې دلته یې بیانول په نظر کې دي د (تصدیق علم) پورې تړلي دي.

په منځنیو پېړیو کې اروپایي فرهنگ سخت د مسیحیت له تاثیر لاندې و، خو کله چې د بیت المقدس د استرداد لپاره په **۱۰۹۵** کې صلیبي جگړې پیل شوې او له اسلام یې معلوماتونه حاصل کړل حیران پاتې شول نو صلیبي جنگونو کې اروپایي فرهنگ د ا سلامي فرهنگ تر تاثیر لاندې راغی، د مسلمانو علماوو د اسلامي حکماوو د عربي آثارو د جمع کولو له لارې یې د مسیحیت نړۍ د اسلامي پوهانو او یوناني فلاسفه وو سره اشنا کړه له پخوانۍ مفکورې چې تعقل او تجربه یې نه منله، یو څه رانښکته شول چې لاندې یې بیان مخې ته راځي.

## ۳_ د تعقلي منطق مبادي:

د تعقلي منطق له نظره یو شمېر مفاهیم او عقلي مبادي وجود لري، چې هغه نه په تجربه او مشاهده زده کیږي او نه د برهان او استدلال له لارې حاصلیږي، بلکې د داسې مبادیو او معانیو حصول انسانانو ته د (عقل د فطرت) په مرسته کیږي ځکه ورته (بدهي اولی) وایي.

عقلي اولیه بدهیات: یو لړ اصول او تصدیقات دي، چې انسان یې په خپل عقلاني استعداد، د یقیني، حتمی او ضروري معلوماتو په صورت مومي او هغه د خپل تفکر مقیاس گرځوي او هر علم په هغه سنجوي.

که د تجربي منطق د ادعا له مخې چې وایي ټول بشري احکام او معلوماتو نه د تجربې او مشاهدې له لارې حاصل شوي دي او په نتیجه کې ټول معلومات په واسطه وي او بې واسطې معلومات د انسان عقل ته نشته په دې صورت کې هر حکم د (واسطې) صحت پورې اړه لري لکه (تجربه، مشاهده او نور) او د داسې واسطې صحت به هم یا په بداهت پورې روښانه او مسلم وي، چې په دې صورت کې به (بدیهي) بې واسطې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او يا به د دې صحت هم د بلې واسطې په صحت پورې مربوط وي چې د واسطې واسطې په برخه کې به همدارنګه مسئله تکرارېږي. بنا پر دې که ټول بشري احکامي تصديقات او معلومات واسطې سره وي هغه به ټول مشروطي معلوماتونه وي چې شرط يې موجود نه وي. په داسې صورت کې به ټول علوم او بشري معارف په دې علت چې صحت يې مسلم نه دی وران او ويجاړ او د بشري معرفت مانۍ به متزلزله او ړنګه شي. په داسې صورت کې نه ښايي، چې په هيڅ علم اوپوهې اعتماد وشي نو بايد د بشري معلوماتو ترمنځ څو اصوله موجود وي، چې د هغوې صحت نه دواسطې په وساطت بلکې د بې واسطې په صورت د عقل په نزد په بداهت روښانه او مسلم وي او د هغو درستي او صحت عقل مطمئن کړی وي.

دا ډول اصول او اوليه عقلي مبادي، چې د تجربې محصول نه دي او اصولي، کلي او ضروري دي، د محسوساتو او مادياتو چوکاټ کې يې شمول محدود نه دي، بلکې هر هغه شي کې شامليدلای شي چې له وجود نه ګټه لري يعنې د هغو علمي اصولو او قوانينو په خلاف چې د تجربې رېښې لرلو په علت يې د شمول دائره په محسوساتو او مادياتو کې محدوده وي دا ډول عقلي اصول او کليات په (مطلق وجود) کې شامل دي. مادي وي او که غير مادي او هيڅ موجودله داسې اصولو مستثنی نه دی. دا ذکر شوي عقلاني اصول او معارف او عقلاني استنتاج او استدلال د داسې اصولو په بنياد د (تعقلي منطق) اساس تشکيلوي[21].

---

[21]_ ذکر شوې مرجع.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدای پېژندنه په دین او فلسفه کې

فلسفه له دین نه راختلې ده، د فلسفې هر عنصر (فن او علم) له علم کلام، د عباداتو فن، اخلاقو علم، حقوق او نور د اجتماعي علومو تظاهر کوي او هغه برخه علوم چې د خدای په وجود پورې د مادې صورت، انرژۍ او شعور پیدا کوونکي په توگه او د خدای تعالی صفات چې د ټولو طبایعو او موجوداتو د خواصو او فعالیت د منشاء په توگه دي. طبعاً باید په فلسفه طرحه شي او د کلام علم چې په دې برخه کې بحث کوي داسې علم دی، چې د هغه په علمي ماهیت د فلسفې روحیه غلبه لري.

فلسفې د دین په لاره کې د یوې الی او وسیلې په توگه خدمت کړی. باید د دیني او اخلاقي خدمت لپاره ترې کار واخیستل شي. نو د چا چې دیني او د خدای پېژندنې ملکه ضعیفه وي فلسفه استعمالوي علوم هم په دې لاره کاروي خو د علم اثر د فلسفې په نسبت دې لاره کې کم وي له دې امله په دې لاره کې له علومو استفاده کول لکه کیمیاوي علاج او په عقیده کې له فلسفې استفاده لکه د غړي (عضو) علاج داسې دی خرنگه چې د ځان او خدای پېژندنې غریزه انساني پاکه او نظیفه ده، نه مادي او حیواني غریزه، له دې کبله په خپله ذاتاً فلسفې ته لار میندونکې شوه. نو انسان د خپلې غریزې په اساس د ځان پېژندنې لټه کې په دې عقیده شو، چې دی د یوه داسې مقتدر او بې مثله، ذات پیدا شوی څیز دی، چې د ده ذات باید ضروري او د کمال په ټولو صفاتو متصف وي. که نه داسې څیز، چې نن وي سبا نه وي، ضعیف او ناقص، مادي او مرکب وي د دې کائناتو مصدر او منشاء نه شي کیدلای، دې مفکورې دومره انکشاف او تحول کړی، چې د واجب الوجود تجرد، ابدیت او نور لا یتناهي مثالونه د بشر په معلوماتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې اضافه شوي دي او بشر توانيدلی دی، چې فلسفه تکميل او تدوين کړي، چې په اصل کې د دين يو فصل دی. که څه هم ځينې يې د دين په ضد استعمالوي.

په يونان کې د مسيح له ميلاد نژدې ۹ پېړۍ مخکې او له موسی (ع) څلور پېړۍ وروسته او له ابراهيم (ع) تقريباً شپږ پېړۍ وروسته فلسفه پېل شوې ده.[۲۲]

ابراهيم خليل الله د خدای پېژاندنې په څېړنه کې چې لمر وليد د خدای گومان يې پرې وکړ خو کله چې هغه ولوېد وويل: الله تعالی زوال نه لري او دا لمر خو زائله شو، نو له خپلې مفکورې وگرځېده. بيا يې په سپوږمۍ او ورپسې يې په ستورو د خدای گمان وکړ خو چې هغه به پرېوتل دي به له خپل گمان تېرېده او ويل به يې چې: دا چې فنا خدای گڼل يې روا نه دي څو چې په حقيقي ډول د خدای تعالی په پېژاندنه موفق شو. دا ډول چې ابراهيم خليل الله په خپل تحقيق کې خدای تعالی په صحيح ډول وپېژانده او له منحرفو لارو يې ځان بچ کړ هر چا ته ښايي چې له اشتباهاتو ځان وژغوري حقيقي خدای تعالی وپېژني او په هغه ايمانراوړي، والدين په دې برخه کې خپل اطفال بايد په سمه لاره برابر وساتي او ترې منحرف نه شي. نو هر څوک چې د خدای تعالی لټون کوي هرو مرو د خدای پېژندنې هدف ته رسېږي.

---

[۲۲]. تجلی خدا ..... / ۷۵-۷۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدای پېژندنه
# د یونان فلسفه کې

د اتوم نه تر شمسي نظامو د ټولو کائناتو نظما و د سپلین دلالت کوي چې د دې پراخه تکوني نظام چلوونکي مدبر حکیم او علیم هغه ذات دی چې د ورې نه وړه او د لویو نه لویه پدیده یې هم تر کامل او پوره نظم لاندې راوستې ده. دې برخه کې د یونان او نورو فلاسفه وو په لاندې ډول نظریات لري:

فلاسفه له محسوساتو انکار نه شي کولای ځکه چې دوی د کامل اصل ثابت او غیر متغیر، د موجوداتو له صفاتو مجرد ذات په لټون کې دي، چې د اشیاوو پیداکوونکی ورته وویل شي او د کایناتو د اصل او مصدر په توګه ومنل شي. د دوی دغه تلاش له ملحدینو سره د مبارزې په خاطر یا خدای تعالی ته د بلتېې لپاره نه و، پلکې د دوی دغه هاند د خپل عقل د ارضا او قناعت او د حقیقت څرګندولو لپاره و، دلته صرف د متالهینو نظریات په ساده ډول لنډ لنډ راوړو غرض زمونږ د انسان د خدای پېژندنې د فکر تثبیت دی. هغه انسان، چې له الهي کتاب د خدای تعالی پیغمبرانو سره اشنایي نه لري، مونږ دلته د پخواني شرق ادیان او له (اهورا مرزاد) د خیرخدای او د شر خدای (یزدان) او اهریمن او له ثنوي ادیانو صحبت نه کوو اګر چې دا هم د خدای پېژندنې لټون دی او رانبیي چې انسان په تېرو تیارو وختو کې هم د خدای پېژندنې په لټون کې و. مونږ دلته له هغه وخت پیل کوو، چې د انسان فکر له تماسو او شرقي ارتباطو وسطي آسیا او

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدیترانه کې منظم او مرتب شول د فکر نوابع او قهرمانانو پـه کې ظهـور وکړ.

دلته د یوناني فلاسفه وو څخه د ځینو نظریات په لاندې ډول راوړو.

١ـ اکرینوفانس (٥٧٠- ٤٨٠ق،م)

اکرینوفـانس د یونـان لـه لومړنیـو فلاسفه وو یـو تـن دی، چې پـه خپلـو معاصرو برتري لري. ده د یونان خرافات چې خدای یې د تجسم مفکوره کې د بشر په هویت کې افاده کاو ونه منل، د یونان د خدایانو، چې خوراک او څښاک یې کاو توالد، تناسل او مړه کېدل یې درلودل د هغـه پـه هکلـه یې وویل: خلکو په خپلـه خدایان اختـراع کـړي د هغـو تصـور د خپلـو ځانو پـه څېـر کـوي، کـه غوایـانو، اوښـانو، اسـانو او زمریـانو رسـم کـولای شـوای خدای به یې د خپلو ځانو په څېر رسم کـاو مگـر داسې نـه ده. غیـر لـه یـوه خدای بل خدای نشته هغه له ټولو موجوداتو پورته دی.

زمـونږ پـه څېـر مرکـب نـه دی او نـه زمـونږ پـه څېـر فکـر کـوي. د دغـه ذات ادراک د بشـر د عقـل پـه تـوان کـې نـه دي، یـو انسـان هـم خـدای تعـالی پـه حقیقي صورت نه شي پېژندلی که څوک یې تصادفاً په حقیقي توصـیف هـم وپېژني او هر څه یې چې ویلي وي حق او حقیقت وي بیا به هم نـه پـوهیږي، چې دی حق او حقیقت وایي. څه چې کرینوفانس ویلي دي نورو فلاسفه وو هـم هغـه تاییـد کـړي، خـو ځینـو سـاده صـحبت کـړی او ځینـو پـه مغلقـو تعبیرونو هغه مطلب افاده کړی، خو خلاصه او نتیجه یې یـوه ده، چـې هغـه د خدای تعالی په وجود باندې ایمان او اعتراف دی. په دې تـرڅ کـې داسـې کسان هم شته، چې له سمې لارې منحرف شوي په بله لاره تللي عجیب او غریـب تصـورات او خیـالات یـې وړانـدې کـړي دي. لـه هغـې جملـې یـو هـم دیموکریت دی، چې وایي[٢٣]:

---

[٢٣]ـ تجلی خداوند در افاق وانفس / ٧-٨ و قصة الایمان / ٤٢-٤٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲ـ ديموکريت :

د هر شي موجوديت د هغه شي په جوړوونکي دلالت کوي، دغه ستر کائنات هم د هغه په جوړوونکي دلالت کوي چې د کامل قدرت او زور خاوند دی. ځينې کسان چې له سمې لارې منحرف شوي عجيب تصور کوي لکه ديموکريت چې ويلي يې دي : دا جهان لا يتناهي متشابه او لا متناهيو اذلي او ابدي ذرو او اتمو څخه تشکيل شوی، چې په لايتناهي خلا او فضا کې په خپله په حرکت کې دي د هغو له امېزش او تصادم ټول جهان او موجودات جوړ شوي دي او د اشياوو په صفاتو او مميزاتو کې چې اختلاف څرګندېږي دا د هغه اختلاف نتيجه ده، چې د اشياوو د وجود په ترکيب او تاليف، کيفيت او موقعيت کې او يا د ادراک کوونکو د درک په اختلاف کې دی. د ديموکريت دليل د ذراتو د اذليت او ابديت په برخه کې دا دی، چې وايي : وجود له عدم نشي راتلی، بلکې له هستۍ څخه منځ ته راځي لکه چې هستي نه نشته کيږي، دی وايي :

که په تشه فضا يا خلا کې ذرات نه وای د نورو اشياوو وجود به ممتنع و، ده عقيده لرله، چې په جهان کې درې اولي حقيقتونه موجود دي. (ذرات، خلا، حرکت) ديموکريت داسې تصور کاوه، چې د ذراتو حرکت (د کورکورانه او بې هدفه ضرورت) نتيجه ده، چې ذرات يې د حرکت اميزش په پيدا کولو مجبور کړي دي، دا ډول له صحيح فکر منحرف شوي حتی تصور کوي، چې ارواح او الهه هم له ذرو مرکب شوي دي، چې د دغه (کور کورانه بې خبره او بې ضرورته) قوت په توګه په حرکت کې دي. دا ډول تصورات غلط او له عقل لرې دي ځکه چې که يو وران ساعت په بند دکان کې کېښودل شي که هر څومره وخت پرې تېر شي هغه ساعت به خپله جوړ نه شي او نه به کومه بيديا کې په خپله کوم تعمير جوړ شي څو چې ساعت جوړوونکی هغه ساعت او معمار هغې ميداني کې تعمير جوړ نه کړي نو څرګنده شوه چې شيان جوړول جوړوونکی لري چې هغه خدای تعاليدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیموکریت چې ویلي له عدم څه شی نه پیدا کېږي خو مونږ وینو چې خدای تعالی په ځمکه له عدم ژوند پیدا کړی دی ځکه چې د جغرافیه پوهانو په نظر د ځمکې کره له لمر رابېله شوې ده چې د لمر حرارت کې ژوند ناممکن دی نو د ځمکې پارچه کې يې هم ژوندی څیز نه و خو وروسته چې سړه شوه خدای پاک ژوند په کې پیدا کړ او حیوانات په کې منځته راغلل. دا نظر ځینې فلاسفه وو هم تائید کړی لکه اناکساغوراس.

**۳_ اناکساغوراس:**

اناکساغوراس یونانې فیلسوف په خپل وخت کې د ستر ایمان لرونکي په شان وویل: مستحیل دي چې ناپوه، کوڼ او وړوند قوت او قدرت دا ښکلی او ښایسته نظام چې په دې جهان کې ځلیږي پیدا کړی. ناپوه او ناخبره قوة غیر له خپل سرۍ او انارشی بل څه شی نه شي جوړولای نو له دې کبله څوک چې مادې ته حرکت ورکوي کاملاً عاقل، رشید، سلیم، پوه او حکیم دي. د ده له خبرو ثرګندیږي چې په خپل سلیم عقل پوه شو چې دا محکم نظام حتماً له کامل عقل صادرشوی دي، دی لومړنی فیلسوف دی، چې روحاني فلسفي دروازه يې خلاصه کړه فکر او نظر يې په حق وځرخېدل او د ارسطو دستاینې وړ وګرځید. دا رنګه پخواني پوهان د خدای پېژندنې په طرف تللي کله ښویدلي له سمې لارې او سالم فکر اوښتي او کله يې د سالم فکر کولو په لارې نښې ایښې دي. د ده مفکورې ته نورو فیلسوفانو هم رجوع کړې او هغه يې تائید کړې ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوفستايان

په دې ترڅ کې سوفستايان او د سوفزم پيروان د جدل زده کوونکي وو او د حقايقو په اړولو کې يې د کاذبو په توګه مهارت درلود تر يوې اندازې په انحراف او پرته پرته ويلو کې غرق شول نژدې وو چې د دوی کړنلاره او اساسات د عقل او معرفت مباني رنګه کړي، خو پوهانو فلاسفه وو عقيده لرله، چې حقيقت په عقل پيژندل کيږي او حس د حقيقت په ادراک کې نقش نه لري ځکه چې حواس سراسر غولوونکي دي او سوفستايانو د عقل په توګه پيژندنې نه انکار کړی يوازې احساس د پيژندلو مصدر ګڼي.

**۴ـ پروتاکوارس:**

پروتاکوارس مشهور سوفيست انسان د هر څيز مقياس وګاڼه او حس يې د پيژندلو او معرفت يوازينۍ وسيله وشمېرله، مګر دا چې خلق د جسم او عمر د اختلاف په اساس خپلو احساساتو کې يو له بله توپير لري له دې امله د حقيقت ادراک مستحيل دی او هغه څه چې يو شخص يې درک کوي د همده په نسبت صحيح دی او څه چې خطا نوميږي اصلاً وجود نه لري.

www.melitahrik.com 0777 400 116

**۵ـ جورجياس:**

جورجياس فلسفه وروستني هدف ته ورسوله د اشياوو له وجود يې بيخي انکار وکړ علم او معرفت پيژندنه او تفاهم يې د خلکو ترمنځ مستحيل وګاڼه، حال دا چې دا ډول پرته پرته ويل او باطل بافي په علمي او فلسفي بحثو کې ځای نه لري.

**۷ـ سقراط:**

سقراط معرفت او پيژندګلوي د فلسفي بنسټونه وبلل. د معرفت او ادراک قوانين يې په عقل باندې بنا کړل، دی وايي: په حواسو د معرفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنا کول معقول نه دي ځکه چې حواس د اشخاصو شرایطو حالاتو د اختلاف له کبله مختلف او متفاوت کیږي، بنا پر دې لازم دي، چې د معرفت او ادراک لپاره یو ثابت اصل ولټول شي، چې خلک په هغه کې اختلاف ونه لري او هغه عقل دی، زمونږ په معلوماتو او معارفو کې له یوې خوا جزیي ادراکات وجود لري، چې د حواسو له لارې لاس ته راغلي او له بله پلوه په هغه کې کلي او عمومي ادراکات موجود دي، چې په نړۍ کې له ذهن د باندې محسوس وجود نه لري، حسي مدرکات جزیي دي د اشخاصو او فکري محیط او د هغو د ژوند په اختلاف تفاوت او اختلاف قبلوي. اما عقلي احکام چې ټو پورې سلیم عقل وي اختلاف نه لري. د کلي عقل د ادراکاتو په توګه د هر شي لپاره حد او تعریف تهیه کیدلای شي او د حقایقو لپاره صحیح ثابت مقایسات منځ ته راوړل کیدلای شي.

۷ـ سیسرون :

سیسرون وایي سقراط فلسفه له اسمان نه ځمکې ته رابښکته کړه، هغه افاق ته کم کتل. د ده ټوله توجه نفس ته وه د اخلاقو علم یې بادوامه، حقیقي او مفید ګڼله او عقیده یې لرله، چې اخلاق د انسان ماهیت معلوموي.

سوفستایانو ویل : انساني طبیعت شهوت او هوس دی او قوانین د طبیعت د مهارولو لپاره وضع شوي دي. له دې کبله نسبي ځیزونه د احترام وړ نه ګڼل کیږي. دوی ویل : څوک چې قوم والا، مالدار او قوي عاقل او ماهر وي حق لري، چې دغه قوانین په سپکه سترګه وګوري حتی منسوخ یې کړي او د خپل طبیعت مطابق روان شي.

اما سقراط ویل : انسان عبارت له روح او عقل دی چې په حس باندې د تدبیر قوه لري، عادله قوانین له عقل صادر شوی او له انساني طبیعت سره موافق دي. په بل عبارت دغه قوانین د غیرمکتوبي قوانینو کاپي دي، چې خدای تعالی هغه د انسانانو په زړونو کې په ودیعت ایښي دي. څوک،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د عادله قوانینو احترام کوي د عقل او الهي نظام د ارشاداتو احترام کوي. داسې خلک هم شته، چې د دې قوانینو په خلاف حیلې جوړوي خو په دې نړۍ کې هغو خوندونو کې پاتې شي خو دوی به په بل جهان کې له عادلانه قصاص سره هرو مرو مخامخ شي.

## ۸_ افلاطون:

افلاطون د سقراط شاګرد د خپل استاد د معرفت تیوري تائید کړې او دا معرفت یې د (مثل) یا مثالونو په پایه درولي دي. دی عقیده لري، چې کلي معاني د حواسو په توګه نه درک کیږي. هغه یوازې عقل درک کوي د مثال په توګه ښایست او بدرنګي معاني دي، چې په ډېرو داسې څیزونو کې چې په خپلو مظاهرو کې یو بل سره مختلف دي ملاحظه کیږي. اما په کومه وسیله پوه شولو چې دا څیزونه په جمال او ښکلا کې یو بل سره اشتراک لري. زمونږ حواس دغه اشتراک نشي پیدا کولی، بلکې د هغو میندونکی زمونږ عقل دی (عقلونه دي) چې په ښکلا کې یې مشترک څیزونه یو بل سره مقابله او مقایسه کړي او د هغه ښکلا مومي او دغه مقایسه ایجابوي، چې زمونږ عقلونه د ښایست او بدرنګۍ په برخه کې د مخه سلیم او اساسي فکر ولري. داسې فکر زمونږ د عقل اختراع نه ده که نه حقایق به د سوفستایانو غوندې په شخصي او محض فردي مقیاس قیاس او اندازه کولای شوای. بناپر دې وایو چې دغه کلي معاني زمونږ د عقلو تر شا حقیقي وجود لري، افلاطون د هغه نوم (مثال) ایښی دی. زمونږ نقشونه او روحونه د مخه تر هغه چې روح په وجود کې ننوزي د مثل په عالم کې یې هستوګنه درلوده او بس له هغه چې روح زمونږ وجود کې ننوت د مثل جهان یې هېر کړ خو کله یې چې نظر په کلي معانیو لکه ښایست او بدرنګۍ ولویږي هغه وخت د هغه مثال یاد ته راولي. داشیاوو ترمنځ ښایست او بدرنګي د مقایسې او مقارنې په اساس درک کوي. د ټولو کلي معانیو ادراک لکه فطانت عدالت او خیر ... په همدې ترتیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، بنا پر دې علم د مثالونو تذکر او یادونه دی او جهل د هغه هیرول دي، او د ژوند تجربې وسیلې دي، چې عقل د هغو په توګه په هغه څه سره چې پخوا د مثال په نړۍ کې ورسره اشنا و متوجه کوي.

د افلاطون په نظر کې مثالونه مادي نه دي،بلکې مجرد معاني دي د هغو د وجود عناصر د هغو له خپله جنسه دي له کوم خارجي شیزو سره یو ځای شوي نه دي.

مثالونه د اشیاوو اساس دی او په کوم بل شیز نه دی ولاړ، بلکې نور شیزونه په هغو ولاړ دي. دغه مثالونه ثابت، ابدي ساکن او کامل دي زمان او مکان یې نه شي محدودولای...

له دغه ځایه افلاطون د خدای تعالی په وجود اعتراف کړی او هغه پیداکوونکی د جهان او د امورو مدبر ګڼي او د دې فکر او ادعا د اثبات لپاره دلایل اقامه کوي، چې له هغو ډېر مهم د نظام دلیل دی، چې وایي:

(جهان د جمال او نظام نمونه ده) په هیڅ صورت امکان نه لري، چې دغه جمال او نظام د اتفاقي علتونو نتیجه او تصادفي وي، بلکې د عاقل او کامل ذات پیدا شوی صنعت دی، چې د نیکیو اراده لري او هر شیز یې د قصد او حکمت له مخې پیدا کړی دی.

د فکري تحول او تکامل له نظره کومې ورځې نه چې انسان انسان شوی او د عقل په توګه له نورو ممتاز شوی زمونږ دا ځمکه او آسمان هیڅکله د یوه برحق خدای له مفکورې فارغ او خالي شوي نه دي او نه به خالي شي. پوهان تل د برحق خدای په لټون کې دي. ځینو یې لاره وموندله د ځینو عقل د هغه له تصور نه عاجز شو، ګمراه شول.

د دوی په څنګ کې پوهان فلاسفه بلکې ټول بشریت تصور کوي، چې دا پلنه پراخه نړۍ ناممکنه ده، چې له مطلق عدم نه موجود شي. هر پېبل په حقیقت کې د تغیر او تحول له جز نه پرته بل څه نه وي، نو لازم دي چې یوه ازلي او قدیمي ماده فرض شي، چې ټولو موجوداتو له هغه شکل اخستی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او منځ ته راغلی وي، دغه لومړنۍ ماده د ځينو په نظر اوبه، او د ځينو په نظر هوا وه. ځينې اور او ځينې خاوره معرفي کوي. ځينې دا څلور واړه د موجوداتو منشا ګڼي، ديموکريت چې اتومي مذهب ورته منسوب شوی عقيده لري، چې جهان له متشابه او متجانسو لا يتناهی اتومي ذراتو چې لا يتناهي فضا کې په حرکت دي جوړ شوی دی. د افلاطون له نظر سره مناسب دی چې ووايو : اتوم دومره وړوکی دی چې په ميکروسکوپ هم نه ښکاري، د هغه ليدو ته له (الکتران ميکروسکوپ) نه کار اخيستل کېږي. دغه وړه زره چې په غور وکتل شي داسې نظام په کې ښکاري چې تعجب ورته کېږي. د الکترونو ګرځېدل په خپل مدار او د هر عنصر د الېکترونو ټاکلې شمېر او د هغو د مدارو نظم دليل دی چې يوه پوه، حکيم او لطيف ذات جوړ کړی دی چې هغه خدای پاک دی.

## ۹_ انکسيمندر :

انکسيمندر فکر کوي، چې مخلوق هر يو د صفاتو لرونکی دی، چې د هغو په توګه له نورو موجوداتو توپير لري نو معقوله نه ده، چې هغه ټول ښيزونه د صفاتو او مميزاتو له تفاوت او اختلاف سره له داسې مصدر او اصل منځ ته راغلي وي، چې له هغوی سره د خپلو خاصو صفاتو او مميزاتو له لحاظه متفاوت دي نو له دې کبله معتقد شوی چې : د موجوداتو اصل او منشاء يې شکل او غير متناهي ماده ده.

## ۱۰_ فيثا غورث :

فيثا غورث عقيده لري، چې د دې جهان اصل او منشاء بايد داسې عام صفت لرونکی ښيز وي، چې ټولو مادي او غير مادي ښيزونو باندې شامل وي او دا خاصيت په عدد کې موجود دی ځکه د اشياوو بې رنګي، بې بويي، بې خوندي او بې حجمي تصور کېدلای شي، مګر دا ناممکنه ده، چې داسې يو ښيز ومومو، چې د شمېر قابليت ونلري. دا د تجريدي نظريه که څه هم خيالات دي خو بيا هم له مادې منزه او مجرد خدای او برحق

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای رسیدلو ته د انسان له تلاش نمایندګي کوي او د بشر تمایل خدای پېژندنې ته څرګندوي.

کله چې افلاطون غواړي توصیف کړي چې دا جهان خدای تعالی څنګه پیدا کړی عقل یې مشکل سره مخ کیږي نه توانیږي چې له نیستۍ د هستۍ تصور وکړي له دې کبله وایي: اشیا له مادې (هیولا) او صورت تشکیل شوي دي. او صورت له مادې یو ټاکلی څیز جوړوي، ځکه چې صورت د داسې مثال اثر دی، چې اشیاوو ته ټاکلی شکل ورکوي، اوس د خپل مثال صورت په لاس راوړي، چې بې وصفه او بې شکله ماده وي او چا چې د طبیعت مادې ته شکل او د هغې مثال ورکړی او هغه یې له نیستۍ پیدا کړی خدای دی. په هر صورت افلاطون د نورو پوهانو غوندې د خپلې عقلي ناتوانۍ له کبله له مطلقې نیستې د هست کولو تصور د داسې تصوراتو د تایید او تثبیت په طرف کش کړ شو.

۱۱_ ارسطو:

ارسطو ته چې د لومړي ښوونکي لقب ورکړی شوی د خدای تعالی په وجود عقیده لري خو کله چې غواړي د هغه د وجود له اسرارو معرفت حاصل کړي نو د نورو غوندې ښویدلی دی.

عقیده لري، چې: د معرفت د حاصلولو لپاره حسي ادراک لومړنی قدم دی. دویمه مرحله د تجربه او دریمه مرحله یې فکر (نظري تامل) دی، چې استنتاج او حکم ته پرې رسیږي. دا ټول فکري منطق دی، چې ارسطو د هغو قواعد او قوانین ترتیب کړی او له هغه یې علم منځ ته راوړی، چې د هغه په توګه یې د فلسفې په تاریخ کې د (اول معلم) لقب اخستی دی.

دې ستر مفکر ماده له نیستې تصور نه کړه، بلکې ماده یې قدیمي وګڼله. وې ویل: ماده کوم ټاکلی څیز نه شي کیدلای ځکه چې صورت نه لري. دی ونه توانید، چې د مادې تعریف وکړي. دومره یې وویل، چې ماده قابلیت او استعداد منل دي یعنې ارسطو د جهان پیدا کیدل د نورو الاتو په شان

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفسیر کوي، چې انسان هغه له ټاکلو ماده په ټاکلي صورت او شکل د ټاکلي غرض او هدف لپاره جوړوي.

ارسطو عقیده لري، چې هر شی د لاندې څلورو علتونو په نتیجه کې منځه ته راځي.

مادي علت : هغه ماده ده چې له هغې شی جوړیږي.

صوري علت : هغه صورت دی، چې د هغې په وسیله ماده یو معین شی جوړیږي.

فاعلي علت : هغه علت دی، چې یو څیز جوړوي شکل او صورت ورکوي.

غایي علت : هغه هدف دی، چې د هغه لپاره فاعلي حالت په ټاکلي شکل یو شی جوړ کړی دی.

د مثال په توګه په میز او چپرکټ کې مادي علت لرګی دی. صوري علت د هغو شکل دی، چې لرګي ته یې ورکړی دی او له هغه میز او چپرکټ جوړ شوی دی. فاعلي حالت یې نجار (ترکاڼ دی، چې چپرکټ یې جوړ کړی او غایي علت یې له میز او چپرکټ استفاده کول دي.

بیا ارسطو غایي، صوري او فاعلي علتونه سره خلط کړي ټول یې په یوه علت کې ځای کړي او نوم یې ورته صورت ایښی دی. ویلي یې دي : صوري علت، چې د شي ماهیت معرفي کوي په غایي علت کې نغښتی دی او له هغه سرچینه اخلي ځکه د شي غایه او هدف هغه وخت تحقق مومي، چې صورت له مادې سره یو ځای شي. هغه وخت صورت په غایي دلالت کوي صوري او غایي دواړه علتونه له فاعلي صورت موجودیږي ا و د فاعلي علت اثر په غایه او صورت کې څرګندیږي او مادي علت یې چې ماده ده (هیولا) وبلل. ارسطو له (مادې او هیولا) د هغې مادې اراده نه لري، چې مونږ یې فکر کوو ځکه چې زمونږ په نظر ماده کم له کمه جسم وزن او شکل لري اما هیولې د ارسطو په نظر مطلقاً صفت نه لري، بلکې خپل صفات له

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت حاصلوي او د مخه هغه څه شی د وصف او تعریف قابل نه وي، هیولې د ده په نظر غیر له قابلیت او استعداد بل څه نه دي ځکه وایو هغه ماده چې ارسطو يې نوم اخلي عدم او نیستي ده.

ارسطو د خدای تعالی د توحید په برخه کې مبالغه کړې ویلي يې دي خدای باید یوازې یو مخلوق ولري، چې هغه اول فعل دی، ځکه که یو خدای دوه یا درې یا زیات مخلوقات ولري وحدت يې نه پاتې کیږي. ارسطو غواړي اول علت اول سبب او هم تامه علت (کامل) د خدای په حیث وپېژني ځکه دی تصور کوي، چې دا ډول تامه علت باید یو يې هم معطل نه وي نو معلوم باید بې له زماني او حسي تصوري تاخیر او بې له اندک تعطیل او توقف د خپلې تامه علت د تعقیب پسې وي یعنې د خدای او د اول عقل ترمنځ یوه ثانیه زماني فاصله نه پېژني د ده له دې تصور د اول عقل قدم لازمیږي چې خدای بې ارادې او بې اختیاره ښیي او د طبیعت د قواوو غوندې يې د خپلو دندو په اجرا مجبور وګڼي. ارسطو نه پوهیږي، چې خدای ژوندی دی د ټولو مخلوقاتو ژوند له ده دی اراده لري د خیر او شر اختیار ده سره دی کوم ذات چې مرید او مختار نه وي د هغه توحید او تنزیه فروغ نه لري.

د ارسطو د میتافزیکي فلسفې خلاصه دا ده چې جهان له مادي صورت حرکت او محرک سره يې چې خدای دی قدیم دی د ارسطو په نظر کې خدای صوري او غایي علتونه او د دې جهان قوت دی، دی وايي: جهان د زماني په لحاظ پیل نه لري اما خدای د جهان په نسبت قدیم دی لکه مقدمه چې د نتیجې په لحاظ مخکې وي د خدای رابطه له جهان سره د علت او معلول د رابطې غوندې نه ده چې زمان په کې ذي دخل وي او رول په کې ولري، بلکې دا رابطه یوه منطقي رابطه ده: خدای جهان ته وجود ورکړی لکه چې سریزه د نتیجې د وجود باعث کیږي او د مقدمې تقدم په نتیجې باندې فکري تقدم دی نه زماني که د ارسطو ټول اقوال په فلسفه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې مطالعه کړو دې ته رسیږو چې ده په خپل عقلاني نظر او علمي وسعت غوښتل د وجود سر د عقل په وسیله پیدا کړي خو په ډېرو اوهامو، خیالاتو او بې نظمیو کې ولوېد او بې شمېره نفرتونه ترې ولیدل شول.

مثلاً د جهان او حرکت په قدم عقیده لري د (قدرت) په صفت یې توقف کړی دی. د (اراده) صفت یې نادیده پرېښی دی ځینې علوم یې دنیا ته معرفي کړي لکه منطق، بیالوژي او روانشناسی او داسې نور[۲۴].

دلته به د خدای تعالی په وجود د دلیل راوړلو لپاره د گرانو لوستونکو پام د انسان د وجود د معاینې ته واړوو او هغه کې که یوازې د زړه وظیفې ته زیر شو چې ټول بدن ته په یوه شان وینه ورکوي دا نظم او مساویانه ویش په دې دلالت کوي چې دا هغه ذات پیدا کړی چې هغه عادل دی حکیم دی او مقتدر الله جل جلاله دی.

www.melitahrik.com
0777 400 116

۲۴_ سرگذشت ایمان / **۵۲**.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدای پېژندنه د ابي کوريايانو
# او رواقيانو له نظره

## الف ـ ابي کوريان :

د ابيکوريانو او رواقيانو په وخت کې د ميتافزيکي وجود نظريه له مادي ماتې سره مخامخ شوه او د شکي نظريو د پيدا کېدلو سبب شوه ځو نوي افلاطونيان منځ ته راغلل، چې د جهان د پيدا کيدونکي خدای وجود يې تاييد کړ.

### ۱۲ـ ابي کور :

ابيکور وايي : دنيا کې الوهيت شته دليل يې دا دی چې دا دنيا د يوه پخواني فکر موضوع ده، چې ټولو انسانانو کې خوره ده او احساس يې موجود کړی دی. څرنگه چې انساني احساس صادق وي نو دا فکر هم صادق دی.

بل : مونږ سره د دايم، قديم او مسعود وجود (چې طبعاً الهي وجود دی) فکر موجود دی. له بلې خوا هر شی يو ضد لري چې د عالم په وجود کې تعادل راولي. له دې کبله بايد د فاني وجود په مقابل کې باقي او مسعود وجود موجود وي. دوی وايي مونږ بايد د الوهيت ذات د بهترينو ځيزونو مطابق چې مونږ سره وي تصور کړو او فکر وکړو، چې دی له مونږ او زمونږ له کړاو په لرې دنيا کې دی او هميشه دی. څرنگه چې د الوهيت د دنيا مسعودي له مونږ لرې ده په مونږ عنايت نه لري د ده عيشی زمونږ له اوضاع او احوال نه مکدره کيږي .... زمونږ له خيراتو او صدقو نه متاثره کيږي د الوهيت مقام ته د ده د رضا لپاره قرباني وړاندې کول د الوهيت له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقام سره منافات لري، ځکه که الهي ذات په دې عواطفو او مشاغلو مصروف شي د دې سعادت او اطمینان برهمیږي له دې کبله مونږ باید له هغه خاطر جمع اوسو، خوف او وېره له ځانه لیرې کړو.

ابیکور د جهان د پیدا کېدو په هکله د دیموکریت له نظریې پېروي کوي او عقیده لري، چې دا جهان اصل ذرې دی چې ذاتي حرکت لري او د حرکت علت یې په خپل ذات کې دی او دا علت د هغو ثقل دی. ذرات د خپل ثقل په تناسب د پاسه ښکته حرکت کوي، چې دا راښکته کیدو او سقوط په وخت کې لږ منحرف شي او یو بل باندې لګیدلی په نتیجه کې له هغو مرکب څیزونه منځ ته راغلي دي او ټوله زندګی د ذراتو له اتفاقي او تصادفي ترکیب او تالیف موجود شوې ده.

ب ـ رواقیان:

د افلاطون او ارسطو مکتب پسې د رواقیانو مکتب دی، چې د یونان د نورو مکتبو په نسبت یې زیات انتشار درلود، چې ان د یونان د باندې په روم او نورو ځایونو کې هم خپور شوی او مشهور اشخاص یې دا دي:

کانوسیرون، سنیکا مارک، اوربل د روم فاضل امپراطور او ابکتیشی، ایمانویل کانت او داسې نور متاخرین فلاسفه هم رواقي وو. دغه مدرسه هیڅکله منقرضه شوې نه ده. په څلورم هجري لسم میلادي پېړۍ کې اخوان الصفا د رواقیانو ډله وه، چې پټ یې فعالیت کاوه او د شبنامو په صورت کې یې خپل مسلک او عقیده خوروله. دا خلق طبیعي او مادي او په عین حال کې روحي او اخلاقي دي او وحدت الوجودي هم دي.

۱۲ـ جان پول سارتر:

ننني وجودیان په فرانسوي وجودي جان پول سارتر راټول شوي چې د مکتب او فکر په لحاظ رواقي او د مشرب په لحاظ ابیکوري دي، رواقي او ابیکوري که څه هم یو د بل ضد دي ځکه چې ابیکور لذت او علم خوښوونکی او تن اسا دی او رواقیان لذت ګریز او زحمتکش دي. رواقیان

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عقل قوي د حق او باطل تمیز کولو کې شکمن دي. د دوی په عقیده مونږ ته معلومات او پېژندګلوي له محسوسو موجوداتو صادرېږي او مونږ ته د حواسو په وسیله رارسیږي او کلي مدرکات او معلومات هغه افکار دي، چې زمونږ عقلونو هغه د جزیي احساساتو په نتیجه کې ورځني ژوند کې منځ ته راوړي دي په دې اساس عقل د حق او باطل د تمیز مقیاس نه شي کېدلای، نو دې نتیجې ته رسیږي، چې حقیقت د احساس او د شعور له لارې پېژندل کیږي ځکه چې حقیقي اشیاء او موجودات قوي او غیر قابل انکار احساس او شعور انسان ته پیدا کوي.

او رواقیان د جهان د پیدا ئښت په برخه کې په یو وخت کې هم خدای پالونکی او هم ملحد دي دوی وایي : د هستۍ په عالم کې غیر له مادې بل څه وجود نه لري او هر موجود له دوه عنصرو جوړ شوی یو منفعل او غیر متحرک عنصر او بل فاعل عنصر چې مادې ته حرکت او ټول شکل ورکوي دغه عنصر اور دی.

دوی وایي : خدای هماغه اول اور و په حقیقت کې غیر له خدای بل څیز چې په شکل او هیئت کې اوروي موجود نه و دا اور په حرکت کې شو یوه برخه یې په هوا بدله شوه او بله برخه یې له هوا په اوبو بدله شوه او له اوبو په خاورې بدله شوه او ټول څیزونه بېرته اور ته ورګرځي خدای د جهان نفس ارواح دی او جهان د خدای جسم دی.

دا مکتب خدای مرید او واجب الوجود ګڼي د خدای په حکمت او عنایت قایل دي.

## ۱۷_ کلیانتیس :

کلینتیس د دې رواقي مکتب پیرو د خدای د اثبات په برخه کې وایي: خویونه او طبیعتونه ایجابوي چې ځینې د ځینو نورو په نسبت غوره وي چې انسان له ټولو بهتر دی خو هغه بیا هم ناقص دی نو لازم دي چې له هغه هم کاملتر موجود وي او هغه عبارت له ذات د خدای تعالی نه دی، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاملترین دی. سربېره پر دې د طبیعت هولناک مظاهر له نیکیو او ښکلا وو سره یې او د انساني نفسي انفعالات د دې مظاهرو او ښکلاوو په برابر کې او وحي او الهام ټول د خدای او وجود دلایل دي، د رواقینو په عقیده چې وحدت الوجودیان مادیونو ته نژدې دي دنیا چې الهي صبغه لري خپلې مادې سره قدیم ده اما نظام یې حادث دی، ځکه کوم تغییرات چې په کې واردیږي د حدوث دلایل دي او دا ټول معقولیت حکمت او هدف مندي والی چې په اشیاوو کې دی مونږ د خدای په وجود معتقد کوي.

رواقیانو عقیده لرله چې اولی پیداکوونکی یو خدای دی. دې علت او مطلق موجود دی چې عقل او نفس یې په یوه وار پیدا کړی دی او نور مخلوقات یې د دې دوه مخلوقو په واسطه پیدا کړي دي، د دوی په نظر عقل او نفس د ده ابدي جوهر دی.

### ۱۸ـ شهرستاني :

شهرستاني وایي چې رواقیانو ویل : انسان باید هره ورځ مخ په اینه کې وګوري که بد یې ووینې باید بد کار ونه کړي چې دوه بده یوځای نه شي او که ښه یې ووینې باید هاند وکړي چې هغه په بدسلوک په بدۍ بدل نه کړي.

### فکراو عقیده :

دا رنګه د شرق عقاید د غربي شرق میانه او شرق نزدیک عقایدو سره ملاقي شوي بالاخره یونان ته ورسیدل او د یونان د خلکو د خاص استعداد په نتیجه کې یې فکري رنګ واخیست او په تدریج سره فکري جنبه د عقیدې په روح غالبه شوه ځو عقیده له منځه لاړه او فکر د هغې ځای ونیو.

عقیده ځانته استناد په کار لري هاند کوي چې په اتکاء د هغه استناد خپل موجودیت او وحدت وساتي او فکر د عقیدې په عکس خودسره ګڼي، پای بند نه لري. هر طرف یې چې میلان شي مانع یې په مخ کې نه وي له دې کبله وو هر فکر چې هرې خوا ته غوښتل هغې خوا ته به لاړ نو متعدد او په عین حال کې متناقض افکار منځ ته راغلل، دې مکتبو د تعارض او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تناقض د عصبیت رنګ اخستی و، هر مکتب به د خپل مکتب په حقانیت متعصبانه اصرار کاوه. حال دا چې فکري مکتب نباید دومره متعصب او متحجر وي په تېره بیا چې دا مکتبونه ټول د علومو ابجد خوانیوو یوه هم د بقا وړتیا نه لرله دې مکتبونو د اینده افکارو لپاره زمینه مساعده کړه. مقدوني حملې دغه مکتبونه له منځه یووړل او داسې افکارو ته زمینه برابره شوه چې مور یې عقیده او دایه یې ایمان او یقین وي.[۲۵]

www.melitahrik.com 0777 400 116

[۲۵]_ سرگذشت ایمان / ۷۱-۷۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدای پېژندنه
# د نويو افلاطونيانو له نظره

۲۱_ فليون (۲۰۰ق،م – ۲۵۰ق،م):

د اسکندر له يهوديانو يوه تن يونانيانو ته وښودل چې تورات کې يوه فلسفه ده، چې د دوی له فلسفو لوړه ده، له فليون د مخه د افلاطون مکتب د قبل الميلاد په دوهمه پېړۍ ځينې مترقي ښارو کې تاسيس شو، يوه پېړۍ وروسته د قبل الميلاد اوله پېړۍ کې (نوی فيثا غورث) هم د يوه اخلاقي مکتب په حيث منځ ته راغی. هم دغه وخت اکثرو مفکرينو دغه دوه نوي فکرونه سره ګډ کړي و، په عين حال کې شرقي دينونو هم په کې لار کړې وه، بيا په اولې او دوهمې ميلادي پېړۍ کې د خلکو توجه د افلاطون مکتب ته زياته واوښته په هغه يې خصوصاً په (تيماوس) يې شرحې وليکلې، کومې چې يهودو له فليون مخکې په تورات ليکلې وې، دوی تورات د روح سرګذشت باله، چې څرنګه جسم ته په لرې کېدو او نږدې کېدلو خدای تعالی ته لرې او نږدې کيږي؟ دوی د سفراول فصل کې د تکوين تاويل داسې کوي: خدای تعالی اول خالص عقل پيدا کړ، بيا يې د همدې خالص عقل په شکل ځمکې ته نږدې بل عقل (ادم ع) پيدا کړ او هغه يې په حسي (حوا) چې ضروري معاونه يې وه ملګرې کړه.

د فليون افکار چې بې ترتيبه، متناقض او ډېر اوږدوالی لري د هغو له مطالعې څرګنديږي، چې وايي لومړی اساسي څيز دا دی، چې دنيا پيدا کوونکی لري، چې له دنيا د باندې دی، هغه پيدا کوونکی په دنيا قيموميت لري، چې عقل يې نه شي درک کولی ځکه چې عقل او حواس د خدای له ادراک عاجز دي. د خدای عنايت هم په مستقيم صورت نه دی بايد واسطه يې منځ کې وي، روح هم بې واسطې خدای ته نه شي رسيدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته سرې پوهيږي، چې فلسفه څرنګه له دين راووتله او څرنګه يو څو وخته له هغه تغذيه شوه، بيا يوه موده له هغه جلا شوه خو استقلال يې پيدا نه کړ. بالاخره له منځه لاړه. اوس بيا غوارې دين سره پيوندې شي. (بې د فليون له تايدو بنه څرګنديږي)، دين هم په دې وخت کې فلسفي ته احتياج درلود ځکه چې په دې وخت کې تورات د يهودو د غير منطقي تحريفاتو له کبله د موسی عليه السلام دين تقريباً له منځه وړی وه، خو د عيسی عليه السلام په بعثت د خدای تعالی دين تازه او نوی شو، بيا د يهودو د تبليغاتو له کبله يې دومره استناد ونه کړ، فليون او نورو يهوديانو سعي کوله، چې خپل دين د عقلي دلايلو له مخې تقويه کړي.

۲۲_ افلوطين (۲۰۴-۲۷۰م):

افلوطين د مصر او د نوي افلاطوني مکتب له سترو مؤسسينو و، دی يوولس کاله د وثنی امونيوس ماکاس شاګرد وو، دی د نوي افلاطونيانو د مکتب لومړنی وثنی فيلسوف و. د افلاطون فلسفه کې د وجود لپاره څلور ارکان دي. اول رکن يې (واحد) دی، چې نه د کوم شيز صفت کيدلای شي او نه په کوم وصف موصوفيدلای شي مګر چې سلبي صفات وي. دوهم رکن يې نمونه (مثال) دی، چې ذاتي ژوند لري. دريم رکن يې د (عالم روح) دی او څلورم رکن يې (ماده) ده. افلوطين هم دا ډول ترتيب لري خو هغه يې (اقانيم اربعه) نومولي دي، چې (واحد) او پس له هغه درې نور اقنوم يعنې (عقل، نفس او ماده) دي.

نوي افلاطونيان د جهان د پيدا ابنت په برخه کې داسې نظر لري: امکان نه لري، چې دا جهان په خپله منځ ته راغلی وي،بلکې حتماً پيدا کوونکي پيدا کړي دي، چې هغه يو ازلي او ابدي په خپل ځان قايم او له روح او مادې لوړ خدای دی. خدای له هر شيز لوړ او پورته دی او ټول شيزونه يې پيدا کړي دي. دوی وايي څرنګه، چې د خدای او اشياوو ترمنځ ورته والی نشته. له دې کبله خدای بې له سلبي صفاتو په نورو صفتونو نه شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

توصیف کولای؛ خدای ماده نه ده په حرکت او سکون نه شي توصیف کیدلای هیڅ یو صفت ورته نه شو منسوبولای؛ ځکه چې بیا له مخلوق سره تشبیه کیږي او محدودیږي. حال دا چې خدای کامل ذات او غیر متناهي دی هیڅ شي ته محتاج نه دی. زمونږ عقل د هغه له درک عاجز دی. د دوی دا عقیده به تنزیه او تقدیس کې زیات اغراق لري نو په سلبي صفاتو اکتفا درسته نه ده ځکه چې دوی د علم، قدرت او ارادې صفات چې عقلاً خدای تعالی ته واجب دی خدای تعالی ته نه ثابتوي.[۲۲]

[۲۲]_ سرگذشت ایمان / ۷۱-۷۲.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدای پېژندنه
# د مسلمانانو فلاسفه وو له نظره

۲۳ـ رازي:

د یونان فلاسفه و په تېره افلاطوني نوي فلسفې په خدای باندې کلک ایمان درلود، خو بیا یې هم اوهام او خرافات پرې علاوه کړي و.

رازي وایي: د عقل موجودیت په ځینې ژوو کې چې ښه عملونه کوي د دې دلیل دی، چې پیدا کوونکی شته چې هر شی یې غوره او ښکلی پیدا کړی دی، رازي په دغه ساده دلیل اعتماد لري، چې شک ته په کې هیڅ لاره نشته.

۲۴ـ فارابي:

فارابي عقیده لري، چې علم په مطلق تصور او تصدیق سره ویشل شوی دی، نو تصور سره چې څو بل تصور موجود نه وي نه تکمیلیږي. لکه د یوه جسم تصور چې مخکې د هغه د طول، عرض او عمق له تصور نه میسریږي لیکن هر تصور دا روش نه ایجابوي، بلکې دا سلسله باید په یوه تصور منتهي شي، چې فکر هلته توقف وکړي او په هیڅ بل تصور مسبوق نه وي لکه تصور د وجود، وجوب، امکان.

فارابي موجودات دوه نوع ګڼي. ممکن الوجود او واجب الوجود، که ممکن الوجود، غیر موجود تصور شي کوم ممانعت په کې نشته ځکه چې وجود یې له علت مستغني نه دی او که ممکن الوجود موجود تصور شي هغه وخت د بل موجود په توګه واجب الوجود کیږي، او که واجب الوجود غیر موجود تصور شي دا محال دی ځکه چې واجب الوجود خپل وجود ته علت نه لري د بل موجود په توګه نه موجودیږي، بلکې په خپل ذات قایم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی او ممکنات چې یو له بله علت او معلول وي بناءً متناهي وي په بل عبارت تسلسل په کې جائز نه وي او د دور مفهوم هم په کې مورد نه لري، نو حتماً باید په واجب الوجود چې لومړنی موجود او د اشیاوو د وجود اولین سبب دی منتهي شي، او اول وجود او لومړنی سبب خدای تعالی دی.

فارابي وايي : خدای تعالی تر ټولو موجوداتو کامل دی، زمونږ علم او معرفت د ده په مورد کې په هر لحاظ باید کامل وي، خو مونږ د مادي اړخ لرلو له کبله په خپل محدود معلومات او معارف د هغه له ادراک عاجز یو.

**۲۵ـ بلخي ابن سینا :**

ابن سینا وایي حیواني ادراکات په ظاهري او باطني ویشل شوي. ظاهري پنځه حواس دي او باطني (مصوره) قوه ده، چې د حسي ادراکاتو خزینه ګڼل کیږي. بله (واهمه) قوه ده، چې د محسوساتو هغه اړخ درک کوي، چې د حواسو په توګه نه درک کیږي. د مثال په ډول پسونه داسې قوه لري، چې په هغه د دښمن عداوت درک کوي حال دا چې د لیدو حس يې په تنهايي نشي درک کولای. بله (حافظه) قوه ده او د ټولو څیزونو خزینه ده، چې په واهمه درک کیږي. بله (مفکره) قوه ده، چې امانتونه او د مصدري او حافظي یاداښتونه د هغې په تصرف کې دي. ځینې د هغو له ځینو نورو سره یوځای کوي او ځینې نورې د هغو یو له بله جدا کوي. د ابن سینا له نظره حس (خالصه معنا) درک کولای نه شي او د دې توان نه لري، چې صورت بدون له مادې او بدون له رابطو د مادې لکه کم او کیفیت، مکان او زمان ... وپیژني، یوازې انساني روح دی، چې ثابت مفاهیم د هغه له بیګانه او نااشنا ارتباطاتو لري. د داسې قوې په وسیله چې (فطري عقل) ورته وايي تصور کوي. محسوس د محسوسوالي په لحاظ معقول کیدلای نه شي او معقول په اعتبار د معقولوالي يې محسوس کیدلای نه شي. دی وايي : حس د خلق په عالم یعنې په کایناتو کې تصرف کوي او عقل د امر

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عالم کې تصرف لري او څه چې د خلق او امر له عالم پورته وي له حس او عقل دواړو مستور او پټ دي. له دې کبله د خدای تعالی د ذات پېژندلو ته لاره نشته. هغه چې د پېژندلو د معرفت وړ وي د خدای تعالی صفات دي، عقول دومره صلاحیت نه لري، چې د خدای تعالی په اعمالو او د پیدا کېدلو په اسرارو، حکمت او تدبیر، قضا او قدر یې قضاوت وکړي.

دی وایي: د خدای تعالی د وجود د اثبات دلیل د ده په مخلوقاتو کې باید ونه لټوو، بلکې لازم دي چې د لومړني موجود (واجب الوجود) دلیل له هغه څه چې موجود دي او له هغه څه چې وجود یې عقلاً جایز وي استنباط کړو ... په دې ډول د اول موجود اثبات ته غیر له فکر کولو او تامل په ده کې بل څیز ته غیر له ده احتیاج نشته. که څه هم مخلوفات د ده په وجود دلیل دی، مگر لومړنی استدلال غوره او محکم دی. دا دواړه ډوله دلیلونه د خدای تعالی په دې فرموده کې موجود دي: (سنریهم ایاتنا فی الافاق و فی انفسهم حتی یتبین لهم انه الحق، او لم یکف بربک انه علی کل شیءٍ شهید.)[27] ژر به خپل ایاتونه په مخلوقاتو او ځانو کې یې پرې ووینو څو چې د ده حقانیت ورته څرگند شي ایا رب ته دې کافي نه ده، چې د هر څه مشاهده کوونکی دی؟

۲۲_ ابن مسکویه:

ابن مسکویه وایي: د موجوداتو خالق څرگند او پټ دی. څرگند په دې دی، چې حق دی او حق واضح او روښانه وي. اما پټ په دې دی، چې زمونږ عقلونه یې د هیولایي پردو د تراکم په نسبت چې د ده او د پروردگار د ذات د حقیقت ترمنځ حائل شوي د هغه له درک ناتوانه دي. خدای پاک ټول څیزونه له نیستۍ اختراع کړل؛ ځکه چې که هغه یې له کوم موجود څیز موجود کړی وای بیا به ابداع او اختراع مفهوم نه درلود. ... ابن مسکویه

---

[27]. فصلت/ ۵۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر کوي، چې انسان تل مخ په وړاندې ځي د ذکاوت او د فکر او نظر د صحت په لحاظ د تکامل په لوري حرکت کې دی. څو اعلی افق ته ورسیږي او یو له دې دوه مقامو ترلاسه کړي کوم، چې د دایمي فکر او نظر له کبله حقایقو کې موجود دي، چې د خدای احکام او امرونه ورته روښانه شي یا بې له دې چې فکر او نظر په کار واچوو او بې له سعي او تلاش د خدای له لوري ورته واضحه شي، لومړی مقام فیلسوفانو ته او دوهم پېغمبرانو ته چې د خدای فیض او رحمت یې نصیب شوی ثابتیږي.

انسان کله د عقل او سوچ صحیح نظریه وسیله د ازلي او ابدي د کمال په صفاتو متصف یوه خدای په وجود ایمان راوړي او شریعت هم دا ډول خالص عقلي ایمان له مؤمنانو غواړي، خو بیا هم په دې تحلیل د نبوت اړتیا پرې نه پوره کیږي ځکه چې له سوچ کولو دا ډول ایمان راوړونکي ډېر کم او نادر دي نو بناء پر دې د ټولو خلقو ترمنځ د تبلیغ او دعوت لپاره نبوت او رسالت لازمي او ضروري دی.

۲۷_ ابن خلدون:

ابن خلدون وایي: محسوسات د ادراک او معرفت منبع او منشاء دي او ټول خبرې کوونکي او غیر خبرې کوونکي ژوي په دې حسي ادراک او معرفت کې شریک دي، خو انسان د هغه معرفت په وسیله چې له محسوساتو مجرد دی له نورو ژویو توپیر لري خو سره له هغې هیڅوک د امورو له مبادیو او د هغو له ترتیب خبر نه دي ځکه چې ذکر شوي مبادي داسې امور دي چې هغه خدای تعالی په فکر کولو کې ودیعت ایښی دی. ځینې هغه ځینې نور تعقیبوي او پیروي یې کوي او انسان یې د پېل او پای له پېژندلو عاجز دی او پوهان غالباً له ظاهري طبعي اسبابو مطلع دي او ابن خلدون د ذاتي څیزونو د حقایقو پېژندلو کې د عقل قوه ناتوانه ګڼي او د عقل دغه ناتوانۍ د ده په نظر عقل او معرفت ته کوم عیب نه متوجه کوي بلکې د ده په نظر عقل صحیح او سلیم مقیاس او میزان دی. احکام

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې يقيني او غير قابل انکار دي، خو داسې تصور دې ونه شي، چې وحدانيت پورې مربوط امور د اخرت ورځ، د نبوت حقايق، الهي صفات او هغه څه چې د انسان له توان وتلي دي د عقل په توګه به سنجش شي، ځکه چې داسې تصور محال د تحصيل طمع ده، عقل د وجود يوه ډېره وړه زره ده. څرنګه خدای او صفات يې په برکي نيولي شي؟

په هر تقدير ابن خلدون د هستۍ په برخه کې د (حدوث) په مشهور دليل تکيه کوي. وايي: د جهان حدوث، ذوات وي که افعال مخکيني اسباب ا و علتو ته اړتيا لري او دا ټول قبلي سببونه نوي پيدا شوي دي ځکه چې نورو سببو او علتو ته احتياج لري، په دې ترتيب اسباب پرله پسې له يوه سبب بل سبب پورې ارتباط پيدا کوي، څو چې په پای کې مسبب الاسباب يا د ټولو اسبابو پيدا کوونکی لا اله الا هو باندې منتهي شي.

۲۸_ ابن طفيل:

ابن طفيل د معرفت، وجود او په خدای تعالی د ايمان په فلسفه کې لاندې حقايق اثباتوي:

الف: - د هغو مرحلو توضيح چې عقل هغه د معرفت په لاره کې له جزيي محسوساتو تر کلي افکارو پورې په تدريجي صورت تيروي.

ب: - بشري عقل بې له تعليم او رهنمايۍ د صادقو دلائلو موجوده آثارو او د مخلوقاتو د دلايلو له مخې د خدای تعالی د معرفت او ادراک قادر دی.

ج: - عقل کله د استدلال د لارو په طی کولو کې عجز او ستومانيو سره مخامخ کيږي په تېره بيا چې غواړی مطلق ازليت مطلق عدم، غير متناهي والی، زمان، قدم او حدوث او د هغو نظائر تصور کړي.

د: - ممکنه ده، چې قدم يا حدوث عقل ته راجع وي، خو د هر يوه نتيجه د خدای تعالی د وجود د اثبات متضمنه ده.

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

هـ : - انسان د عقل په توگه کولای شي د علمي او اجتماعي اخلاقو اصول او د فضایلو اساسات وپېژني او ځان په هغه سم برابر کړي.

و : - د اسلامي شریعت اوامر او لارښوونې او د سلیم عقل معارف او مدرکات د حق، خیر او ښکلا په برخه کې یو بل سره هیڅ اختلاف نه لري.

ز : - کومه لاره چې شریعت خلقو ته وضع کړې د هغې تعقیب کې حکمت دی، دوی سره یې د دوی د عقلو په سویه صحبت کړي. دوی یې د الهي حقایقو او اسرارو په کشفولو نه دي مکلف کړي، د خلقو کامل خیر په هغه څه کې دی، چې د شریعت مدد کول پرې لازم شوي وي او تعمق په کې ترک گڼل شوی دی.

**۲۹_ امام غزالي** : [۲۸]

امام غزالي چې په حجة الاسلام ملقب دی د پخوانیو فلاسفه وو نظریات یې مطالعه کړي او په ډېر عالمانه او معقول صورت یې رد کړی دی د هغو نظریات د خدای تعالی او د انسان په برخه کې چې د فلسفي اصلي موضوع ده. په (مقاصد الفلاسفه) نومې کتاب کې په هغه ډول چې دوی ویلي په تفصیل بیان کړی. بل کتاب یې د هغو د نظریاتو په رد کې د (شهامت الفلاسفه) په نوم ولیکه او د هغو واهي او خیالي نظریات یې په کې رد کړي دي. وروسته یې د (المنقذ من الضلال) په نوم کتاب ولیکه. په هغه کې یې سمه د نجات لار ترسیم کړې، چې دلته یې صرف د خبرو نمونه په لاندې ډول رانقل کوو :

امام غزالي ارسطو او الهي فلاسفه مخاطب کړي ویلي یې دي : تاسې د خدای په وجود اعتراف کړی او ټول د کمال صفات ده ته منسوبوئ اما د دې په څنگ کې د جهان په قدم هم معتقد یئ. وایئ : جهان له ازله خدای تعالی سره یوځای و، د هغه تابع او معلول دی او د زمان له لحاظه هم هغه

---

[۲۸]. امام غزالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول چې معلول تابع د علت دی موافق دی او له هغه متاخر نه دی، بلکې خدای تعالی له جهان داسې قدیم دی لکه چې مقدمه یې پر نتیجې قدامت لري. په بل تعبیر وایي خدای له جهان له حیث د ذات او رتبې قدیم دی نه له حیث د زمان.

او تاسې وایئ ممکن نه دي، چې حادث له قدیم صادر شي او په هغه صورت کې چې د جهان صدور د زماني له لحاظه پس له خدای صورت موندلی، هغه وخت باید دغه صدور یو مرجح ولري، د دې ترجیح ایجادګر څوک دي؟ او ولې یې مخکې له دې هغه ایجاد او احداث کړي نه دي؟ او عدم ایجاد د قدیم په عجز او توانمندۍ او د حدوث استحالي ته نه راجع کیږي او نه ویل کیږي، چې پخوا غرض او هدف موجود نه وو، وروسته موجود شو. همدارنګه نه پیدا کیدښت د ارادې فقدان ته راجع کیدلای نه شي ځکه چې د قدیم ذات د ارادې حدوث محال دي.

غزالي وایي: له قدیم نه د حادث صدور د الهي فلاسفه وو په نظر لرې بریښي، ولې بې له دې چې په حادث امر اعتراف وکړي. بله چاره نه لري ځکه چې د جهان موجودات ټول حادث دي. ځانته سببونه لري او د حوادثو اتکا او اعتماد په غیر متناهي صورت په نورو حوادثو محال کار دی. هیڅ عاقل شخص هغه نه شي منلی ځکه چې تسلسل ته رسیږي، بناءً حوادث او نوي پیدا شوي څیزونه حتماً په یو طرف منتهي کیږي، چې تسلسل پرې پایان مومي او له حوادثو هاغه طرف ته خامخا قدیم دي، بناءً د حادث صدور له قدیم ځینې د فلاسفه وو د خپل قانون او قاعدې له مخې جایز دي.

فلاسفه وایي: له خدای تعالی د جهان صدور ضروري دي او غزالي د دوی د دې مفکورې په مورد کې وایي: ضروري صدور ته (فعل) نه ویل کیږي، څوک چې وایي: څراغ نور خوروي. دا خبره یې قانوني نه ده ځکه چې فاعل صرف په دې خاطر چې د ایجاد سبب شوی فاعل نه ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې فاعل هغه وخت فاعل دی، چې فعل او عمل له هغه د (ارادې او اختیار) له مخې له هغه صادر شي او له علت نه د معلول صدور هغه وخت ضروري دي، چې معلول علت سره مساوي وي. حال دا چې د خدای او د متغیر جهان ترمنځ هیڅ قسم مساوات نشته، چې جهان په ضروري صدور له هغه منځ ته راشي، قدرت او اراده د خدای تعالی له کمالیه صفاتو خورا عمده صفات دي ځکه چې اراده یو داسې صفت دی، چې د هغه په توګه یو له ضدینو بل څه شی نه تمیز کیږي، اما د قدرت نسبت ضدینو ته (ایجاد او عدم) مساوي دي، بناءً باید داسې صفت موجود وي، چې یو له ضدینو ته تخصیص ورکړي او دا صفت اراده ده، نو اراده د کمالي صفاتو له جملې ده، چې عقلاً یې اثبات خدای تعالی ته واجب دي او له عدم نه ایجاد یوازې د قدرت په واسطه منځ ته نه دی راغلی، بلکې د قدرت لپاره اراده هم ضروري ده. څو چې ایجاد ته تر عدم ترجیح او امتیاز ورکړي، نو هیڅ مستحیل نه شته، چې وویل شي : جهان د قدیمې ارادې په وسیله په موقع او فرصت کې موجود شوی دی، چې د هغه وجود یې غوښتی دی او د عدم استمرار یې تر هغه وخته دوام درلود، چې د قدیم ارادې د هغې اقتضاء درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدای پېژندنه
# د غرب د معاصرو فلاسفه وو له نظره

۳۰_ لاینبتز :

لاینبتز د وجود په برخه کې ایجاد له عدم او ایجاد کوونکی داسې نظر لري او دا عیناً د فارابي، ابن سینا ، دیکارت او جان لاک نظر دی، خو د لاینبتز ایمان ډېر قوي او بیان یې زیات ښکلی دی.

هر عقلي حقیقت، چې د هغه اثبات یا نفي د عقل له لارې کیږي، د هغه اثبات او نفي کې عقل هرو مرو په دوه مبداء وو ، عقلي، اساسي ضروري اعتماد لري، یوه د تناقض مبداء او بله د کافي علت مبداء، ځکه د هغه څه چې تصور یې کوو یا ممکن یا مستحیل یا واجب وي او هر هغه څیز چې د وقوع تصور یې عقلي تناقض منځ ته راوړي هغه څیز (مستحیل) دی او څه شی چې د وقوع تصور یې عقلي تناقض منځ ته نه راوړي هغه څیز (ممکن) دی او څه شی چې د عدم وجود تصور یې د عقلي تناقض باعث کیږي هغه څیز (واجب) دی.

همدارنګه هر واقعیت، چې مشاهده کوو د علت او معلول ضروري قانون په اساس حتماً ځانته علت لري، چې د هغه د وقوع او ایجاد سبب دي او دا علت باید د معلول د وقوع لپاره (کافي) وي، ځکه چې د وجود عدم د عقلي تناقض (کافي علت) منځ ته راولي او د دې دوه مبداؤ (د عقلي تناقض مبداء او د کافي علت مبداء) په اساس د (ممکن) معرفت او پېژندل او د (واقعیت) تحلیل مونږ ته میسر کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاینبتز د خدای د وجود او له عدم د جهان د ایجاد دفکر په برخه کې وایي:

د خدای وجود او له عدم د جهان د ایجاد د تصور مفکوره عقلي تناقض نه لازموي. که څه هم عقل له عدم نه د جهان د پیدا کېدلو تصور نه عاجز او ناتوان نه دي. پس له هغه واقعیت انتقال کوي وایي: واقعي جهان چې محسوس او موجود دی په خپله یې خپل ځان نه دی پیدا کړی ځکه چې اعتراف کول په دي چې جهان خپل ځان پخپله پیدا کړی وي تناقض لازموي، له دې کبله جهان په خپل وجود کې (کافي علت) ته اړتیا لري او بې له هغه موجودیدلای نه شي، د واقعي جهان وجود له دې کامل او متناسب نظم او نسق سره ایجابوي، چې د هغه وجود (کافي علت) کامل قدرت او حکمت ولري او په کمالیه صفاتو موصوف وي. دا کافي علت واجب الوجود خدای دی چې له هغه انکار عقلي تناقض لازموي. [۲۹]

لاینبتز چې په خوشبینۍ شهرت لري جهان په نهایي کمال کې تصور کوي، او د کافي علت د مبداء په اساس د دې جهان محکم نظم او تام جمال د پروردګار په کمال استدلال کوي او د پروردګار کمال د دې جهان د کمال او افضلیت دلیل ګڼي او وایي: دا جهان ډېر غوره جهان دی، چې عقلاً یې تصور ممکن دی. لیکن جهان ته باید په محدود وخت او زمان کې د یوې معینې حادثې په نظر ونه ګورو، چې یوازې شرارت چې په یوه حادثه کې موجود وي سترګو لاندې ونیسو او له نورو ټولو ښېګڼو او ښکلاوو یې سترګې پټې کړو، بلکې د تمام حکمت ادراک او پېژندنه یا پېژندلو لپاره لازم دي چې افاقي عام او تام نظر ولرو څو درک کړو هغه څه چې مونږ هغه ابدي شر تصور کوو د هغه وجود د خیر رسیدلو لپاره ضروري او لازمي دي.

---

[۲۹] ـ سرګذشت ایمان ...ص ۱۸۹-۱۹۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۱_ جاحظ:

جاحظ د لاینتبز له پیدا کیدلو نه پېړۍ مخکې وفات شوې وو هغه په دې مورد کې ویلي :

د دنیا له پیدا ایښت نه تر وروستي عمر پورې یې له خیر سره د شر، مضر سره د مفید، نفرت راوړونکي سره د خوشحالۍ راوړونکي او ټیټ سره د جیګ، زیاتوالي سره د کموالي په خلطیت کې مصلحت مستور دي، که جهان کې یوازې شر وای د خلکو له اوږو تکلیف سقوط کاوه د اسبابو او علتونو فکر کول له منځه تلل او د هغو په انعدام حکمت هم منعدم کیده، کله چې اختیار او انتخاب نه وي تمیز له منځه ځي، عالم او پوه د تصدیق، توقف او تعلیم قدرت له لاسه ورکوي علم او پوهه له منځه ځي. د ضرر د دفع او د منفعت د جلب د تدبیر دروازه بندیږي په مصیبت صبر ا و په نعمت شکر به نه وي. د بیان برتري او د درجې او مقام رقابت له منځه ځي، خوښي، کامیابي او د بریالیتوب افتخار نابوده کیږي، حق پرست د حق کرامت او عزت او د باطل پیرو به ذلت او باطل نشي درک کولای. هغه وخت هیلې په زړه کې مري او هغو ته د رسیدلو امید وجود نه لري ... پاک او منزه دی هغه ذات، چې د هغو منافع یې نعمت ګرځولی او د هغو اضرار یې ډېرو لویو منافعو ته راګرځولی دی...

ټولو کې کامل مصلحت دی او د هغه له یوځای کېدلو یې تمام نعمتونه پیدا کړي دي.

۳۲_ کانت :

کانت وایي : زمونږ عقلونه د خدای جل جلاله وجود ا و د هغه موجودات مني ځکه چې د الوهیت د نفي فکر عقلي تناقض منځ ته راوړي.

کانت د بحث او مناقشې په پای کې دې نتیجې ته رسیدلی دی، چې : د عقل وظیفه د حسي پدیدو په دائره کې منحصره ده. او د (حدوث) او (وجوب) دلایل د (علت) په قانون او عقلي حکم (چې غیر نهایي تسلسل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورتو په عالم کې واقعات او حوادث او ممکنات مستحيل ګڼي) ولاړ دي. دغه دلايل ايمان په شک او تردد کې اچوي... له دې امله د ده په فکر د دې دلايلو او د نظري عقل له لارې استدلال په وجود سخت دی بل عقل يې چې (عملي عقل) يې بللی اختراع کړی دی چې له هغه يې مقصد (ضمير) دی. نو ده د عملي عقل په وسيله د خدای تعالی په وجود استدلال وکړ او ويې ويل:

مونږ د خپلو نفسو په اعماقو کې قوي او غير قابل انکار شعور لرو، چې مونږ ته په خير او نيکي کولو امر کوي او له شر او بديو مو منع کوي او د ګناه کولو په موقع کې مو توبيخ او تهديدوي. دا شعور د کانت په نظر له تجربې او احساس څخه نه دی پيدا شوی ځکه چې حواس غير له ظاهري موجودو اشياؤ نور څه مونږ ته نه رانقلوي او په خارجي موجوداتو او اشياوو کې څه شی چې د ضمير ملامتي او تهديد وګڼل شي وجود نه لري. دا شعور د نظري عقل محصول هم نه دی ځکه چې د نظري عقل دنده حسي ادراک او د هغه نقلول عقلي ادراک نه دی نو دا قوي واضح او غير قابل انکار شعور له کومه ځايه راځي؟

کانت دغه شعور چې خلک ورته ضمير وايي (عملي عقل) بولي او وايي: دا شعور زمونږ د نفس او روح اخلاقي نظري قانون دی؛ ذکر شوي عقلي ادراکات مونږ ته د خلکو د خير او منفعت په لاره کې په اقدام او د مخاطرو تسخير او قربانۍ ګاللو امر کوي.

کانت په خپل استدلال کې پرمخ تللی له دې اخلاقي قانون د ارادې په ازادۍ استدلال کوي، او د ارادې آزادۍ اخروي ژوند کې د نفس د بقا دليل نيسي او د جزاء د ورځې دليل يې ګڼي او د جزاء له ورځې د عادل جزا ورکوونکي په وجود استدلال کوي. کانت په دې ترتيب لکه چې د دې ايت په مفهوم تمسک کړی وي چې فرمايلي يې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"افحسبتم انما خلقناکم عبثاً و انکم الینا لا ترجعون" ژباړه : ایا نو د تاسې پیدا کول مو چې کړي عبث یې ګڼئ او تاسې به ما ته رجوع نه کوئ؟

**۳۳ـ دیکارت :**

دیکارت د فلسفې مسیر ته تغیر ورکړی او د هغه قواعد یې تجدید کړي دي. د خالق د وجود د استدلال لاره یې داسې تعقیب کړې ده، چې د مخه تر دې په هغې لارې څوک نه وو تللي، ده وغوښتل، چې خپل نفس له جسمانیت مجرد کړي او پس له هغه د خپل نفس او روح په داخل کې د هغه له خارج حقیقت ولټوي، په همدې ترتیب دیکارت د کایناتو وجود د هغه له صانع څخه نه غواړي یعنې د تعلیل لاره نه وهي او دنیا سره د هغې د عللو او اسبابو له لارې کوم ارتباط نه نیسي تنها خپل نفس ته متوجه کیږي غواړي چې د هغې مخفي او غامض کونجونه ورته رڼا شي.

دیکارت د خدای تعالی په وجود درې دلیلونه راوړي، چې ټول نفسي او روحي دلایل دي، چې په لاندې ډول یې وړاندې کوو :

۱ـ زه چې د خپل شعور په توګه په خپل ځان کې ځینې کمبوتې وینم تل دا احساسوم، چې باید یو کامل واجب الوجود ذات موجود وي، دغه شعور هم په ما کې هغه کامل ذات غرس کړی دی، چې د کمال په ټولو صفاتو متصف دی او هغه مقدس ذات خدای تعالی دی.

۲ـ ما خپل ځان په خپله نه دی پیدا کړی، که ما دا کار کولای شوای نو ټول کمالي صفات مې خپل ځان ته ورکول، نوزه د بل ذات مخلوق یم، چې هغه ذات باید د ټولو کمالي صفاتو لرونکی وي.

۳ـ ما سره د کامل ذات په وجود شعور دی او زما دا شعور په قوت یقیني والی خپل کې له دې کم نه دی، چې : د مثلث د زاویو مجموعه له دوه قایمو سره مساوي ده، نو بنا پر دې هیڅ شک نشته چې خدای شته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چې ديکارت د خدای تعالی د وجود د اثبات او دا چې هغه تعالی د ټولو کماليه صفاتو څښتن دی له ځان نه پېل کړي وايي: زه څه شی پيدا کړی يم؟ ما خپل ځان په خپله نه دی پيدا کړی؟ که نه ټول کمالي صفات چې زه يې نه لرم ما ځان ته ورکول نو زما خدای د کاملو صفاتو والا دي، او زما وجود، د خدای تعالی په وجود او صفاتو يې روښانه دليل دی.

۳۴_ برگسن:

برگسن د مادي مکتب د پيروانو نظر (چې د موجوداتو پيدا کيدل يې د تصادف تابع گڼلی او طبعي انتخاب يې گڼي) باطل شمېرلی. ويلي يې دي: زمونږ عقل څرنگه تصديق کولای شي، چې د باصرې حس ټولو ژويو کې د تصادف له لارې او د طبعي انتخاب له مخې ايجاد او د کمال حد ته رسيدلی وي، که طبعي انتخاب په تصادف ولاړ وي، د طبعي انتخاب پيروان تصور کوي، چې ژوي له مختلفو تاثيراتو لاندې راځي لکن عين هغه څه چې يوه ژوی ته رسيږي نورو ژويو ته نه رسيږي نو مؤثره عواملو کې اختلاف حتماً وجود لري او په نتيجه کې تکوين او د باصره حس اختلاف حتمي او لازمي دي، بناء پر دې معقوله نه ده، چې د ټولو ژويو د باصرې حس تکوين او تحول د تصادف له امله په يوه شکل او صورت پای ته ورسيږي.

برگسن د زوجيت د نظام په برخه کې وايي: د ثبات لاره، چې کاملاً د ژويو له روش فرق او اختلاف لري طی کوي، دا دواړه د ژوند له لارو او روشو صرف په يوه لاره کې يو له بل سره اتفاق لري، چې هغه لاره او روش تناسل دی، څه ډول ژويو اتفاق او تصادفاً نرو الی او ښځه والی اختراع کړ؟ ثبات هم په څه ډول د هغې د تصادف او اتفاق له لارې د ژويو سير د تناسل په عمليه کې ومونډلی شو؟

نه هيڅ کله نه دغه واهي او وهمي دليل، چې طبعي انتخاب نوميږي مستحيل دی، د دې اساسي او زبر بنا اتفاق به د تناسل په عمليه کې وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحول د خارجي مؤثراتو د قوي تابع نه دی، بلکې د ژوند د قوي تابع دی، چې پیدا کوونکی یې خدای تعالی دی.

په عقل ثرګندیږي، چې ټول جهان او اجزاء حادث او نوی پیدا شوی دی. همدارنګه ټول جهان له ټولو موجوداتو سره یې له یوه صورت بل صورت ته په متداوم تغیر کې دی او هر شی چې له یوه صورت بل صورت ته په تغییر کې وي هیڅکله د اصلي ازلي او قدیم صورت لرونکی نه شي کیدلای ځکه چې که د ازلي او قدیم صورت لرونکی وای د تغییر وارد بدل به په کې مجاز نه و.

په غیر نهایي تسلسل د صورتو او اشکالو اعتراف عقلاً محال دی. بنا پر دې حتمي ده، چې په یوه حد او نقطه توقف وشي ووایو، چې دغه ثیز متغییر په پیل کې که شکل او صورت نه درلود او هغه وخت موجود هم نه و ځکه چې صورت: شکل، حجم، وزن، رنګ بوی او طعم لري او کله چې یو ثیز دغه ټول ثیزونه له لاسه ورکړي په حقیقت کې خپل وجود له لاسه ورکوي.

په دې اساس دې متغییرې نړۍ وجود نه درلود وروسته پیدا شوې ده له دې کبله حادث او نوې پیدا ده او عقل د بدیهي قانون په استناد ثرګند حکم کوي، چې هر حادث او نوپیدا حتماً د خپل حدوث د پیدا ایښت لپاره یو سبب لري او سبب جائز نه دی، چې خپله هم حادث او نوی پیدا وي، ځکه چې په هغه صورت کې بل سبب ته محتاجیږي او د غیر نهایي اسبابو تسلسل عقلاً مستحیل او ممتنع دی نو بنا پر دې د دې نړۍ صنعتګر خلاق د دې نړۍ حتماً قدیم او ازلي دی، دغه صنعتګر خدای پاک دی، چې جهان یې له مطلق عدم نه پیدا کړی دی.

د وجوب د دلیل په برخه کې فارابي، ابن سینا، دیکارت، لاک، لاینبتز او نورو صحبت کړی دی باید متذکر شو چې عقل بداهتاً حکم کوي، چې وجود له درې حالاتو خالي نه دی (امکان، استحاله او وجوب) یعنې هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څیز به یا ممکن الوجود وي یا مستحیل الوجود او یا واجب الوجود ، عقل وايي : دا نړۍ د (ممکن) له نوع ده او ممکن رجحان ورکوونکي ته اړتیا لري، چې وجود ته یې په عدم ترجیح ورکړی او هغه له امکان د فعلي وجود لوري ته راکاږي، او مجاز نه ده، چې ایجاد کوونکی هم ممکن الوجود وي، ځکه چې بیا په هغه صورت کې بل ایجاد کوونکي ته اړ کیږي او موضوع تسلسل ته (چې مستحیل العقلي ده) پرمخ ځي نو بنا پر دې د نړۍ پیدا کوونکی باید حتماً واجب الوجود وي، او جائز نه ده، چې د نړۍ پیدا کوونکی دې د (ممکن) له جنس وي ځکه چې په هغه صورت کې ممکن واجب الوجود کیږي او دا تناقض چې عقلاً مستحیل دی، داسې تصور له یوې خوا نقیضین (امکان) او (وجوب) یو ځای کوي له بلې خوا (دور) پېښوی داسې، چې سبب لپاره د مسبب او مسبب لپاره سبب علت گرځي او دور عقلاً مستحیل دی، بنا پر دې دا ممکنه نړۍ په خپل ځان قایم او واجب الوجود بنفسه پیدا کوونکي ته اړتیا لري او هغه خدای تعالی دی.

دیکارت په ساده ډول ویلي : زه موجود یم، چا زه پیدا کړی یم، ځکه چې ما خپل ځان په خپله نه دی پیدا کړی بنا پر دې زه حتماً خالق او پیدا کوونکی لرم دغه خالق چې خدای پاک دی حتماً واجب الوجود دی.

**۳۵_ پاسکال :**

پاسکال وايي : مخکې له هغه چې زه پیدا شوم که زما مور مړه شوی وای نن ورځ زما موجودیت ناممکن و ، له دې کبله زه واجب الوجود موجود نه یم، زما وجود ته د واجب الوجود وجود ضروري دی، چې زما وجود وربانديې اعتماد وکړي او دغه واجب الوجود د الله تعالی دی.

د (کافي علت) په برخه کې چې د تناقض د مبداء په اساس (لاینبتز) ورته ملتفت شوی دی ویلای شو ، چې عقل د ټولو هغو څیزونو (چې تصور کې ځائیږي) په برخه کې حکم کوي، چې هغه څیز به یا ممکن یا مستحیل یا واجب وي او دا واقعي مادي نړۍ د (ممکن) له نوع ده او هر واقعیت چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ممکن له نوع وي د خپل وجود او وقوع لپاره حتماً کافي علت ته اړتیا لري ځکه چې موجوده نړۍ په خپله خپل ځان نه دی پیدا کړی او دا تصور چې جهان (نړۍ) به خپل ځان په خپله پیدا کړی وي. عقلي تناقض منځ ته راولي او دغه کافي علت باید نهایي علم، قدرت، حکمت او ټول کمالیه صفات ولري ځکه چې غیر له هغه (کافي) نه شمېرل کیږي او دغه کافي علت چې جهان (نړۍ) یې موجوده کړې خدای تعالی دی.

د ابن رشد په نظر کې (د نظام دلیل) چې د (عنایت او اختراع دلیل) نوم یې ورباندې ایښی دی په نسبت د حدوث او وجوب د دلایلو غوره والی لري ځکه چې دغه روښونه مرکب دي. متعدد او ډېر مقدمات لري خو د نظام دلیل عنایت او اختراع چې قرآن کریم هغه منلې دوه صفتونه لري. یو دا چې یقیني دی دوم دا چې بسیط او غیر مرکب دی مقدمات یې ډېر کم دي او نتایج یې ډېر ساده او واضحه دي.

د ابن رشد له نظره د اشاعره وو د پوهانو او د پخوانیو حکماوو اختلاف (جهان د قدم او حدوث په مسئله کې تقریباً د تسمیه اختلاف ته راجع دی ځکه چې هغوی ټول اتفاق لري، چې موجودات درې ډوله دي: طرفین او د طرفینو ترمنځ واسطه، د طرفینو په تسمیه کې سره اتفاق لري او د واسطه د تسمیې په برخه کې یې ترمنځ اختلاف لیدل کیږي، یو له طرفینو داسې څیز دی، چې د بل پیدا کوونکي په وسیله له بل شي موجود شوی دی. په بل عبارت له فاعلي سبب او له مادي موجود شوې زمانه د ده د وجود په نسبت مقدمه ده او هغه عبارت له دې ټولو اجسامو دی، چې حواس یې درک کوي. لکه، اوبه، هوا، ځمکه، سماوي اجرام حیوانات نباتات او نور.

مقابل لوري ته یې بل موجود قرار لري، چې د یوه شي په وسیله له بل شي ایجاد شوی نه دی او زمانه ورباندې سبقت نه لري. دغه نوع موجود ته ټول په اتفاق قدیم وایي، او حواس د ده له ادراک عاجز دی. صرف د برهان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دلیل په وسیله پېژندل کیږي. دغه موجود خدای تعالی دی، چې فاعل او ساتونکي د ټولو موجوداتو دی. (سبحانه و تعالی قدره)

دریم ډول موجود چې د دې دوه طرفو ترمنځ واقع دی هغه موجود دی چې له کوم څیز نه دی پیدا شوی او زمانه پرې تقدم نه لري، خو د یوه بل شي له طرفه چې د ده فاعل دی موجود شوی دی دغه موجود د جهان (نړۍ) اصلي ماده ده، د دغه موجود په برخه کې د نظر اظهار ډېر واضحه دی، دغه موجود له قدیم موجود (الله ج) سره یو ډول او د شهود عالم له کایناتو سره بل ډول ورته والی لري او هغه څوک یې چې قدیم سره ورته والی ډېر قوي گڼي هغه قدیم بولي او هغه څوک یې چې شباهت (ورته والی) یې مخلوقاتو سره غالب ویني هغه یې مخلوق او نوی پیدا شوی بولي.

ابن رشد او نور فلاسفه او د مسلمانانو پوهان د جهان په حدوث اعتراف لري او هغه له اصلي او ظاهري مادي او محسوس صورت سره د خدای تعالی مخلوق بولي.

ابن رشد په (فصل القال) کتاب کې په دې دوه ایاتو تمسک کوي:

۱ـ "و هو الذی خلق السموات والارض فی ستة ایام کان عرشه علی الماء" او دی هغه څوک دی، چې اسمانونه او ځمکه یې په شپږو ورځو کې پیدا کړي عرش یې پر اوبو وو.

۲ـ "ثم الستوی الی السماء وهی دخان" بیا یې د اسمانونو قصد وکړ، چې لوگی و.

دغه مبارک ایاتونه رانبیي، چې د ځمکې او اسمانو او زمونږ د دې نړۍ له پیدا ایښت مخکې خدای تعالی د موجوداتو موارد پیدا کړی و. [۳۰]

**۳۶**ـ نیوټن:

---

[۳۰]ـ پوهاند اسد الله شینواری تالیف خدا چوپان ص **۵۹**.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګلیسي نیوټن د جاذبې قوې د قانون کاشف او د طبیعت او کیهان ستر عالم په خلاف د فرانسوي دیکارت چې له علت یې معلول ته استدلال کاو، دیکارت خپل وجود او د خدای تعالی وجود د خپلې فلسفې اساس ګرځولی. غوښتل یې، چې د مادې خواص او قوانین له دې اساس استنباط کړي. ویل یې: غوارم معلول د هغه په علت تفسیر او تعبیر کړم نه دا چې علت د هغه په معلول نیوټن دغه خپل علم قاعده د موادو په خواصو او په طبعي قوانینو بنا کړې ده او له هغو یې د خالق په وجود او د هغه د صفاتو په پېژندلو توان موندلی دی.

له نیوټن نه چې د خدای تعالی په برخه کې پوښتنه وشوه دا سې یې ویل: د خدای په وجود کې هیڅ شک مه کوئ ځکه چې یوازې ضرورت په خپل یوازي والي نه شي کولای، چې د وجود قاعده او اساس شي، ځکه چې ضرورت ړوند او بې شعوره دی هر ځای کې په یوه رنګ او یوه شکل ښکاري نو معقول نه دی، چې ضرورت د دومره متنوعو کائناتو مصدر شي او یا د دغه وجود چې اجزایې د زمان او مکان له تغییر سره دومره مرتب او منظم او متناسب دي اساس او مصدر شي. حقیقت دا دی، چې د عقل په مقتضی دا ټول شیزونه له یوه اولین با حکمته او ارادې لرونکی قدیم موجود له طرفه صادریږي. د مثال په ډول: د موجوده ستورو حرکت یوازې د عمومي جاذبې له فعل نه امکان نه لري ځکه چې دغه د جاذبې قوه چې کوم کار کوي هغه دا دی، چې ستوري د لمر خوا ته توغوي نو د دې لپاره چې دا ستوري د لمر په چاپېریال وچورلوي لازم دي چې یو الهي قدرت په کار اچول شوی وي، چې هغه خپلو مدارو ته هم متوجه کوي. هیڅ طبعي سبب نه ښکاري، چې د دې ټولو ستورو او د هغو د توابعو دوران په یوه سمت او په یوه مساوات بې له کوم تغییر چې محسوسوي متوجه کولو توان ولري او هیڅ طبعي سبب نه ښکاري، چې وتوانیږي دغو ستورو او توابعو ته یې د دغه ډېر دقیق مناسب سرعت درجې ورکړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل تناسب کې له هغو مسافو سره چې د هغوی ترمنځ موجودې دي د لمر او د هغو د حرکت له منځه دې ذکر شوې درجې ورکړي او دغو سماوي اجرامو ته په مدارونو چې يو ذات البيني مرکز لري حرکت ورکړي، نو د دې نظام د پيدا کېدلو لپاره چې دا ټول حرکات اداره کوي بايد يو پيدا کوونکی موجود وي، چې د دې سماوي اجرامو دا ټول مواد وپېژني او د موجوده مادې د کمياتو ترمنځ د رنګا رنګ اجرامو مقايسه او موازنه وکړي او هم پوه شي چې څومره جازبه قوه بايد له هغو صادر شي او هم پوه شي، چې د ستورو او د هغو د توابعو او لمر ترمنځ په څومره فاصله په کوم سرعت بايد دغه ستوري او توابع يې د خپل مرکز په چاپېريال وڅرخېږي ... دا ټول دلايل او شواهد دي په واجب الوجود چې د دې ټولو پيدا کوونکی دی او دی بينا، عليم، حکيم او قادر دی، چې ټول څيزونه په ميخانيک او هندسې علم سره برابروي.

نيوټن وايي:

څرنګه د ژويو اجسام په دې دقيق بديع صنعت جوړ شوی دی؟ د کومو مقصدو لپاره يې مختلف اجزاء ترکيب او ترتيب شوي دي؟ آيا د بينا سترګو د جوړولو امکان (بې د قوانينو او اصولو له پوهې يې) شته؟ او ايا د اوريدونکو غوږو د جوړولو امکان (بې د اواز د خواصو له معلومات) شته؟ آيا څرنګه د ژويو حرکات د هغو په اراده عملي او تجديدېږي او دا فطري الهامات له کوم ځای د ژويو په نفسو کې اچول کيږي؟ آيا دغه کائنات يې عموماً په غوره اشکالو ښکلي شوي دي د خدای تعالی په وجود (چې له جسمانيت منزه، ژوندی او حکيم او هر ځای کې موجود دی) دلالت نه کوي؟

طبعي علوم که څه هم حق نه لري چې الهي مباحثو او د ابديت منلو کې نظر څرګند کړي ځکه چې دا علوم له يوې خوا په تجربه او مشاهده کې منحصر دي او له بل طرف نه په يوه خاص ډول موجوداتو پورې ارتباط لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د موجوداتو په ظواهرو پورې تماس لري حال دا چې د ایمان مسئله له دې علومو د هیڅ یوه قضیه هم نه ده، د مثال په توګه یو بیولوجست چې د ژوندي جسم اعضا مطالعه کوي په خپل علم نه توانیږي د ژوندیو سلولو او د مړو جامدو سلولو ترمنځ د اختلاف اسباب توضیح کړي او نه توانیږي، چې د ژوند د حقیقت ماهیت تثبیت کړي ځکه چې د غړو فعالیت یو ځیز هغه قوه چې غړی د هغه په توګه فعالیت کوي بل ځیز دی چې د بیالوژي له چوکاټ وتلی دی.

که یو بیولوجسټ ووایي چې په ماده کې د ژوند د تولید توان او قدرت شته دی دغه وینا یې د علم له حدودو خارج بلکې صرف ګمان او تخمین دی.

جیولوجست حق لري چې ووایې او اثبات کړي، چې ماده د حیات خاصیت نه لري ځکه چې ده د مادې د هغې په معدني شکل تحقیق او مطالعه کړې ده.

یو شمېر معاصرو پوهانو چې اکثره یې بیولوجستان دي، چې د الوهیت د عقیدې د وجود او تفسیر له مسئلې یې انکار کړی دی. وایي: په ماده کې د ژوند خاصیت موجود دی، د بلې قوي فرض کولو ته (غیر له مادې قوې) په ځمکه کې د ژوند پیدا کولو لپاره اړتیا نشته لیکن د هغوی دغه وینا او عقیده د بیالوژي علم له نظره ډېر کم ارزښت نه لري، که دوی ښودلای شي چې کوم ځای کې له مړې مادې ژوند موجود شوی وي یا مړه ماده ژوندۍ شوې وي یا د یوې داسې حجرې په څېر (چې ژوندی انسان ترې پیدا کیږي) بله حجره جوړه کړې وي چې انسان ترې جوړ شي، چې د خپلو پلرو او نیکو د زرونو کالو خصوصیات، ممیزات او اخلاق په میراث یوسي هغه وخت به د دوی حق په جانب والي روښانه شي.

کیمیا پوهان چې دا شعي موجودیت د مادې د تفسیر او د هغې د غیر عضوي ترکیبونو لپاره کافي ګڼي باید د بیولوجستانو غوندې عمل وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې فضا ټوله اشعونه ډکه ده په کوم ډول چې هغه تحلیلوي ترکیب دې هم کړی او ودې ښیي چې څه ډول شعاع په ذره او ذره په حجره یا سلول تبدیلیږي... هغه وخت کېدلای شي چې د ایماندارانو له نظریاتو کوم نظر رد کړي.

بنا پر دې ویلای شو، چې له الهي حقیقت انکار اصلاً د علم مسئله نه ده، بلکې د عالم او پوهانو مسئله ده، یو زیات شمېر پوهان په عقل ایمان لري او د جهان د پیدایښت تفسیر د الهي ارادې په وسیله غوره او عقل او انساني ضمیر ته ډېرنږدې تفسیر ګڼي او د کیهان او د طبعي علومو عالمان او وتلي ریاضي پوهان په تېره بیا هغه چې دا دواړه ډوله علوم یې یوځای کړي دي د دې میدان قهرمانان دي.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خدای پېژندنې عقیدې اثبات

د عقیدوي قضایاوو د اثبات لپاره دوه روشونو نه استفاده شوې ده یو د فلسفي روش او بل پیغمبرانو کرامو روش!

پخوانیو فلاسفه وو د ادیانو له روشونو سره ډېره کمه اشنایي لرله او د هغه وخت ادیانو سره چې افلاطون او نورو فلاسفه وو اشنایي پیدا کړې وه هغه ثابت اسماني ادیان نه وو، بلکې د بشر د لاس جوړ شوي ادیان وو. لکه مصري، بابلي، زردشتي، برهمني او بودایي ادیان. له دې کبله که د هغه وخت فلاسفه له ادیانو سره متاثر هم و اعتماد یې په عقل و، او عقیدوي قضایاوو کې چې د خدای تعالی وجود او د هغه د صفاتو په اثبات پورې یې اړه درلوده صرف عقل به یې په کې حاکم او قاضي گرځاوه.

په منځنیو معاصرو نویو پېړیو کې چې اسماني ستر (د یهودیت، مسیحیت، او اسلام) ادیان خواره شول. بیا هم د دغو وختو فلاسفه وو د اسماني شرایعو حاکمیت ونه مانه صرف عقل ته یې پناه یووړه او له دې غافل و، چې عقل په تنهایۍ د دې کار له عهدې نه شي وتلای، دغه لاره یې د اسماني شرایعو له لارښووني لاندې طی کولای شوی ځکه چې عقیدوي قضایا اکثراً غیبي دي د بشري عقل له ساحې وتلي دي.

د اسلام یو شمېر ستر خلک له فلاسفه وو متاثر شوي دي. د هغوی عقلي موازین او مقیاسونه یې مخکې کړي له شریعت سره معارض شوي دي حتی ځینو دغه موازین او مقیاسونه په شریعت باندې هم حاکم کړي دي. په دې دلیل چې عقلي دلایل یقیني دي ځکه یې هغو ته د (کلامي او فلسفي روش) نوم ورکړی دی خو فلاسفه او متکلمینو په خپلو منځو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات اختلاف او تناقض لري او د دوی د لارې او روش تعقیب ساده او اسان کار نه دی. دوم روش د انبیاوو او رسولانو کرامو دی.

د عقل دنده په دې روش کې د خدای تعالی منل او تصدیق دی او له پرښتو، کتابو، رسولانو، د قیامت ورځ او تقدیر سره بلدتیا ده. په دې روش کې عقل، وحي بحث لاندې نیسي او هاند کوي، چې د وحي مقاصد وپېژني او ورباندې پوه شي او د وحي له دائرې ځنې نه وځي، په دې روش کې مسلمانان په پېغمبرانو متیقن کیږي له دې کبله خپل فکر ځنې نه منصرف کیږي د خدای تعالی د فرمان متابعت کوي. دې روش ته (د نبوي ایمان روش) ویلای شو ځکه چې په کتاب الله او صحیح احادیثو د رسول الله باندې د عقیدې په برخه کې استناد لري.

وحي یا اسماني علم د عقل ځلانده رڼا ده، دا علم مونږ له خدای تعالی او مونږ له خپل ځان او زمونږ د چاپېریال له نړۍ سره اشنا کوي، دا روش ټول عقلي دلایل لري او له انسان غواړي، چې په ځمکه او آسمانو کې فکر وکړي، ځکه چې عقل د داسې فکر کولو توان او امکان لري، چې له هغې لارې ایمان قوي کیږي لکه چې خدای تعالی فرمایلي دي:

"ان فی خلق السموات والارض واختلاف اللیل والنهار لآیات لاولی الباب، الذین یذکرون الله قیاماً و قعوداً و علی جنوبهم، و یتفکرون فی خلق السموات والارض، ربنا ما خلقت هذا باطلا، سبحانک فقنا عذاب النار" [۳۱]

ژباړه: د ځمکې او اسمانو په پیدا ایښت کې او د شپې او ورځې په اختلاف کې هرومرو د عقلونو خاوندانو ته دلایل دي. د عقل څښتنان هغه څوک دي، چې په ناستې او ولاړې او په څنګو خپلو خدای تعالی یادوي او د ځمکې او اسمانو په پیدا ایښت کې فکر کوي، ای زمونږ ربه! دا

---

[۳۱]_ ال عمران/ ۱۹۰-۱۹۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library


)مخلوقات یا ځمکې اسمانونه دې باطل نه دي پيدا کړي، ته پاک يې نو مونږ د دوزخ له عذاب نه وساته.

نو د خدای تعالی واجب وجود ثابت دی هر چا ته لازم دي چې په هغه ايمان ولري د اوامرو اطاعت يې وکړي او له نواهيو يې ځان وژغوري.

www.melitahrik.com
0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د توحید عقیده




ځینې وګړي خدای جل جلاله فوق العقلي او فوق العالمي بولي یعنې دومره یې منزه او مجرد ګڼي، چې د دې عالم له محیط او عقل یې د باندې بولي، دې ته غیر کتابي توحید وایي.

ځینې نور خلق خدای جل جلاله په دنیا کې منجلی او د انسان په عقل او مشاعرو کې جلوه ګر ګڼي، دې ته کتابي توحید وایي.

په کتابي خدای پېژندنه کې خصوصاً قرآن مجید کې خدای تعالی هم فوق عالم او هم په عالم کې منجلی ښولی شوی دی، یعنې په خپل ذات کې هم فوق له عقل او هم فوق له عالم دی او په خپلو صفاتو کې د عقل او عالم له محیط لرې نه دی.

او په غیر کتابي خدای پېژندنه کې خدای تعالی زښت زیات فوق له عقل او فوق له عالم ګڼل شوی دی.

کتابي خدای پېژندنه کې دغه دوه نظریې دوه څانګې او دوه شکله لري:

یو علم الکلامي شکل دی، چې دواړو نظریو (فوق العقلي او فوق العالمي) کې یې زیات تبارز کړی دی. دا وروستی د خدای پېژندنې منزه او مجرد شکل دی، بل تصوفي شکل دی، چې دغه له مخې په عقل او

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

کائناتو کې د خدای پېژندنې د تجلی نظریې زیات قوت موندلی او د محبت یوه جذابه قیافه یې غوره کړې ده.

مونږ مسلمانان عقیده لرو، چې ټول اسماني کتابونه حق دي او اسلام داسې دین دی، چې ټول انبیاء هغه د تطبیق او ترویج لپاره مبعوث شوي دي، په دې کتابو کې یوازې قرآن کریم دی، چې له تحریف بچ پاتې شوی دی. په ټولو آسماني کتابو او صحیفو کې په تېره قرآن کریم کې داسې ایاتونه موجود دي، چې د خدای تعالی تنزیه د تجرد په وروستۍ درجه چې له عقل او عالم ماوری او د بنده له توسل او توصل ماوری بلکې د هغه له تعقل او تصور ماوری دی بیانوي. د مثال په توګه وایي:

"هیڅوک د ده غوندې نشته" خو منزه او مقدس خدای چې په هر څه قادردی په خپلو بندګانو لطیف او رحیم هم دی لکه چې په قرآن کریم کې راغلي دي:

"زه خپل بنده ته د ده د غاړې له شاه رګ هم ډېر ورنژدې یم" چې لومړنی آیت د تجرید او تنزیه په لحاظ الوده بنده له خپل مقدس کبریایي حریم نه لرې مسافې ته توغوي او دویم آیت کې خدای تعالی د عاطفې له مخې ځان انسان ته د غاړې له رګو نږدې بربښوي.

په دې اساس د اسلامي کلام علم چې د خدای تعالی ذات فوق له عقل ګڼي د بنده او خدای جل جلاله ترمنځ ډېر پراخه مراتب ښیي خو د دې په څنګ کې عقیده لري، چې خدای تعالی په خپلو صفاتو کائناتو او عقل سره مستقیمې اړیکې لري او سلیمه عقیده هم همدا ده، چې په هغه کې علم او ایمان، فکر او حس، دین او فلسفه یو بل سره جمع شوې وي او د اسلامي کلام علم د الهي امورو په برخه کې ډېر غوره جامع علم دی.

صوفیان د زړه او محبت له لارې خپل محبوب معبود ته ډېره لنډه لاره لري او خدای تعالی هم چې په دوی لطف لري د دې کائناتو له مادي او معنوي هر جزء نه آینه جوړوي او په هغو کې دوی ته خپله بې ساری ښکلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښيي.

د کلام علم کې خدای تعالی له هر جسم او جوهر، مشابهت او څرنګوالي منزه دی او د تصوف په علم کې ټول اجسام او جواهر د ده د جمال آيينه دی، صوفيان هم خدای تعالی له عالم لوړ ګڼي خو دا عالم د دوی په نظر کې د خدای تعالی له تعيناتو پرته بل څيز نه دی[۳۲].

غير کتابي خدای پېژندنه هم دوه ډوله ده: يوه منطقي ده، چې منطقي سړی بې طرفه استدلال او بې د مثبت يا منفي فکر کولو يو لړ علت[۳۳] او معلول[۳۴] کې تعمق کوي. بالاخره هغه علت ته رسيږي، چې فوق علل او علة العلل وي او له هغه علت او سبب پورته نهايي څيز نه پېژني. له دې کبله هغه د عالم کون لومړنی موجود سبب او علت بولي، او هغه واجب سرمدي مجرد او منزه ګڼي، دغه فکر د عقلاني دورې او ايلو کې حتی د انسان مدني حال کې منځته راغلی او دا عقلي دين دی، چې له حس، عاطفې، جذبې او عقل نسبتاً خالي دی.

بل ډول خدای پېژندنه غير کتابي، فلسفي ده يعنې د خدايتعالی په وجود عقيده بې له دې چې په وحي او کتاب ايمان ولري، فلاسفه د خدای تعالیپه قدسيت ايمان لري او د تقديس او احترام عواطف هغه تعالی ته کوي او د منطقيانو غوندې دې برخه کې وچ، مړه او جامد نه دي مونږ به راتلونکي کې د ځينو فلاسفه وو نظريات د خدای پېژندنې په برخه کې رانقل کړو.

---

۳۲. تجلی خدا / ۳۰-۳۲.

۳۳. علت هغه څيز دی، چې بل څيز په هغه متوقف وي او د هغه له وجود بل امر وجود او د هغه له عدم د هغه امر عدم لازميږي.

۳۴. معلول د علت د عدم له اثره ممتنع کيږي د علت له رفع او عدم نه يې د معلول عدم لازميږي. په هر حال کله چې د دوه امرو ترمنځ تړون وجود ولري هغه ته چې محتاج اليه وي علت وايي او هغه بل يې چې محتاج وي معلول نوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ذکر شوي عنوان لاندې سربېره د خدای پېژاندنې له مفهوم د هغه وحدانیت هم ذکر شوی دی نو هر چا ته لازم دي چې د خدای تعالی په واجب الوجود او هم د هغه په وحدانیت ایمان ولري څو سپېڅلی مؤمن او مسلمان واوسي. ځکه چې څوک د دې جهان ثابت نظام، منظم حرکت او حوادثو ته فکر وکړي پوهېږي چې دا ټول موجودات شاهدي ورکوي چې دا ټول څیزونه د واحدې ارادې او د یوه واحد حاکم په تصرف کې دي. همدارنګه د دې جهان د اجزاوو ترمنځ دایم او محکم ارتباط شاهد دی چې دا ټول د یوه ذات، یوه مالک په تصرف کې دي، که د بل الهه په تصرف کې هم وای نو هر یوه به خپل مخلوق ته ترجیح ورکوله او مونږ به په جهان کې د تجزیې غوښتنې عملیات لیدل. هغه وخت به ژوند مشکل وای، مثلاً که د لمر خدای رڼا له مونږ منع کولای او د ونو خدای مېوې نه راکولای یا د باران خدای باران په مونږ بندولای ژوند له منځه بیول کېده. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿مَا اتَّخَذَ اللَّهُ مِنْ وَلَدٍ وَمَا كَانَ مَعَهُ مِنْ إِلَهٍ إِذاً لَذَهَبَ كُلُّ إِلَهٍ بِمَا خَلَقَ وَلَعَلَا بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ سُبْحَانَ اللَّهِ عَمَّا يَصِفُونَ﴾[35] بیا هم که (نعوذبالله) نور خدایان هم وای د جاه طلبۍ غوره والی او مستعمره کولو لپاره به یې د نړۍ پاچایانو غوندې جګړې منځ کې راتلې. کیهان به د جګړو میدان و لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿قُلْ لَوْ كَانَ مَعَهُ آلِهَةٌ كَمَا يَقُولُونَ إِذاً لَابْتَغَوْا إِلَى ذِي الْعَرْشِ سَبِيلاً ـ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوّاً كَبِيراً﴾[36] کائناتو کې له عمیق نظره هم څرګندېږي چې پیدا کوونکی یو صانع دی د مثالپه ډول د معدې خوله معدې پورې او معده په هضمي جهاز پورې او هضمي جهاز د وینې په دوران پورې او هغه تنفسي جهاز پورې او هغه په عصبي جهاز پورې او هغه په عضلاتي جهاز پورې او هغه د هډوکو او نور جسم پورې ارتباط لري نو د بدن هر جز یې له ارتباط په بل

---

[35]_ المؤمنون / ۹۱.

[36]_ النساء / ۴۲-۴۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جز پورې هيڅ ارزښت نه لري نو څرګندېږي چې د دې مخلوق هر جز يوه اراده ده چې منحيث المجموع يې انسان پيدا کړی دی خو دغه انسان ته ځمکې، خاورې، هوا، باران، سيندو، نباتاتو، لمر، وريځې، جاذبې اوبو پورې اړه لري نو د انسان وجود بې له دغو مخلوقاتو هيڅ ارزښت نه لري او د ځمکې او د هغې د مخلوقاتو ترمنځ د ارتباط له موجودوالي پوهېږو چې ټول د يوې ارادې جوړښت دی خو دغه ځمکه بې له ارتباط د لمر، سپوږمۍ او زمونږ د شمسي نظام د نورو ستورو سره کوم ارزښت نه لري، ځکه چې د حرکت نظام يې په مدار کې توازن د شمسي نظام په نورو اجزاوو پورې محکم او دقيق ارتباط لري که نه نو په کوم ستوري به يې د تصادم احتمال درلود او زمونږ شمسي نظام کهکشانو، نورو ستورو سره ارتباط لري نو دغه ارتباطونه په يوه اراده پيدا شوي دي ځکه خلل نه پکې راځي، نو د ځمکې خالق د نورو شمسي نظامو او کهکشانو هم خالق دی، که دا ارتباطونه مختل شي فساد منځته راځي. (لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللَّهُ لَفَسَدَتَا)[37] نو دا ټول نظام راښيي چې له يوه ذات صادر شوی دی او د همدغه يوه ذات د حکم تابع دي، بشري ناتوان عقل د جهان د خالق عظمت نه شي درک کولای، د هغه علم ډېر لوړ دی او د کمال په ټولو اوصافو منصف دی او له هر نقص منزه دی. (رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلاً) (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ).

---

۳۷_ اسراء / ۴۲-۴۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

۱_ قرآن مجید.
۲_ سرگذشت ایمان
۳_ تجلی خدا در افاق و انفس
۴_ محمد علی سادات، اصول و مبانی خدا شناسی استدلالی چاپ سال ۱۳۲۱ انتشارات هدی ایران.
۵_ پوهاند اسد الله شینواری، خداجویان لکچر نوټ د افغان پوهنتون.
۶_ کتاب الانصاف طبع استنبول ترکیه.
۷_ هفتاد و سه ملت به ۷۸۰ هـ کال د دکتور محمد جواد مشکور په اهتمام او تصحیح چې د پوهنتون استاد دی، لیکوال یې معلوم نه دی خو د اهل سنت او جماعت پېرو معلومېږي.
۸_ فروغي، شرح حکمت د اروپا چاپ.
۹_ فخر الدین رازي، اعتقادات فرق المسلمین.
۱۰_شیخ عطار، تذکرة الاولیاء طبع طهران.
۱۱_ تبصرة العلوم.
۱۲_ احیاء العلوم غزالی.
۱۳_ جامع الصغیر.
۱۴_ شرح مواقف.
۱۵_ فقه اکبر.
۱۶_ شرح عقاید نسفی.
۱۷_ الاربعین.
۱۸_ د امام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه وصیت.
۱۹_ قرآن کریم

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰_ فقه اکبر
۲۱_ د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه وصیت.
۲۲_ الاربعین
۲۳_ شرح عقاید نسفی
۲۴_ او ...

www.melitahrik.com 0777 400 116

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک د هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (عبدالصمد) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا ددې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې ددې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

www.melitahrik.com 0777400116

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**